د افغانستان اسلامي جمهوریت
د پوهنې وزارت
د ښوونکو د روزنې لوی ریاست

# د احاديثو مبادي



ژباړونکی:
پوهنمل عبدالرزاق وردک

۱۳۸۷

# د احادیثو مبادي

بسم الله الرحمن الرحيم

# نیولیک


| شمېره | سرلیک | مخ |
| --- | --- | --- |
| ۱ | د احادیثو مبادي | الف _ ب |
| ۲ | د احادیثو د اصولو د علم تاریخي سیر او وده | ۱ - ۳ |
| ۳ | د حدیث دعلم تعریف | ۴ - ۵ |
| ۴ | لمړني تعریفونه | ۵ - ۸ |
| ۵ | لمړی فصل، مونږ ته د رارسیدو په اعتبار، د خبر تقسیم | ۹ |
| ٦ | متواتر خبر | ۹ - ۱ |
| ۷ | آحاد خبر | ۱۲- ۱۵ |
| ۸ | عزیز خبر | ۱٦- ۱۷ |
| ۹ | غریب حدیث | ۱۷- ۲۰ |
| ۱۰ | دقوت اوضعف په لحاظ د آحاد خبر تقسیم | ۲۰- ۲۷ |
| ۱۱ | دوهم فصل، صحیح لذاته حدیث | ۲۸- ۳۰ |
| ۱۲ | حسن حدیث | ۳۰- ۳۵ |
| ۱۳ | صحیح لغیره حدیث | ۳٦ |
| ۱۴ | حسن لغیره حدیث | ۳۷ |
| ۱۵ | مقبول آحاد او محتف بالقرائن خبر او د هغه انواع | ۳۸- ۳۹ |
| ۱٦ | د اعتماد د زیاتوالي، محفوظ او شاذته د حدیث تقسیم | ۳۹- ۴۱ |
| ۱۷ | معروف او منکر خبر | ۴۱ |
| ۱۸ | تمرینونه | ۴۲ |
| ۱۹ | دریم فصل، متابع او د هغه اقسام | ۴۳- ۴۵ |

| | | |
|---|---|---|
| ۲۰ | محکم او مختلف حدیث ........................................ | ۴۵ |
| ۲۱ | د تعارض په حال کې د مقبول حدیث حکم ...................... | ۴۵- ۴۷ |
| ۲۲ | سخ په حدیث کي | |
| ۲۳ | د تیرو مطالبو په هکله عام تمرینونه .............................. | ۴۸ |
| ۲۴ | څلورم فصل، مردود خبر او د هغه د رد اسباب ................. | ۴۹ |
| ۲۵ | د راوي د سقوط اقسام .............................................. | ۴۹ |
| ۲۶ | د مردود حدیه اقسام د راوي د سقوط په لحاظ ................ | ۵۰- ۵٦ |
| ۲۷ | د تدلیس د پیژندلو وسایل .......................................... | ۵۷ |
| ۲۸ | د خفی مرسل او د اسناد د تدلیس فرق ........................ | ۵۷- ۵۸ |
| ۲۹ | پنځم فصل، د راوي د طعن اسباب ................................ | ۵۹ |
| ۳۰ | د خبر دوضع کولو اسباب .......................................... | ٦۰- ٦۱ |
| ۳۱ | د حدیث وضع کولو د پیژندلو وسیله ............................ | ٦۱- ٦۸ |
| ۳۲ | مقلوب حدیث ........................................................ | ٦۹- ۷۴ |
| ۳۳ | د راوي مجهول لوالی ............................................... | ۷۵- ۷۷ |
| ۳۴ | بدعت ................................................................. | ۷۷- ۷۸ |
| ۳۵ | د حافظې بد والی .................................................. | ۷۹ |
| ۳٦ | سوالونه او تمرینونه ............................................... | ۸۰- ۸۱ |

# د احادیثو مبادي

د ښوونکو د روزنې په برخه کې د احادیثو د اصولو د مضمون اهمیت او ضرورت:
نبوي مبارک احادیث چې د نړۍ د مسلمانانو د تقنین او قانون جوړولو په برخه کې دوهم مقام لري، د هغه مسئلو د توضیح اوتشریح په باره کې چې د اسلامي تشریع د قانون جوړولو په لمړنۍ منبع «قرآنکریم» کې پوره وضاحت نلري، ډېره ښه او مهمه وسیله بلل کیږي. چې پرته له هغه نشو کولای هغه مسئلې چې په قرآنکریم کې په اجمالي توګه ذکر شوي دي، درک کړو.
بل دا چې نبوي احادیث د اسلام د پیغمبر(ص) دژوندانه په لمړۍ، دوهمه او وروستنۍ دورې پورې تعلق لري، او د تواتر، شهرت، عزیز او غریب په شکل نقل او روایت شوي دي. دا په دې خاطر چې مسلمانان په هغه اشتباه ګانو کې واقع نشي کوم چې د اسلام دښمنانو د مختلفو مقاصدو د ترسره کولو په خاطرې د احادیثو په جعل او وضع کولو لاس پورې کاوه.
له همدې کبله د احادیثو عالمانو غوره وبلله چې لمړی، مبارک احادیث دراوی په لحاظ تقسیم کړي چې په دې توګه یې څو ډوله احادیث تقسیم بندي کړل.
په دوهمه مرحله کې یې نبوي مبارک احادیث د متن په لحاظ تقسیم کړل چې پدې توګه یې د احادیثو نور ډولونه او اقسام معرفي کړل، پدې اساس د احادیثو اصول پوهاوی سبب کیږي چې هغه احادیث چې د قبول وړ دي، له هغه نورو څخه چې مردود او د قبول وړ ندي، وپیژندل شي. تر څو په قبول شوي احادیثو باندې عمل وشي او هغه چې مردود دي، متروک او عمل پرې ونشي.

**د احادیثو د اصولو د تدریس هدفونه:**

د احادیثو د اصولو مضمون زیات هدفونه لري چې دلته یې مهم هدفونه ذکر کوو:

۱. د روایت په لحاظ د احادیثو دډولونو پیژندنه.
۲. د متن په لحاظ د نبوي احادیثو پیژندنه.

۳.  د قبول شویو او مردودو احادیثو د وسائلو پیژندنه.

۴.  د اسلامي تشریع د مهمې منبع په حیث د نبوي سنت د حجیت ثبوت.

۵.  د اسلامي شریعت د اصولو په قطار کې د نبوي احادیثو ځای او مرتبه.

**د احادیثو د اصولو محتوی:**

د احادیثو اصول، د حدیث د علم د اساساتو څخه یو مهم اساس دی، چې په هغه کې د حدیث صحت او سقم، دراوی، متن او سند په لحاظ تر بحث لاندې نیول کیږي، خلکوته د رارسیدو او وصول په خاطر له هغه څخه بحث کیږي، مقبول حدیث له مردود حدیث څخه جلا او پیژندل کیږي، د پیغمبر د احادیثو په مفاهیمو او احکامو باندې باور، د هغه قوت او ضعف ته د پاملرنې په لحاظ، تر سره کیږي له دې کبله چې حدیث د اسلامي تشریع دوهم مصدر او منبع بلل کیږي او د شرعي احکامو په ثابتولو کې دویم مقام لري، نو ښایي چې د شرعي حکم په ثابتولو کې له پوره احتیاط څخه کار واخیستل شي تر څو چې د هغه د نسبت په هکله ډاډ او اطمینان حاصل شي، د جعل او د احادیثو د وضع کولو څخه مخنیوی وشي.

# د احادیثو د اصولو د علم تاریخي سیر او وده

**مقدمه:**

د یادونې وړ ده چې د روایت او د خبرونو د نقل د علم، اساسي رکنونه، د خدای تعالی (ج) په کتاب (قرآنکریم) او نبوي سنت کې موجود دي. د مثال په توګه الله تعالی په دغه مبارک آیت کې فرمایلي دي: (يَا اَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اِنْ جَاءَكُمْ فَاسِقُ بنباءٍ فَتبينوا ((د الحجرات سورت ٦ آيت)).

ترجمه: ای مومنانو که چېرته یوفاسق تاسو ته کوم خبر راوړ، نو په هغه کې پوره ځیرنه وکړئ.

د پیغمبر^ص^ په حدیث کې داسې راغلي دي: ((نَضَّرَاللّٰهُ عَبْداً سَمِعَ مِنَّا شَيْئًا فَبَلَّغَهُ كَمَا سَمِعَهُ فَرُبَّ مُبَلّغٍ اوَعَى مِنْ سَامِعٍ ))

ترجمه: تازه دوی هغه کس چې له ما څخه یې یو څه اوریدلي وي او نورو ته یې داسې ورسوی لکه یې چې اوریدلی دی، ډیر کرته داسې کیدای شي چې خبر ورکړل شوی کس له اوریدونکي څخه ښه حافظ وي.

په پورتني مبارک آیت او حدیث کې د اخبارو د تثبیت او په هغه باندې د استناد کولو اساسي مبدأ، واضح شویی ده، د ضبط څرنګوالی، ښه پوهاوی، نورو ته په نقل او روایت کې پوره احتیاط او کامل دقت کول، ښودل شوی دی.

په پورتني مبارک آیت کې د الله تعالی او د هغه درسول دحکیم په اساس، اصحابو د حدیث د نقلولو او قبلولو په هکله دهغه د ثبوت د طریقې څخه استفاده کوله، خصوصاً په هغه صورت کې چې د حدیث د راوی په باره کې به د شک سره مخامخ کیدل. له همدې کبله د سند او د هغه د اهمیت موضوع د حدیث د قبلولو او یا نه منلو په هکله مینځ ته راغله.

د ابن سیرین څخه د صحیح مسلم په مقدمه کې نقل شوی دی چه هغه داسې ویلي دي: (( اصحابو به د سند په هکله پوښتنه نه کوله، کله چې فتنې ډیرې شوې نوهغوی

به ويل: تاسې د سند کسان معرفي کړي، کوم حديث به چې د اهل سنت څخه روايت شوی و، په هغه به يې عمل کاوه او د اهل بدعت په حديث به يې اعتماد نه کاوه. (د صحيح مسلم مقدمه)

لدې خاطره چې د خبر قبلول د هغه سند په پيژندلو پورې اړه لري، نو د جرح او تعديل علم، له رواياتو څخه بحث کول، د متصل او منقطع سند، او د هغه د علتونو پيژندل رامينځ ته شول. د ځينې رواياتو په هکله په همدې مرحله کې بحثونه پيل شول او د جرحه شويو روايتونو شمېر ډير لږ و.

وروسته له هغه نور عالمان پيدا شول، نوی علوم چې په حديث پورې يې د ضبط، تحمل، اداء، د ناسخ او منسوخ او غريب د پيژندلو پورې اړين وو، رامينځ ته شول، خو دا ټول عنوانونه د عالمانو لخوا په شفاهي توګه نقل کيدل.

د نوي پرمخ تګ په لړۍ کې د پورتنيو علومو په برخه کې رامينځ ته شو، دغه علوم هم په ليکل شوي ډول سره په بيلو، بيلو ځايونو کې د نورو علومو په څېر لکه: اصول فقه، فقه او دحديث علم د امام شافعی رحمةالله عليه ( الرسالة او (الأم ) کتابونو کې په منظم ډول رامينځ ته شول.

په څلورمه هجري پيړۍ کې چې د علومو په برخه کې پرمختيا راغله د ((احاديثو د اصولو)) او يا په بل عبارت د ((مصطلح الحديث)) پوهانو دغه علم په بيلو، بيلو کتابونو کې تأليف او نقل کړ.

لمړنی عالم چې په دغه علم کې يې په مستقل ډول کتاب تأليف کړ هغه قاضي ابو محمد الحسن بن عبدالرحمن بن خلادالرامهرمزي، دی چې په کال (۳٦۰) هجري کې وفات شوی دی. هغه خپل کتاب په ((المحدَّث الفاصل بين الراوي والواعي)) نوم ونوماوه. ځينې هغه مشهور کتابونه چې د احاديثو د اصولو په علم کې په مستقله توګه ليکل شوي دي په لاندې ډول معرفي کيږي:

۱. المحدَّث الفاصل بين الراوي والواعي. دا کتآب د قاضي ابو محمد الحسن

بن عبدالرحمن بن خلادالرامهرمزي ليکنه ده چې په ( ۳٦۰ ) هـــ کال کې وفات شوی دی. مگر په دغه کتاب کې د احاديثو د اصولو او يا په بل عبارت د مصطلح الحديث د علم ټول مباحث ندی بيان شوی.

۲. د (معرفة علوم الحديث) کتاب دی چې د ابو عبدالله محمد بن عبدالله الحاکم النيساپوري لخوا چې په کال (۴۰۵) هـــ کې وفات شوی، ليکل شوی دی. مگر منظم بحثونه نلري او په مسلکي توګه يې بحث ندی کړی.

۳. المستخرج علي معرفة علوم الحديث، کتاب دی او د ابو نعيم احمد بن عبدالله الاصفهاني چې په کال (۴۳۰) هـــ کې وفات شوی دی، تاليف دی.

۴. الکفاية فی علم الروايه، د ابوبکر احمد بن علي بن ثابت الخطيب بغدادي کتاب دی چې په کال (۴٦۳) هـــ کې وفات شوی.

۵. (الجامع لأخلاق الراوي و آداب السامع) کتاب چې دا هم د خطيب بغدادي تأليف دی. په دغه کتاب کې د روايت د آدابو څخه، څرنګه چې د نامه نه يې معلوميږي بحث شوی، دغه کتاب د محتوياتو او مباحثو په لحاظ يوازنی کتاب دی، بغدادي داسې شخص دی چې داحاديثو په ټولو علومو کې زيات اهميت لرونکی تأليفات لري.

٦. الالماع الی معرفة اصول الرواية وتقييد السماع. دا کتاب د قاضي عياض ابن موسی اليحصبي چې په کال ( ۵۴۴ ) هـــ کې وفات شوی، ليکنه ده.

په دغه کتاب کې د مصطلح الحديث د علم، ټولې برخې ندی څيړل شويی خو هغه مطلبونه چې د تحمل او اداء په برخه پورې اړين دي په ډيره ښه او منظمه توګه پکې ترتيب او تنظيم شوی دی.

په دغه علم کې ډير نور کتابونه د اسلامي پوهانو لخوا ليکل شوي دي او د هغه ټولو يادونه په دې درسي کتاب کې ضروري نده لدې کبله له يادونې څخه يې صرف نظر وشو.

# د حدیث علم تعریف

د حدیث عالمانو او پوهانو، د حدیث علم په دوه قسمه تقسیم کړي:

۱. د حدیث علم د روایت په لحاظ.

۲. د حدیث علم د درایت په لحاظ.

لمړی: د روایت په لحاظ د حدیث د علم تعریف: د روایت په اعتبار د حدیث علم هغه علم دی، چې د هغه په واسطه د حضرت رسول ص قولونه، فعلونه او تقریرونه د معنی په لحاظ پیژندل کیږي.

د هغه فایده او هدف: د حدیث د علم فایده او هدف د شرعي حکمونو پیژندل او په هغه باندې پوهاوی دی. تر څو چې د دارینو سعادت یې په برخه شي.

دویم: ددرایت په اعتبار دحدیث دعلم عبارت له هغه علم څخه دی چې د هغه د اصولو او قواعدو په ذریعه دحدیث دسند او متن حالتونه دقبول او یا د رد له پلوه پیژندل کیږي.

دحدیث د علم موضوع: د حدیث د علم موضوع عبارت ده له راوي او مروي څخه او یا په بل عبارت د حدیث د علم موضوع سند او متن دی د قبول او یا د رد له جهت څخه.

فایده او هدف: د دې علم فایده او هدف، د صحیح، ضعیف او ناسمو حدیثونو پیژندنه او د هغوی په مینځ کې فرق کول دي.

د دې دواړو علمونو تر مینځ توپیر: د حدیث علم د روایت په لحاظ، د حدیث د الفاظو معناګانې، په هغو باندې پوهاوی او هغه شرعي حکمونه تر بحث لاندې نیسي کوم چې د حدیث څخه استنباط کیږي.

مګر د حدیث علم د درایت په لحاظ د راوي او مروي د احوالوڅخه بحث کوي تر څو چې صحیح حدیث د غیر صحیح حدیث څخه وپیژندل شي.

د حدیث علم د درایت په لحاظ په دغه نومونو، نومول شوی دی.

د حدیث د اصولو علم، د مصطلح الحدیث علم او د علوم الحدیث علم.

د دې علم بنسټ ایښودونکی: د دې علم بنسټ ایښودونکی قاضي ابو محمد الحسن بن عبدالرحمن دی چې په رامهرمزي باندې مشهور او په کال ( ۳٦۰ ) هـــ کې وفات شوی دی. کتاب یې د المحدَّث الفاصل بین الراوي والواعي په نوم سمي دی چې مخ کې هم له هغه نه یادونه وشوه.

## لمړني تعریفونه

۱. **د مصطلح الحدیث علم**: د اصولو او قواعدو لرونکی علم دی چې د هغه په ذریعه سره د حدیث د سند او متن حالتونه پیژندل کیږي، چې د دې حالتونو په بنسټ حدیث د قبول او یا د رد وړ ګرځي.

۲. **د دې علم موضوع**: د حدیث سند او متن د قبول او یا رد له حیثه د دې علم موضوع بلل کیږي.

۳. **د دې علم فایده**: د صحیح حدیث پیژدنه او توپیریې له غیر صحیح او سقیم حدیث څخه ده.

۴. **حدیث**:

الف: حدیث په لغت کې د نوي شي په معنی دی چې جمعه یې احادیث راځي.

ب: حدیث په اصطلاح کې عبارت دی له هغه قول، فعل، تقریر او صفت څخه چې نسبت یې نبي کریم صلي علیه و سلم ته شوی وي.

۵. **خبر**:

الف: خبر په لغت کې د ( نبأ ) معنی لري چې جمعه یې اخبار ده.

ب: د خبر په اصطلاحي معنی کې درې قوله ذکر شوي دي:

۱. خبر په اصطلاح کې مرادف د حدیث دی یعنې خبر او حدیث دواړه یوه معنی لري.
۲. خبر په اصطلاح کې مغایر دحدیث دی: حدیث هغه دی چې د نبي کریم صلي علیه وسلم نه نقل شوی وي، او خبر هغه دی چی غیر د نبي کریم صلي علیه و سلم نه نقل شوی وي.
۳. خبر د حدیث څخه عام دی. یعنې حدیث هغه دی چې د نبي کریم صلي علیه و سلم نه نقل شوی وي، او خبر هغه دی چې د نبي کریم صلي علیه و سلم او یا د بل کس نه نقل شوی وي.

٦. أثر:

الف: اثر په لغت کې د یو شی نه پاتې شي ته وایي.

ب: د اثر په اصطلاحي معنی کې دوه قوله دي.

۱. اثر د حدیث مرادف دی. یعنې اثر او حدیث دواړه یو مفهوم لري.
۲. اثر د حدیث سره مغایرت لري، او عبارت دی له هغه قولونو او فعلونو څخه چې نسبت یې صحابي او یا تابعي ته شوی وي.

۷. اسناد دوې معناګانې لري:

الف: د حدیث نسبت ورکول دی هغه چا ته چې ویلي یې دي سره له سنده.

ب: د راویانو لړۍ ده چې متن ته رسیږي. د دې مفهوم په اساس اسناد، د حدیث د سند سره مرادف ګرځي.

۸. سند:

الف: سند په لغت کې د معتمد په معنی دی، ځکه چې حدیث په هغه باندې، اعتماد کوي او پرې ولاړ دی.

ب: سند په اصطلاح کې د راویانو سلسله او لړۍ ده چې متن ته وصل کیږي.

۹. متن:

الف: متن په لغت کې سختې او جګې ځمکې ته ویل کیږي.

ب: په اصطلاح کې د متن معنی عبارت ده له هغه کلام او خبرې څخه چې هغه ته سند وصل کیږي.

۱۰. مسند ( د نون په فتح سره )

الف: مسند په لغت کې د اسم مفعول صیغه ده، د ( اَسْنَدَ الشئ الیه ) څخه اخیستل شوی دی، یعنې هغه ته یو شی منسوب شوی دی.

ب: مسند په اصطلاح کې درې معناګانې لري.

۱. هر هغه کتاب دی چې د یوه صحابي ټول مرویات په هغه کی په مستقل ډول راجمع شوی وي.

۲. هغه حدیث ته وایي چې مرفوع او سندیې متصل وي.

۳. مسند د سند په معنی دی، پدې توګه د مسند کلمه، میمي مصدر بلل کیږي.

۱۱. مسند ( د نون په کسره سره ):

هغه چا ته ویل کیږي چې حدیث یې په سند سره نقل کړئ وي، په هغه باندې علم ولري او یا علم ور باندې ونلري، خو یوازې روایت یې کړئ وي.

۱۲. محدِّث:

محدث هغه څوک دی چې د حدیث په علم باندې د روایت او درایت له پلوه مشغولتیا ولري، او په زیاتو روایتونو او د راویانو په حالاتو، علم ولري.

۱۳. حافظ:

د حافظ د معنی په هکله دوه قوله موجود دي:

الف: د زیاتو محدیثونو له نظره د حافظ کلمه د محدث د کلمې سره مرادفه کلمه ده چې دواړه یې یوه معنی لري.

ب: ویل کیږي چې د حافظ درجه د محدث له درجې څخه زیاته او لوړه ده.

**۱۴. حاکم:**

حاکم هغه څوک دی چې په ټولو احادیثو باندې علم ولري، مګر یو کم شمېر احادیث ورڅخه فوت شوي وي.

**۱۵. قدسي حدیث:**

هغه حدیث دی چې رسول الله صلی الله علیه و سلم په خپله د الله تعالی څخه روایت کړی وي.

**۱۶. قرآنکریم:**

هغه وحی ده چې د الله تعالی لخوا په محمد صلی الله علیه و سلم باندې د جبرائیل په واسطه نازل شوی دی.

# لمړی فصل

# مونږ ته د رارسیدو په اعتبار

# د خبر تقسیم

مونږ ته د رارسیدو په اعتبار، خبر په دوه ډوله دی:

۱. که چیرته د خبر د وصول طریقې په یوه معین عدد پورې محصورې نه وي هغه ته متواتر خبر ویل کیږي.

۲. که د خبر د وصول او رارسیدو طریقې په یوه معین عدد پورې منحصرې وي، هغه ته آحاد خبر او یا خبر آحاد ویل کیږي.

متواتر او آحاد خبر، دواړه مختلف اقسام او تفصیل لري چې په وروستیو بحثونو کې به بحث ورڅخه وشي.

## متواتر خبر

۱. **تعریف:**

**الف:** متواتر په لغت کې د اسم فاعل صیغه ده او د تواتر څخه چې د تتابع ( یو پر بل پسې ) په معنی دی، اخیستل شوی دی لکه چې په عربي ژبه کې ویل کیږي: ( تواتر المطر ) یعنې باران پی در پی وریږي.

**ب:** متواتر په اصطلاح کې هغه خبر دی چې زیاتو راویانو یې روایت کړی وي په داسې توګه چې په درواغو باندې د هغوی یو ځای کیدل د عادت له مخې محال وي.

د تعریف شرحه: یعنې هغه حدیث او یا هغه خبر دی چې د سند په هره طبقه کې یې زیاتو روایانو ګډون کړئ وي، داسې چې په درواغو باندې د هغوی یو ځای کیدل د عقل او عادت له نظره محال او نا شونی وي.

۲. د متواتر حدیث شروط:

د متواتر حدیث د تعریف او شرحې څخه داسې معلومیږي چې تواتر پرته له څلورو راتلونکو شرطونو څخه تحقق نه مومي.

الف: متواتر حدیث باید د زیاتو روایانو په ذریعه روایت شوی وي چې د روایانو. شمېر یې کم تر کمه د لسو کسانو څخه کم نوي.

ب: د روایانو زیاتوالی باید د سند په ټولو طبقو کې موجود وي.

ج: د روایانو یو ځای کیدل په درواغو باندې د عادت په لحاظ محال وي.

د: د دوی د خبر استناد باید په حس باندې وي لکه اوریدل، لیدل، او یا لمس کول. که د دوی د خبر استناد په عقل باندې وي لکه چې وویل شـــي ( العالم حادث ) یعنې عالم حادث دی، په دغه صورت کې داسې خبر متواتر نه بلل کیږي.

۳. د متواتر حدیث حکم:

متواتر حدیث یقین او ضروري علم او باور ثابتوي، ضروري علم هغه دی چې شخص په یقین او باور کولو باندې مجبور کړي، ګوندې چې انسان په خپله داسې کار لیدلی او مشاهده کړی وي. په تصدیق او باور کې یې تردد موجود نه وي، متواتر حدیث همداسې یقین ثابتوي. لدې کبله متواتر احادیث ټول مقبول دي. د راویانو د حالاتو بحث او څېړنی ته یې هیڅ اړتیا نشته.

۴. د متواتر حدیث اقسام:

متواتر حدیث په دوه ډوله دي چې یو یې لفظي متواتر او بل یې معنوي متواتر دی.

الف: لفظي متواتر هغه حديث ته ويل کيږي چې د هغه لفظ او معنی دواړه د تواتر په طريقه روايت شوی وی. د لفظي متواتر حـــديث مثال:
پيغمبر صلی الله عليه و سلم فرمايلی دي:
من كذَّب عليَّ متعمداً فليتبوأ مقعده من النار.
ترجمه: څوک چې په ما باندې دروا غ وو ايي، خپل ځای ناستی دې له اور څخه تيار کړي.
ب: معنوی متواتر حديث:
دا هغه حديث دی چې يوازې معنی يې د تواتر په طريقه، روايت شوی وي او لفظ يې په تواتر نوی رسيدلی. لکه په دعا کې د رفع اليدين حديث. پدغه مورد که تقريباَ سل حديثونه د نبي کريم صلی الله عليه و سلم څخه روايت شوي چې رسول کريم ص به خپل لاسونه د دعا په وخت کې پورته کول مګر ياد شوي احاديث په مختلفو قضيو کې وارد شوي چې په دغه احاديثو کې هره قضيه تواتر ته رسيدلې ده او مشترک حديې د دعا په وخت د لاسونو پورته کول دي چې د راويانو په ټولو طريقو کې د تواتر حد ته رسيدلي دي.

۵. د متواترو احاديثو شتون:

يو شمېر متواتر احاديث لکه د ( الحوض حديث، په موزو باندې د مسحه کولو حديث، په لمانځه کې د رفع اليدين حديث، د نضَّرالله اِمرأ حديث او داسې نور متواتر حديثونه، موجود دي، مګر که د متواترو احاديثو شمېره د هغو احاديثو سره پرتله شي چې د آحاد په طريقه روايت شوي دي، د متواترو احاديثو شمېر له نورو څخه ډير کم دی.

٦. د متواترو احاديثو مشهور کتابونه:

يو شمېر پوهانو متواتر احاديث په مستقلو تأليفاتو کې جمعه کړي دي ترڅو چې د ضرورت په وخت کې په آسانئ سره له هغو څخه استفاده وشي. له هغې جملې څخه د ( الازهارالمتناثرة فی الاخبار المتواترة ) کتاب دی چې

علامه سيوطي تأليف کړی دی. بل ( نظم المتناثرة من الحديث المتواترة ) کتاب چې محمد بن جعفر الکتاني ليکلی دی.

## آحاد خبر

۱. **د آحاد خبر تعريف:**

**الف:** آحاد په لغت کې د احد جمعه ده، د واحد په معنی دی. واحد خبر هغه خبر دی چې د يوه شخص په ذريعه روايت شوی وي.

**ب:** واحد خبر په اصطلاح کې هغه خبر ته وايي چې په هغه کې د متواتر حديث شرطونه موجود نه وي.

۲. **د واحد او يا د آحاد خبر حکم:**

آحاد خبر نظري علم افاده کوي. يعنې هغه علم چې په استدلال او نظر پورې متوقف دی.

۳. **د آحاد خبر اقسام، د هغه د طريقو د شمېر په لحاظ:**

آحاد خبر د هغه د طريقو د شمېر په لحاظ په درې ډوله ويشل شوی دی:

**الف:** مشهور.

**ب:** عزيز.

**ج:** غريب.

د دغه اقسامو په هکله جلا، جلا بحث کيږي.

**مشهور حديث**

– **د مشهور حديث تعريف:**

مشهور په لغت کې د اسم مفعول صيغه ده، له ( شَهَرْتُ الاَمْرَ ) څخه اخيستل شوی دی. پورتنی جمله هغه وخت ويل کيږي چې څوک د يو کار اعلان او اظهار وکړي. له دې کبله چې هغه واضح او ظاهر وي، نو مشهور ورته ويل کيږي.

مشهور حديث په اصطلاح کې هغه حديث ته ويل کيږي چې په هره طبقه او مرحله کې د دريو او يا له هغه نه زياتو کسانو په واسطه روايت شوی وي چې د تواتر حد ته نوي رسيدلی. د مثال په توګه د ( اِنَّ الله لا يقبض العلم انتزاعاً ينتزعه ... )حديث، مشهور حديث دی.

دغه حديث، امام بخاري، مسلم ابن ماجه او احمد روايت کړی دی.

- **مستفيض حديث:**

مستفيض په لغت کې د اسم فاعل صيغه ده، چې له ( اسْتَفَاضَ ) څخه اخيستل شوی دی، په عربي ژبه کې داسې ويل کيږي: ( فَاضَ المَاءُ ) ده، جمله هغه و خت کې ويل کيږي چې اوبه زيات نشر وکړئ، د دې کبله دغه ډول حديث ته مستفيض حديث وايي.

**په اصطلاح کې د مستفيض حديث معنی:**

د مستفيض حديث د اصطلاحي معنی په هکله درې قوله موجود دي:

۱. مستفيض حديث د مشهور حديث مرادف دی.
۲. مستفيض حديث د مشهور حديث څخه خاص دی، دا ځکه چې په هغه کې شرط ده چې د سند دواړه طرفونه يې بايد سره مساوي او يو شان ته وي چې په مشهور حديث کې دغه شرط موجود نه دی.
۳. مستفيض حديث له مشهور حديث څخه عام دی، يعنې د دويم قول په عکس دی.

**د غير اصطلاحی مشهور:**

- له غير اصطلاحي مشهور څخه هدف هغه مشهور دی چې د خلکو په ژبه مشهور شوی وي او د مشهور حديث شرايط پکې نه وي رعايت شوي. دا ډول مشهوي لاندې حالتونه لري:

الف: هغه مشهور چې يو سند ولري.

ب: هغه مشهور چې د يوه سند څخه زيات سندونه ولري.

ج: هغه چې هیڅ سند و نلري.

**د غیر اصطلاحي مشهور اقسام:**

غیر اصطلاحي مشهور، زیات اقسام لري چې مشهور اقسام یې په لاندې ډول دي:

الف: هغه چې یوازې د اهـــل حدیث په مینځ کـــې مشهور وي. مثال یې د حضرت انس رضی الله عنه حدیث دی چې وایي: ( انَّ رسول الله صلی علیه و سلم قَنَتَ شهراً بعد الرکوع یدعو علی رِعْلٍ و ذکوَان ) دغه حدیث امام بخاري او مسلم روایت کړی دی.

ترجمه: حضرت انس رضی عنه ویلي چې پیغمبر علیه السلام وروسته له رکوع څخه یوه میاشت ساکت پاتې شو، چې رعل او ذکوان قبیلو ته یې ښېرا کوله.

ب: هغه حدیث چې د اهل حدیث عالمانو اوعوامو په مینځ کې مشهور وي. مثال یې د ( المسلم من سلم المسلمون من لسانه ویده ) حدیث دی. یعنې مسلمان هغه کس دی چې مسلمانان د ده د ژبې او لاس نه په امن وي.

ج: هغه حدیث دی چې د فقهاوو په مینځ کې مشهور وي.

مثال یې د (ابغض الحلال الی الله الطلاق) حدیث دی. دغه حدیث حاکم په خپل کتاب مستدرک کې صحیح بللی.

ترجمه: بدترین حلال د خدای تعالی په نزد طلاق دی.

د: هغه حدیث دی چې د اصولو د عالمانو په مینځ کې مشهور وي.

مثال یې د ( رفع عن أمتی الخطأ و النسیان و ما استکر هوا علیه ) حدیث دی، چې ابن حبان او حاکم صحیح کړی دی.

ترجمه: د ما د امت څخه خطأ، نسیان او هغه چې دوی ورباندې مجبور کړل شوي دي، مرفوع دي.

هـــ: هغه حدیث چې د نحو د عالمانو په مینځ کې مشهور شوی وي.

مثال یې د (نعم العبد صحصیب لولم یخف الله لم یعصه) حدیث دی چې اصل نلري.

و: هغه دی چې د عامو خلکو په مینځ کې مشهور شوی وي.

مثال يې د (العجلة من الشيطان) حديث دی، چې ترمذي تشريح کړی او هغه يې حسن بللی دی.

ترجمه: عجله د شيطان څخه ده.

**د مشهور حکم:**

اصطلاحي مشهور اوغير اصطلاحي مشهور په صحيح والي او عدم صحيح والي موصوف کېدلی نشي بلکه دغه احاديث صحيح، حسن او ضعيف کېدلی شي، موضوعي حديثونه هم پکې ليدل کيږي. مګرکه اصطلاحي مشهور حديث صحيح وي نو هغه د امتياز لرونکي دي، کېدی شي چې په عزيز او غريب حديث باندې ترجيح ولري.

**هغه کتابونه چې پکې تأليف شوئ دی:**

مطلب له کتابونو څخه چې په مشهورو احاديث کې تأليف شوي دي، هغه کتابونه دي چې په ژبو مشهورو احاديثو کې تأليف شوي دي، نه اصطلاحي مشهور حديثونه.

کېدی شي چې له دې جملې کتابونو څخه د لاندينيو کتابونو نومونه ذکر کړو:

١. المقاصد الحسنة فيما اشتهر على الالسنة. ( اسخاوي )
٢. كشف الخفاء و مزيل الالباس فيما اشتهر من الحديث على السنة الناس. (عجلوني)
٣. تمييز الطيب من الخبيث فيما يدور على السنة الناس من الحديث. (ابن الديبع الشيباني)

# عزيز حديث

**۱. د عزيز حديث تعريف:**

عزيز صفت مشبه د فعيل په وزن دی د(عَزَّيعزُ) څخه چې عين يې كسره لري، اخيستل شوی دی، په لغت كې هغه شي ته ويل كيږي چې كم يابه او نادر وي. او يا د (عَزَّيعزُّ) چې عين فتحه لري، اخيستل شوی دی په لغت كې د قوي اوشديد په معنی دی. عزيز حديث ته ځكه عزيز وايي چې كم يابه او نادر دی. او يا لدې خاطره عزيز ورته وايي چې د بلې طريقې نه هم په ثبوت رسيدلی او قوي شوی دی.

**په اصطلاح كې د عزيز حديث تعريف:**

عزيز حديث په اصطلاح كې هغه حديث ته ويل كيږي چې راويانو يې په ټولو طبقو كې له دوو راويانو څخه كم نه وي.

**د تعريف شرح:** يعنې عزيز حديث هغه دی چې راويان د سند په ټولو طبقو كې له دوو كسانو څخه كم نه وي. او كه په ځينې طبقو د سند كې راويان درې يا له دريو څخه زيات كسان وي په هغه كی كوم ضرر او تاوان نشته. خو په دې شرط چې دوه راويان په هره يوه طبقه كې وجود ولري، دا ځكه چې د سند په طبقو كې هغه كمه طبقه د اعتبار وړ ده.

پورتنئ تعريف يو رايج تعريف دی چې هغه حافظ ابن حجر هم ليكلي دی.

ځينې پوهانو د عزيز حديث تعريف په لاندې توگه كړی دی:

عزيز حديث هغه حديث ته ويل كيږي چې دوو او يا دريو كسانو يې روايت كړی وي. د دغه تعريف له مخې عزيز حديث په ځينې حالاتو كې د مشهور حديث سره يوشان كيږي او د دواړو تر مينځ توپير نه كيږي.

د عزيز حديث مثال: د حضرت انس رضی الله عنه حديث دی چې امام بخاري له ابو هريره څخه روايت كړی دی چې نبي كريم صلی الله عليه و سلم فرمايلي: (لا يؤمن احدكم حتى أكون احب اليه من والده و ولده و الناس اجمعين)

دغه حدیث له حضرت أنس رضی الله عنه څخه قتاده، عبدالعزیز، اسماعیل ابن عُلَیَّه او الوارث، روایت کړی دی. بیا له دوی هر یوه څخه یوه لوی جمعیت روایت کړی دی.
پوهانو د دغه ډول حدیث په هکله ځانګړې کتابونه ندي لیکلي، امکان لري چې علت یې د دغه احادیثو کم والی وي. او یا یې علت دا وي چې د دغسې کتابونو په تألیف او لیکنه چې د عزیز حدیث په هکله وي کومه فایده نه مرتبه کیږي.

## غریب حدیث

**۱. تعریف:**

د غریب کلمه د فعیل په وزن اوصفت مشبه ده. په لغت کې منفرد ( یوازې ) ته وایي. همداقسم هغه چا ته چې د اقاربو څخه یې لیرې وي، غریب ویل کیږي، لکه مسافر. په اصطلاح کې هغه حدیث دی چې یوازې یوه راوي یې روایت کړی وي.

**۲. د تعریف شرحه:**

یعنې غریب عبارت د هغه حدیث څخه دی چې د سند په هره طبقه کې یوازې یوه راوي د هغه روایت کړی وي. او یا یې د سند په ځینو طبقو کې اګر چې یوه طبقه هم وي یوازې یو راوي وجود ولري، د سند په نورو طبقو کې له یوه څخه د راوي زیاتوالی کوم ضرر نلري. ځکه چې په سند که هغه کم عدد، د اعتبار وړ دی.

**۳. د غریب حدیث بل نوم:**

د حدیث زیات شمېر پوهانو دغه حدیث د (فرد) په نامه، نومولی دی او دوی وایي چې غریب حدیث کټ مټ د فرد حدیث دی. خوځینې نور پوهان دغه احادیث (غریب او فرد) جلا، جلا حدیثونه بولي.
حافظ ابن حجر دغه دواړه حدیثونه د لغت او اصطلاح له مخې دوې مترادفې کلمې

بولي خو د اصطلاح له جهته د دواړو تر مینځ د کثرت او قلت له لحاظه توپیر شته دی، هغه دا چې د ( فرد ) اطلاق غالباً په فرد مطلق او د غریب اطلاق په نسبي فرد باندې کیږي.

**۴. د غریب حدیث اقسام:**

له دې کبله چې په غریب حدیث کې د تفرد موضوع مطرح ده، نو غریب په دوه قسمه تقسیم شوی دی، چې عبارت له غریب مطلق او غریب نسبي څخه دی.

**الف: غریب مطلق او یا فرد مطلق:**

**تعریف:** مطلق غریب هغه حدیث دی چې د سند په اصل کې یې غرابت موجود وي. یعنې هغه حدیث چې د سند په اصل کې یې یوازې یو کس په انفرادي توګه وجود ولري.

د مطلق غریب حدیث مثال د ( انما الاعمال بالنیات ) حدیث دی چې روایت یې یوازې حضرت عمر بن خطاب کړی دی، دغه تفرد سند تر آخره پورې دوام کړی، او بیا زیات شمېر راویانو له حضرت عمر څخه هر یوه په انفرادي توګه روایت کړی دی.

**ب: نسبي غریب:**

**تعریف:** نسبي غریب هغه حدیث دی چې د سند په بهیر کې یې غرابت راغلی وي. یعنې د سند په اصل کې له یوه څخه زیاتو راویانو د حدیث روایت کړی وي، خو وروسته له راویانو څخه یې یو راوي، یوازې او تنها شوی وي، لکه چې مالک له زهرې څخه روایت کړی چې انس رضی الله عنه ویلي دي: أن النبی صلی الله علیه وسلم دخل مکة و علی رأسه المِغْفَرُ ) دغه حدیث یوازې مالک له زهرې څخه روایت کړی دی.

د تسمیه کولو وجه: دغه حدیث له دې وجهې نه په نسبي غریب نومول شوی چې تفرد یې د یوه معین کس په نسبت حاصل شوی دی.

**۵. د نسبي غریب حدیث نور اقسام:**

د تفرد او غرابت نور اقسام هم موجود دی چې کولی شو هغه د نسبي غریب له اقسامو څخه حساب کړو. دا ځکه چې په هغو کې غرابت مطلق ندی، بلکه غرابت یې د یوه معین کس په نسبت مینځ ته راغلی دی.

الف: هغه حدیث دی چې یوازې یو ثقه کس یې روایت وکړي، مثلاً ویل شوي وي چې ( لم یره ثقة الافلان ) یعنې دغه حدیث ثقه شخص روایت ندی کړی مګر فلاني.

ب: هغه حدیث دی چې یوازې یوه راوي له بل معین راوي څخه روایت کړی وي. لکه چې وویل شي: ( تفرد به فلان عن فلان ).

ج: هغه حدیث دی چې یوازې د یوه ښار او یا د یوه سمت خلکو یې روایت کړی وي. لکه چې وویل شي: ( تفرد به اهل مکة او اهل شام ).

د: هغه حدیث دی چې یوازې د یوه ښار او یا د یوه سمت خلکو، یوازې د یوه ښار او یا د یوه سمت له خلکو څخه روایت کړئ وي. لکه چې وویل شي: ( تفرد به اهل البصرة عن اهل المدینة او تفرد به اهل الشام عن اهل الحجاز ).

**٦. د نسبي غریب حدیث بل تقسیم:**

د حدیث پوهانو، غریب د غرابت په لحاظ، د سندغریب او د متن غریب په اقسامو ویشلی دی.

الف: د متن او اسناد غریب: دا هغه حدیث دی چې د متن په روایت کې یی یوازې یو راوي موجود وي.

ب: یوازې د اسناد غریب نه د متن: دا هغه حدیث دی چې متن یې د راویانو د یوه ګروپ په واسطه روایت شوی وي، مګر یوازې یوه صحابي له بل صحابي څخه روایت کړی وي. پدې هکله امام ترمذي داسې اصطلاح پکار وي:
( غریب من هذالوجه ) یعنې لدې وجهې څخه غریب دی.

۷. د غریب حدیث په هکله مشهور تألیفات:

الف: غرائب مالک دارالقطنی.

ب: الافراد مالک دارالقطنی.

ج: سنن ابو داود سجستانی. چې هر سنت ته یې یوازې د یوه ښار اهل منسوب کړي دي.

تمرین:

۱. مشهور حدیث تعریف کړی؟
۲. د مشهور حدیث حکم څه دی بیان یې کړی؟

## د قوت او ضعف په لحاظ

## د آحاد خبر تقسیم

آحاد خبر ( مشهور، عزیز او غریب ) د قوت او ضعف په نسبت په دوه ډوله دي:

الف: مقبول حدیث: هغه خبر دی چې صدق یې پر کذب ترجیح ولري. حکم یې وجوب د عمل او په هغه سره استدلال کول دي.

ب: مردود حدیث: دا هغه خبر دی چې د مخبر صدق ته یې ترجیح نوي ورکړل شویې. حکم یې دا دی چې په هغه سره استدلال نشي کیدی او واجب العمل هم ندی.

### مقبول حدیث او د هغه اقسام

مقبول حدیث د مراتبو په لحاظ دوو اساسي قسمونو ته تقسیم شوی دی، چې یو یې صحیح حدیث او بل یې حسن حدیث دی. او بیا صحیح حدیث دوو نورو قسمونو ته تقسیم کیږي چې یو یې صحیح لذاته او بل یې صحیح لغیره دی، په همدې توګه حسن حدیث، حسن لذا ته او حسن لغیره ته تقسیم شوي دي.

خلاصه دا چې مقبول حدیث په پنځه قسمه دی چې په لاندې توګه معرفي کیږي:

۱. متواتر.
۲. صحیح لذاته.
۳. صحیح لغیره.
۴. حسن لذاته.
۵. حسن لغیره.

لدې څخه تر مخه د متواتر حدیث تعریف، حکم، مثال او اقسام یې په دغه کتاب کې بیان شول، اوس د صحیح حدیث تعریف، حکم، شروط او مثال په لاندې توګه بیانیږي.

## صحیح حدیث

**۱. د صحیح حدیث تعریف:**

د صحیح کلمه په لغت کې د ( سقیم ) د کلمې ضد معنی لري او سقیم د مریض په معنی دی، نو د ( صحیح ) کلمه که په جسم لرونکي، کې استعمال شي دا یې حقیقي معنی ده، مګر په حدیث او نورو معناګانو کې مجازاً استعمالیږي.

صحیح حدیث په اصطلاح کې عبارت له هغه حدیث څخه دی چې سند یې متصل او راویان یې عادل او پوره ضبط ولري، شاذ او معلل نوي.

۲. **د تعریف شرحه**: پورتنی تعریف په څو شیانو مشتمل دی چې موجودیت یې په صحیح حدیث کې حتمي دی، دغه شیان عبارت دي له:

الف: د سند اتصال: یعنې لازمه ده چې هر راوي، حدیث د سند له اول نه تر آخره پورې په مستقیمه توګه د خپل مافوق څخه روایت کړی وي.

ب: د راویانو عدالت: یعنې لازمه ده چې د راویانو هر یو کس مسلمان، بالغ، عاقل او غیر فاسق وي.

ج: د راویانو ضبط: یعنې د راویانو هر یو کس باید تام ضبط ولري.

د: عدم شذوذ: يعنې لازمه ده چې حديث شاذ نه وي، او شذوذ دا دی چې پو ثقه راوي د بل راوي څخه چې له ده نه زيات ثقه وي، مخالفت وکړي.

هـــ: حديث بايد معلل نه وي: يعنې لازمه ده چې حديث معلول نه وي، اګر چې علت پټ او نامرئي سبب دی، خو کيدی شي چې د حديث په صحت کې منفي اثر وارد کړي که څه هم په ظاهر کې سالم معلوم شي.

### ۳. د صحيح حديث شرطونه:

هغه شرطونه چې موجوديت يې په صحيح حديث کې لازم دي، پنځه شرطونه دي چې عبارت دي له:

شرط ده چې سند يې متصل وي، راويان يې عدالت ولري، راويان يې د پوره ضبط خاوندان وي، حديث بايد شاذ نه وي او کوم علت پکې موجود نه اوسي.

کله چې په حديث کې د يورتنيو شرطونو څخه کوم شرط مختل شي داسې حديث ته، صحيح حديث نه ويل کيږي.

### ۴. د صحيح حديث مثال:

امام بخاري په خپل کتاب صحيح البخاري کې داسې نقل کړی دی: حدثنا عبدالله بن يوسف، قال اخبرنا مالک عن ابن شهاب عن محمد بن جبير بن مطعم عن ابيه قال سمعت رسول الله صلی عليه و سلم قرأ فی المغرب بالطور.

دا حديث، صحيح حديث دی ځکه چې:

الف: سند يې متصل دی، هر يوه راوي د خپل استاد څخه اوريدلی دی، او هغه عنعنه چې د مالک د حديث په سند کې له ابن شهاب او ابن جبير څخه د ( عن ) په لفظ سره نقل شوی ده هغه د سند په اتصال حمل کيږي، ځکه چې دغه درې واړه راويان په تدليس متهم نه دي.

بايد وويل شي چې عنعنه، د حديث روايت کول دی په لفظ د ( عن ) سره.

ب: د پورتني حديث راويان، عادل او ټول يې د ضبط خاوندان دي. دوی د جرحې او تعديل د عالمانو او پوهانو په نزد، لاندنيي صفتونه لري:

- عبدالله بن یوسف ثقه او د اتقان خاوند دی.
- مالک ابن انس، امام او حافظ دی.
- ابن شهاب زهری، فقیه او حافظ دی. د ده په اتقان او بزرگی باندې ټول متفق دي.

د: پورتنی حدیث شاذ هم نه دی، ځکه چې د کوم بل قوي حدیث په مقابل کې معارض نه دی داقع شوی.

هــ: معلول هم نه دی، ځکه چې په راویانو کې یې کوم علت نه دی لیدل شوی.

**د صحیح حدیث حکم:**

اهل حدیث، د اصولو عالمان او اسلامي فقهاً ټول اتفاق لري چه دغه قسم حدیث واجب العمل دی او د شرعي دلایلو څخه یو دلیل دی، مسلمانان شرعاَ نشي کولی چې په هغه باندې عمل کول ترک کړي.

۵. محدثین په ځینې حالاتو کې داسې وایي: ( هذا حدیث صحیح ) او یا وایي: ( هذا حدیث غیر صحیح ) له دغه اقوالو څخه مطلب دا دی چې:

الف: ( هذا حدیث صحیح ) د دغه قول څخه مطلب او مفهوم دا دی چې هغه پنځه شرطونه چې په صحیح حدیث کې شرط او حتمي دي، پدغه حدیث کې موجود دي. او مطلب یې دا ندی چې صحت یې قطعي او یقیني دی، ځکه کیدی شي چې ثقه راوي هم په روایت کې خطاء شي او یا نسیان ورباندې راغلی وي.

ب: له دغه قول څخه: ( هذا حدیث غیر صحیح )، هدف او مطلب دا دی چې هغه پنځه شرطونه چې د حدیث د صحت د پاره حتمي دي له هغو څخه یو شرط پکې موجود نه دی، او دا یې مطلب نه دی چه دغه حدیث په حقیقت کې درواغ دی، ځکه هغه څوک چې ډیر خطاء کیږي، کله، کله حقیقت ته هم رسیږي.

٦. آيا په يقين سره ويلی شو چې د ټولو اسانيدو په قطار کې دغه سند مطلقاً اصح سند دی، او يا داسې قول نشو کولی؟

په پورتنۍ مسئله کې غوره نظر دا دی چې مونږ داسې نشو ويلی چې د ټولو اسانيدو په قطار کې دغه سند مطلقاً اصح سند دی، ځکه چې د صحت د مرتبو توپير، د سند د صحت د شرطونو په موجوديت باندې ولاړ دی، په داسې حال کې چې د صحت د شرطونو موجوديت په يوه سند کې په اعلی درجه، په ندرت سره تحقق مومي. نو غوره به دا وي چې له پورتني حکم څخه چې د ټولو اسانيدو په قطارکې دغه سند مطلقاً اصح سند دی، ډه ډه وشي.

لکن سربيره پدې ځينې عالمانو، د اصح سند په هکله، ځينې اقوال نقل کړي، او هر يوه هغه څه چې د ده په نزد قوي معلوم شوي، هغه ته يې ترجيح ورکړې، چې مونږ يې ځينې مثالونه د نمونې په توګه را نقلوو.

الف: رواية الزهری عن سالم عن ابيه ( عبدالله بن عمر بن الخطاب )دغه قول د اسحق بن راهويه او احمد څخه نقل شوی دی.

ب: رواية ابن سيرين عن عبيدة عن علی (علی بن ابی طالب).

او دغه قول له ابن المدينی او الفلاس څخه را نقل شوی دی.

ج: رواية الاعمش عن ابراهيم عن علقمة عن عبدالله ( عبد الله بن مسعود ).

دا قول له ابن معين څخه نقل شوی.

د: رواية الزهری عن علی بن الحسين عن ابيه عن علی.

دا قول له ابوبکر بن ابی شيبة څخه نقل شوی.

هـــ: رواية مالک عن نافع عن ابن عمر.

دا قول له امام بخاري څخه نقل شوی دی.

٧. تر ټولو لمړنی کتاب چې په صحيح مجرد احاديثو کې ليکل شوی دی، کوم کتاب دی؟

تر ټولو لمړنی کتاب چې په صحیح مجرد احدیثو کې لیکل شوی، هغه د صحیح البخاري کتاب او وروسته له هغه څخه د صحیح مسلم کتاب دی، صحیح البخاري وروسته له قرآنکریم نه تر ټولو صحیح کتاب دی چې د اسلامي امت د قبول وړ ګرځیدلی دی. بیا په دغه دوو کتابو کې، صحیح البخاري په لمړي درجه کې واقع دی، دا ځکه چې ډیرې زیاتې فایدې پکې موجودې دي. همدا قسم کوم احادیث چې پکې جمع شوي دي، د سند د اتصال په لحاظ، ډیر قوي او راویان یې زیات ثقه کسان دي. په دې کتاب کې فقهي استنباطات او حکیمانه علمي نکتې ذکر شویې دي. د صحیح مسلم کتاب دغسې ځانګړې او خاص اوصاف نلري.

صحیح البخاري له مسلم څخه اصح کتاب دی، یعنې په مجموع کې له مسلم څخه اصح دی، ځکه چې ځینې حدیثونه په صحیح مسلم کې نقل دي چې د صحیح البخاري له ځینو احادیثو څخه قوي دي.

ځینی عالمان صحیح مسلم له صحیح البخاري نه قوي بولي، مګر لمړی قول راجح دی. آیا ټول صحیح احادیث د امام بخاري په کتاب کې جمعه شوي؟ او یا یې په جمعه کولو مکلف وو، او که نه؟

امام بخاري او مسلم په خپلو کتابوکې ټول صحیح احادیث جمعه کړي نه دي او نه یې په جمعه کولو مکلف وو. امام بخاري په دې هکله داسې وایي: ( ما ادخلت فی کتابی الجامع الا ما صح و ترکت من الصحاح لحال الطول ). یعنې ما په خپل کتاب جامع کې نه دي داخل کړي، مګر هغه چې صحیح دي او له صحیح څخه مې ځینې د طوالت له خاطره ترک کړي دي. یعنې امام بخاري بعضې صحیح احادیث ترک کړي تر څو چې د کتاب طوالت یې د ملالت باعث ونګرځي.

همدارنګه امام مسلم په دغه هکله داسې وایي:

لیس کل شئ عندی صحیح و ضعته ههنا، انما وضعت ما اجمعو علیه. یعنې ما ټول هغه څه چې د ما په نزد صحیح وي په خپل کتاب کې نه دي را ټول کړي، یوازې هغه احادیث مې را جمعه کړي چې پوهانو ور باندې اتفاق کړی دي.

د هغه صحيح احاديثو شمېر چې امام بخاري او مسلم په خپلو كتابوكې نه دي جمعه كړي، لږ دى او يا شمېره زيات دى؟

د دې پوښتنې د پاره دوه مختلف ځوابونه ذكر شوي دي:

١. حافظ ابن حزم وايي: دوى ( مسلم او بخاري ) يو كم شمېر احاديث نه را نقل كړئ. په داسې حال كې چې د ابن حزم دغه قول رد شوى دى.
٢. صحيح قول دا دى چې له مسلم اوبخاري څخه زيات شمېر صحيح احاديث پاتې شوي دي. لكه چې د امام بخاري څخه نقل قول شوى چې ويلى يې دي: ( ما زيات شمېر صحيح حديثونه نه دي را نقل كړي ).

په همدا شان له امام بخاري څخه حكايت دى چې هغه سل زره صحيح او دوه سوه زره غير صحيح حديثونه حفظ كړي و.

د امام بخاري او مسلم په كتابوكې د احاديثو شمېره:

١. د امام بخاري په كتاب كې د تكراري احاديثو سره سره ټول ( ٧٢٧٥ ) حديثونه موجود دي، او له تكراري احدديثو څخه پرته ( ٤٠٠٠ ) حديثونه پكې نقل شوي دي.
٢. د امام مسلم په كتاب كې د تكراري احاديثو سره سره ټول ( ١٢٠٠٠ ) حديثونه نقل شوي دي او له تكراري احاديثو پرته د څلور زره احاديثو په شا او خوا كې موجود دي.

نور پاتې صحيح احاديث په كومو كتابوكې پيدا كولى شو؟

كيدى شي چې نور صحيح احاديث په لاندينيو مشهورو او د باور وړ كتابوكې پيدا او تر لاسه كړو چې هغه دا دي. د ابن خزيمه صحيح كتاب د حاكم مستدرک نومى كتاب، د ابو داود، ترمذي، ابن ماجه او نساتي، صحيح كتابونه، ( دارقطني، بيهقي ) او داسې نور كتابونه. په پورتنيو كتابوكې د يوه حديث موجود والى د هغه د صحت په معنى نه دى، سر بيره په هغې لازمه ده چې په صحت يې تصريح شوې وي. پرته له هغه كتاب نه چې شرط يې ګرځولى وي چې د هغه ټول احاديث صحيح دي لكه د ابن ماجه صحيح كتاب.

# دوهم فصل

# صحيح لذاته

**د صحيح لذاته حديث تعريف:**

صحيح لذاته حديث، هغه حديث دى چې سند يې متصل او راويان يې عادل وي، معلل او شاذ نه وي. يعنې روايت يې پرته له شذٰوذ او علت څخه شوى وي. تر دې د مخه د حديث د صحت د لپاره شرطونه ذکر شول چې عبارت دي له: د سند اتصال، د راويانو عدالت، د هغوى ضبط او د علت او شذٰوذ نشتوالى. کله چې په يوه حديث کې د پورتنيو شرطونو څخه کوم شرط موجود نه وي، دغسې حديث ته صحيح نشي ويل کيدى.

**د صحيح حديث درجې:**

مخکې لدېنه وويل شول چې د اصول حديث د علم يو شمېر پوهانو د صحيح سندونو يادونه کړې ده، له دې کبله ويل کيدى شي چې د صحت د نورو شرطونو د په پام کې نيولو سربيره صحيح حديث د دغه لاندې درجو اومرتبو درلودونکى دى.

الف: هغه حديث چې د اصح الاسانيد سند په واسطه را نقل شوى وي، لکه مالک چې له نافع، او هغه له ابن عمر څخه روايت کړى چې دغه سند ته د اصح الاسانيد سند وايي او په لمړى درجه کې واقع دى.

ب: په دوهمه مرتبه کې د صحت له لحاظه هغه حديث دى چې روايت يې د داسې راويانو په واسطه شوى وي چې هغوى د لمړى درجې راويانو څخه په وروستنى درجه کې واقع دي. لکه د حماد بن سلمه روايت چې له انس رضى الله عنه څخه يې کړى دى.

ج: په دریمه مرتبه کې هغه صحیح حدیث دي چې راویان یې د ثقه والي په لحاظ په ټیټه مرتبه کې وي. لکه د سهیل بن ابی صالح روایت چې له خپل پلار څخه یې او هغه له ابو هریره څخه کړی دی.

د پورتني تفصیل له مخې کولی شو چې صحیح حدیث په اوو مرتبو تقسیم کړو:

۱. هغه صحیح حدیث دی چې امام بخاري او مسلم دواړو اتفاق وربانديې کړی وي دغه مرتبه تر ټولو لوړه مرتبه ده.
۲. هغه صحیح حدیث دی چې روایت یې یوازې امام بخاري کړی وي.
۳. هغه صحیح حدیث دی چې یوازې امام مسلم یې روایت کړی وي.
۴. هغه صحیح حدیث دی چې د امام بخاري او امام مسلم شروط پکې موجود وي، خو هغوی یې روایت نه وي کړی.
۵. هغه صحیح حدیث دی چې د امام بخاري په شرط برابر وي، خو هغه یې روایت نه وي کړی.
٦. هغه صحیح حدیث دی چې د امام مسلم په شرط برابر وي، خو هغه یې روایت نه وي کړی.
۷. هغه صحیح حدیث دی چې د نورو امامانو لکه ابن خزیمه او ابن حبان په نزد صحیح وي، خو د امام بخاري او امام مسلم د شرطونو مطابق نه وي.

**په صحیح حدیث کې د شیخینو شرط:**

د اصول حدیث په علم کې د ( شیخینو ) اصطلاح په امام محمد بن اسماعیل البخاري او امام مسلم باندې اطلاق کیږي، دوی دواړه د علم حدیث تر ټولو زیات مشهور عالمان دي. دوی د صحیح حدیث لپاره علاوه په هغو شرطونو چې د حدیث عالمانو وربانديې اتفاق کړی، نور شرطونه نه دي وضع کړي. خو ځینې عالمانو ته وروسته له تحقیق او څېړنې څخه، ځینې طریقې څرګندې شویې دي او داسې فکر یې کړی چې دغه طریقې د دوی دواړو او یا له هغوی څخه د یوه له

نظره په صحيح حديث کې شرط بلل شويی دی. خو په دغه هکله ښه او غوره خبره دا ده چې داسې وويل شي:

چې د شيخنيو د شرط نه مطلب دا دی چې حديث د صحيح البخاري او صحيح مسلم د کتابو له کسانو څخه او د شيخينو د طريقې او کيفيت د رعايت کولو سره سره روايت او نقل شوی دی.

**د ( متفق عليه ) اصطلاح:**

کله چې يو محدث د حديث له بيانولو څخه وروسته د ( متفق عليه ) عبارت ذکر کړي، هدف يې دا دی چې دغه حديث د شيخينو په اتفاق، صحيح حديث دی، نه د ټول امت په اتفاق.

خو ابن صلاح وايي چې په حديث باندې د شيخينو د اتفاق سره يو ځای په هغه باندې د ټول امت اتفاق حتمي او لازمي ګرځي. دا ځکه چې امت د هغه حديث په قبلولو چې امام بخاري او امام مسلم ورباندې اتفاق کړی وي، مخ کې له مخه اتفاق کړی دی.

# حسن حدیث

**تعریف:**

د حسن کلمه صفت مشبه ده، په لغت کې له ( حُسْن ) څخه چې د ښکلا په معنی ده، اخیستل شوې ده.

د حسن حدیث د اصطلاحي تعریف په هکله د حدیث پوهانو ترمنځ اختلاف موجود دی. دا ځکه چې حسن حدیث د صحیح او ضعیف حدیث په مینځ کې واقع دی. دغه پوهان د حسن حدیث له اقسامو څخه یوازې یو قسم تعریف کړی نوکولی شو چې د حسن حدیث له تعریفونو څخه، ځینې تعریفونه په لاندې توګه ذکر کړو:

**۱. د حسن حدیث تعریف د خطابي له نظره:**

حسن حدیث هغه حدیث دی چې مخرج یې معلوم او راویان یې مشهور وي، د زیاتو عالمانو د قبول وړ او د ټولو فقهاوو د استدلال وړ وي.

( معالم السنن ج ۱ ص ۱۱ ).

**۲. د امام ترمذي له نظره د حسن حدیث تعریف:**

حسن حدیث هغه حدیث ته وایي چې په اسناد کې یې داسې کس چې په کذب متهم وي، نه وي موجود او شاذبه هم نه وي چې روایت یې صرف په یوه طریقه شوی وي. داسې حدیث د امام ترمذي له نظره حسن حدیث دی.

**۳. د حسن حدیث تعریف د ابن حجر له نظره:**

هغه واحد خبر چې د عادل او تام الضبط راوي په واسطه یې روایت شوی وي، او سند یې هم متصل وي، د علت او شذوذ نه پرته را نقل شوی وي، داسې حدیث ته صحیح لذاته حدیث ویل کیږي او په هغه صورت کې چې د راوي ضبط خفیف وي داسې حدیث حسن لذاته حدیث دی.

د ابن حجر د تعریف له مخې حسن حدیث په حقیقت کې صحیح حدیث دی. خو کله چې د راوي ضبط خفیف شي نو بیا ورته حسن حدیث ویل کیږي.
د حسن حدیث د پاره دغه تعریف تر ټولو غوره تعریف دی. د خطابي پر تعریف چې د حسن حدیث د پاره یې کړی، نقد وارد شوی. او د امام ترمذي تعریف چې د حسن د پاره شوي دی، یوازې د حسن حدیث په یوه قسم باندې صدق کوي چې حسن لغیره ورته ویل کیږي.

**د حسن حدیث جامع او مانع تعریف:**

حسن حدیث هغه حدیث دی چې سند یې متصل او د عادل راوي په واسطه چې ضبط یې کم وي روایت شوی وي او په همدې شان د سند تر پایه پورته له علت او شذٰوذ څخه رانقل شي.

**د حسن حدیث حکم:**

حسن حدیث په استدلال او دلیل نیولو کې د صحیح حدیث په شان دی، خو د قوت په لحاظ د صحیح حدیث څخه په ټیټه درجه کې واقع کیږي، زیاتو فقهاوو په هغه باندې استدلال او عمل کړی دی.

**د حسن حدیث مثال:**

لاندینی حدیث چې د امام ترمذي په واسطه تخریج شوی دی، داسې وایي:
حدثنا قتیبة حدثنا جعفر بن سلیمان الضبعی عن ابن عمران الجونی عن أبی موسی الا شعری قال: سمعت أبی بحضرة العدو یقول: قال رسول الله صلی الله علیه و سلم: أن ابواب الجنة تحت ظلال السیوف .... الحدیث.
دغه مبارک حدیث پدې خاطر حسن دی چې د سند ټول څلور واړه راویان یې ثقه دي، خو یوازې جعفر بن سلیمان الضبعی چې ثقه نه دی، حدیث یې د صحیح مرتبې څخه د حسن مرتبې ته راښکته کړی دی.

**د حسن حديث مرتبې:**

تر دې د مخه معلومه شوه چې صحيح حديث څو مرتبې درلودلې، په همدې شان حسن حديث هم ځانګړې مرتبې او درجې لرې چې امام ذهبی په دوو مرتبو تقسيم کړې دي.

١. اعلی مرتبه: لکه دغه لاندينې روايتونه:
- رواية بهز بن حكيم عن ابيه عن جده.
- رواية عمرو بن شعيب عن ابيه عن جده.
- رواية ابن اسحاق عن التيمى. او داسې نور روايتونه چې د هغو په هکله ويل شوي چې د دوی حديث، د صحيح حديث له جملې څخه دی، او د صحيح حديث په وروستنی مرتبه کې واقع دی.

٢.له پورتنی مرتبې څخه وروسته د هغه احاديثو مرتبه ده چې روايت يې په طريقه د آحاد سره شوی وي او د تحسين او تضعيف په هکله يې اختلاف موجود وي. لکه د حارث بن عبدالله حديث، د عاصم بن ضمرة حديث، د حجاج ارطاة حديث او داسې نور.

**د محدثينو د اقوالو مرتبې يعنې:** صحيح الاسناد حديث او يا حسن الاسناد حديث:

الف: د محدث قول چې وايي: ( هذا حديث صحيح الاسناد ) لـــه دې قول څخه چې (هذا حديث صحيح) ووايي په مرتبه کې ښکته او وروسته دی.

ب: په همدې توګه چې (هذا حديث حسن الاسناد) ووايي له (هذا حديث حسن) څخه په مرتبه کې وروسته دی. د دې علت دا دی چې دغه ډول اصطلاحات کله د اسناد صحيح والی بيانوي او کله بيانوي چې دغه اسناد جسن دی او د متن په هکله کوم مطلب نه بيانوي له دې کبله کيدی چې په اسناد کې شذوذ او يا علت موجود وي.

کله چې محدث (هذا حديث صحيح) ووايي، دا قول داسې معنی ورکوي چې د صحت ټول پنځه شرطونه په دغه حديث کې موجود دي. مګر کله چې محدث (هذا

حدیث صحیح الاسناد) ووايي، دغه قول داسې معنی ورکوي چې د صحت درې شرطونه لکه د سند اتصال، د راويانو عدالت او د هغوی ضبط په دې حدیث کې شته او موجود دي، خو د شذوذ او علت په نفي کولو دلالت نکوي.

هغه محدث چې د معتمد حافظ درجې ته رسیدلی وي او (هذا حدیث صحیح الاسناد) ووايي، او علت يې ذکر نکړي، نو دا قول په ظاهر کې د متن په صحت دلالت کوي. ځکه چې د علت او شذوذ، نشتوالي، يو اصل دی.

د امام ترمذي او نورو حدیث پوهانو دغه قول ( هذا حدیث حسن صحیح ) څه معنی لري؟

دا ډول قول په ظاهر کې يو مشکل را مینځ ته کوي ځکه چې حسن حدیث له صحیح حدیث څخه په درجه کې وروسته دی، نو څنګه کیدی شي چې دغه دوې مختلفې اصطلاح ګانې په يوه حدیث کې سره جمع شي؟

د اصول حدیث عالمانو د دغه اصطلاح په هکله چې امام ترمذي په خپل کتاب کې ور څخه استفاده کړې ده، څو مختلف ځوابونه ویلي دي له هغې جملې نه د حافظ ابن حجر نظر چې امام سیوطی هم غوره بللی دی په لاندې ډول توضیح کوو:

الف: که حدیث دوه او يا څو اسناده و لري نود ( هذا حدیث حسن صحیح ) اصطلاح داسې معنی ورکوي چې دغـــــه حدیث د يوه اسناد په اعتبار حسن او د بل اسناد په اعتبار صحیح دی.

ب: که حدیث يوازې يو اسناد ولري، نو معنی يی دا ده چې یاد شوی حدیث د ځینې خلکو له نظره حسن او د ځینې نورو له نظره صحیح دی.

**حدیث حسن غریب:**

دغه پورتنۍ اصطلاح چې امام ترمذي په خپل کتاب کې استعمال کړې اوحسن او غریب پکې يو ځای شوي، د علم حدیث د ځینې عالمانو د قبول وړ نه ده ځکه چې د امام ترمذي په نزد حسن هغه حدیث دی چې يوازې د يوه سند له طريقې څخه

روایت شوی نه وي بلکه د یوه نه زیات سندونه ولري، او غریب هغه حدیث ته ویل کیږي چې د هغه روایت یوازې د یوه راوي په واسطه شوی وي.
حافظ ابن حجر په دې موردکې ځواب ویلی چې خلاصه یې په لاندې توګه وړاندې کیږي:
د امام ترمذي دغه اصطلاح په هغه حدیث باندې حمل کیږي چې د امام ترمذي په نظر حسن بلل شوی وی. خو د هغه حدیث په هکله چې د حسن او غریب وصف یې ورکړی وي د امام ترمذي مطلب له هغه څخه داسې حدیث دی چې د جمهورو عالمانو په اصطلاح د حسن تعریف ولري چې د جمهورو عالمانو په اصطلاح د حسن او غیر په مینځ کې کوم مناقات نشته.
شیخ ابن تیمیه رحمة الله علیه فرمایلي دی: هغه کسانو چې په امام ترمذي باندې طعن وارد کړی، په ډیرو مواردو کې یې د امام ترمذي هدف نه دی درک کړی.
د علم حدیث عالمان وایي: (هذا الحدیث غریب) د دوی مطلب دا دی چې لدې وجهې نه غریب دی او په هغه باندې تصریح کوي، اوحدیث به د دوی په نزد، صحیح معروف شوی وي. خو کله چې همدغه حدیث د بلې طریقې څخه هم روایت شوی وي، د دوی له نظره له همدې وجهې څخه به غریب بلل شوی وي. اګر چې متن د حدیث به په صحیح حدیث معروف شوی وي.

# صحيح لغيره حديث

**تعريف:** صحيح لغيره حديث هغه دی چې سند يې متصل او راويان يې عادل وي، مګر د راويانو ضبط يې خفيف او غير تام وي، د شذٰوذ او علت څخه سالم پاتې شوی وي، په همدې ډول د بل سند په واسطه چې د لمړي سند په شان او يا له هغه نه قوي وي، روايت شوی وي.

يعنې د صحيح لغيره حديث صحت لذاته نه دی، خو د بل سند د انضمام له خاطره صحيح ګرځيدلی دی. دا ډول حديث په قوت کې د حسن لذاته حديث څخه په لوړه مرتبه کې او د صحيح لذاته څخه په ټيټه مرتبه کې واقع دی.

**د صحيح لغيره حديث مثال:** د ( محمد بن عمرو عن ابی سلمة عن ابی هريرة ان دسول الله صلی الله عليه و سلم قال: لولا أن اشق علی امتی لأ مرتهم بالسواک عند کل صلاة ) حديث دی چې امام ترمذي په خپل کتاب کې روايت کړی.

ابن صلاح وايي:

( محمد بن عمرو بن علقمة ) په صدق او صياتت مشهور دی مګر د هغه کسانو څخه نه دی چې اعتماد ورباندې وشي.

ځينې پوهان وايي چې هغه د (سوءحفظ) په وجه، ضعيف شمېرل شوی، په داسې حال کې چې ځينې نور وايي چې دی د صدق او لوی والي له کبله ثقه بلل شوي او په همدغه خاطر حديث يې د حسن صفت اخيستی دی. خو هر کله چې د نورو طريقو په واسطه هم روايت شوی دی نو د ( سوءحفظ ) خوف يې هم ساقط کيږي او د اسناد په واسطه دغه حديث د صحت درجې ته لوړيږي.

# حسن لغیره حدیث

تعریف: حسن لغیره حدیث هغه دی چې په راویانو کې یې سوءحفظ یا جهالت او یا تدلیس موجود وي، مګر د ضعف سبب یې د روایانو کذب او فسق نه وي.

د پورتني تعریف نه معلومیږي چې ضعیف حدیث په هغه وخت کې د حسن لغیره درجې ته ارتقاً کولی شي چې په هغه کې د لاندینیو حالتو څخه یو حالت موجود شي:

١. دا چې په یوه او یا څو نورو طریقو سره یې روایت شوي وي چې د لمړنۍ طریقې سره یو شان او یا له هغې څخه قوي وي.

٢. په حدیث کې د ضعف سبب د راوي سوءحفظ یا په سند کې انقطاع او یا یې راویان مجهول وي.

په دغه وخت کې حدیث، حسن لغیره کیږي او د مقبولو احادیثو څخه حسابیږي.

**د حسن لغیره حدیث مرتبه:**

حسن لغیره حدیث په مرتبه کې له حسن لذاته څخه وروسته دی یعنې که حسن لذاته حدیث د حسن لغیره سره په تعارض کې واقع شي حسن لذاته ته ترجیح ورکول کیږي او حسن لغیره متروک کیږي.

**د حسن لغیره حدیث حکم:**

دا ډول حدیث د مقبولو احادیثو څخه دی او استدلال پرې کیدی شي.

د حسن لغیره حدیث مثال:

ما رواه الترمذي و حسنه من طريق شعبة عن عاصم بن عبيدالله عن عبدالله بن عامر بن ربيعة عن ابيه أن امرآة من بنى فزارة تزوجت على نعلين، فقال رسول الله عليه السلام: ارضيت من نفسک و مالک بنعلين، فقالت نعم، فاجاز.

قال الترمذی: و فی الباب عن عمر رضی الله عنه و ابی هریرةٔ و عائشة و ابی حَدْردٍ ( ترمذی ). فعاصم ضعیف لسوء حفظه و قد حسن له الترمذی هذا الحدیث لمجیئه من غیر وجه.

په پورتني روایت کې عاصم د سوءحفظ په خاطر ضعیف معرفي شوی دی، مګر امام ترمذي دغه روایت، حسن بللی دی.

## مقبول آحاد او محتف بالقرائن خبر

## او د هغه انواع

د مقبول حدیث د اقسامو په هکله مخ کې معلومات وړاندې شول، اوس مقبول او په قرائنو محتف خبر نز بحث لاندې نیول کیږي.

محتف بالقرائن حدیث څخه مطلب هغه حدیث دی چې علاوه له هغه شرطونو څخه چې په مقبول حدیث کې موجود وي، یو شمېر نورو زائدو شیانو احاطه کړی وي. دغه زائد شیان چې د مقبول خبر سره یو ځای کیږي، د خبر قوت لا نور هم زیاتوي او حدیث ته یو ډول امتیاز ورکوي چې په نورو مقبولو احادیثو کې به موجود نه وي. او محتف بالقرائن حدیث ته په نورو مقبولو احادیثو باندې ترجیح ورکول کیږي.

**د محتف بالقرائن خبر ډولونه:**

محتف بالقرائن حدیث ډیر اقسام لري، مهم ډولونه یې دا دي:

الف: هغه حدیث دی چې شیخینو یعنې امام بخاري او امام مسلم په خپلو کتابونو کې نقل کړی وي، خو د تواتر حدیث حد ته به نه وي رسیدلی، او په لاندینیو قرائنو به احاطه شوی وي.

١. په دې مورد کې د دغه دواړو امامانو عظمت.

٢. په حدیث پیژندنه کې په نورو باندې د دوی وړاندېوالی.

٣. د نورو عالمانو له خوا د دوی د کتابونو قبلیدل او منل چې دا ډول قبلیدل چې د طریقو د زیاتوالي څخه غوره دی چې د تواتر حد ته نه وي رسیدلی.

ب: هغه مشهور حدیث دی چې متباینې طریقې ولري او ټولې طریقې یې د

راويانو د ضعف او علت څخه سالمې وي.

ج: حفاظو امامانو ته مسلسل خبر دی چې د اعتماد وړ وي او د غريب حديث په شان به نه وي.

لکه هغه حديث چې امام احمد يې د امام شافعی نه او امام شافعی يې له امام مالک څخه روايت وکړي، خو امام احمد په روايت کې له امام شافعی نه يو بل کس هم شريک کړی او په همدا شان امام شافعی يو بل کس په روايت کې له امام مالک نه شريک کړی.

**د محتف بالقرائن حديث حکم:** دا خبر له ټولو مقبولو آحادو اخبارو څخه ارجحيت لري، کله چې محتف باقرائن خبر د نورو مقبولو اخبارو سره په تعارض کې واقع شي، محتف بالقرائن خبر ورباندې مقدم دی.

## د اعتماد زياتوالی، محفوظ او شاذته د حديث تقسيم

له هغو مواردو څخه چې په علم حديث کې د توجه او پاملرنې وړ ګرځيدلي، هغه عبارت دي د ثقاتو د زياتوالي څخه.

څنګه چې د حديث په متن کې زياتوالی واقع کيدی شي په همدې توګه په سند کې د موقوف حديث د مرفوع کيدو او د منقطع حديث د موصول کيدو په خاطر زياتوالی راتلی شي.

ابن صلاح زياتوالی په درې ډوله تقسيم کړی دی، دا تقسيم د نووی ابن حجر او نورو حديث پوهانو د تأييد وړ ګرځيدلې چې په لاندې توګه توضيح کيږي:

١. د ثقه راوي زياتيدل چې د نورو ثقه راويانو د روايت او يا د اوثق راوي د روايت سره منافات ولري. د دغه ډول زياتوالي حکم دا دی چې مردود او غير مقبول دی. هغه روايت چې د ثقاثو راويانو او يا د اوثق راوي په واسطه

شوی وي، د محفوظ په نامه یادیږي. لدې کبله کیدی شي چې محفوظ حدیث او شاذ حدیث جلا جلا په لاندې توګه تعریف کړو.

**محفوظ حدیث**:هغه حدیث دی چې ثقه راویانو او یا یوه اوثق راوي یې روایت کړی وي په داسې حال کې چې دا ډول روایت د یوه ثقه راوي د روایت سره منافات ولري.

**شاذ حدیث**: هغه حدیث دی چې یوه ثقه راوي یې روایت کړی وي په داسې حال کې چې د ثقه راویانو او یا د یوه اوثق راوي د روایت سره مخالف وي.

مثال یې دغه سند دی چې امام ترمذي له ابو سعید خدري څخه په مرفوع ډول داسې روایت کړی: (الارض کلها مسجد الا المقبرة و الحمام) بیا همدغه حدیث حما بن سلمة له عمرو بن یحی څخه او هغه له خپل پلار نه، بیا هغه له ابو سعید خدري نه په مرفوع ډول او سفیان ثوري له عمرو او هغه له خپل پلار نه، هغه له نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه په مرسل ډول روایت کړی چې ثوري له حماد نه اوثق بلل شوی دی.

۲. د ثقه راوي زیاتیدل دي چې د نورو ثقه راویانو او یا د اوثق راوي د روایت سره منافي نه وي. حکم یې دا دی چې مقبول او عمل ورباندې کیږي. ځکه چې دغسې حدیث د مستقل خبر حکم لري چې یوازې یوه راوي د خپل شیخ څخه نقل کړی وي.

۳. هغه زیاتوالی دی چې ثقه راوي یې داسې روایت کړی وي چې د بل روایت سره کوم چې تر هغه بهتره وي، منافات ولري. خو دا ډول منافات به یوازې د مطلق په تقیید او یا د عام په تخصیص پورې منحصر وي. د دا ډول حدیث حکم د راحج قول په بنا مقبول او عمل ورباندې کیږي.

**مثال یې د لاندیني حدیث په متن کې:**

چې امام مسلم او نورو د محمد بن سیرین له طریقې نه د ابوهریرة څخه د (اولهن بالتراب) په زیاتوالي سره د (ولوغ کلب) په حدیث کې ذکر کړی دی د نورو ثقه

راويانو روايت چې له ابوهريرة څخه يې کړی، د ترتيب د زياتوالي نه خالي دی.
کيدی شي چې دا ډول زياتوالی د ثقه راويانو د مطلق روايت لپاره تقييد وګرځي.

## معروف او منکر خبر

**تعريف:** معروف خبر چې په مقابل کې يې منکر واقع وي له هغه حديث څخه عبارت دی چې د ثقه راوي په واسطه يې روايت شوی وي او د ضعيف راوي د روايت سره مخالف وي.

**منکر حديث:** هغه حديث دی چې روايت يې د ضعيف راوي په واسطه شوی وي او د ثقه راوي د روايت سره په مخالفت کی واقع وي.

مثال يې: مارواه ابن ابی حاتم من طريق حبيب ( په تصغير سره ) ابن حبيب الزيات چې ضعيف دی له ابی اسحاق عن العيزار بن حريث عن ابن عباس څخه مرفوعاَ روايت کړی دی: من اقام الصلاة وآتی الزکاة وحج البيت و صام رمضان و قری الضيف دخل الجنة.

ابو حاتم ويلي دي چې دا حديث منکر دی، ځکه چې ثقه راويانو دغه حديث له ابو اسحق عن العيزار عن ابن عباس رضی الله عنه څخه موقوف روايت کړی په داسې حال کې چې پورتنی حديث مرفوع دی.

**تمرینونه:**

۱. صحیح لذاته حدیث تعریف او حکم یې بیان کړئ؟
۲. حسن لذاته حدیث د صحیح لذاته سره څه فرق لري او د هغه حکم بیان کړئ؟
۳. ابن حجر د حسن لذاته حدیث څه ډول تعریف کړی دی؟
۴. د محفوظ حدیث مثال ذکر کړئ؟
۵. شاذ حدیث څه ډول حدیث دی؟
٦. په مقبولو احادیثو کې کوم حدیث د حکم په لحاظ زیات ارجحیت لري؟
۷. د حدیث غربت په څو ډوله دی؟
۸. د امام ترمذي دا قول (حدیث حسن صحیح ) په څه ډول تعبیر کیدی شي؟

# دريم فصل

## متابعت او د هغه اقسام

متابعت په لغت کې د موافقت په معنی دی او د اصول حدیث په اصطلاح د راوي د پاره په روایت کې د مشارکت ایجادول دي، او متابعت دوه ډوله دی:

١. **تام متابعت**: هغه مشارکت دی چې په خپله د راوي د پاره په روایت کې ایجاد شي.

٢. **ناقص متابعت**: ده هغه مشارکت دی چې د راوي د شیخ د پاره او یا د هغه راویانو د پاره ایجاد شي چې له هغه څخه پورته وي.

## متابع، شاهد او اعتبار

**متابع**: د ( ب ) په کسرې سره چې د تابع په نوم یادیږي: عبارت له هغه خبر څخه دی چې په لفظ او معنی کې او یا یوازې په معنی کې د فرد حدیث سره شریک وي. په داسې حال کې چې د دواړو صحابي هم یو وي.

**شاهد**: ده هغه حدیث دی چې په لفظ او معنی کې او یا یوازې په معنی کې د فرد حدیث سره شریک وي په داسې حال کې چې د دواړو صحابي یو کس نه وي. یعنې دواړه حدیثونه په صحابي کې سره مختلف وي.

د ځینی حدیث پوهانو له نظره متابع هغه حیث ته ویل کیږي چې متابعت یې یوازې په لفظ کې موجود وي، د دواړو حدیثونو صحابي یو کس وي او یا په صحابي کې سره مختلف وي.

**شاهد**: شاهد اسم فاعل او د شهد یشهد، شهادتاً د باب څخه دی، شاهد حدیث ته د دې خاطره شاهد وایي چې دا ډول حدیث، شهادت ورکوي چې دغه فرد حدیث

اصل لري او هغه تقويه کوي، لکه چې شاهد په دعوی کې د مدعي قول تائيد او تقويه کوي.

**په اصطلاح کې د شاهد حديث تعريف:**

شاهد حديث هغه حديث دی چې روايان يې د فرد حديث د راويانو سره د لفظ او معنی په لحاظ شريک وي، خو په صحابي کې سره مختلف دي.

**اعتبار:**

اعتبار په لغت کې په شيانوکې نظر کول دی تر څو چې د يوه شي هم جنس ومو‌ندل شي.

په اصطلاح کې د هغه حديث د پاره چې يوازې د يوه راوي په واسطه يې روايت شوی وي، د نورو طريقو تتبع او لټول دي. تر څو معلوم شي چې پرته له دغه راوي څخه، کوم بل راوي د دغه حديث په روايت کې شرکت کړی او که يې نه دی کړی.

**د اعتبار مثال:** حافظ ابن حجر د اعتبار د پاره مثال د امام شافعي روايت ښولی دی چې په خپل کتاب ( الام ) کې يې درج کړی او هغه د مالک روايت دی د عبدالله بن دينار څخه او هغه له عبدالله بن عمرو بن عمر رضی الله عنه څخه روايت کړی او هغه ويلي دي چې رسوالله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: الشهر تسع و عشرون فلا تصوموا حتی تروا الهلال و لا تفطروا حتی تروه فان غم عليکم قا کملوا العدة ثلاثين.

د دغه حديث په هکله ځينې داسې فکر کوي چې امام شافعي يوازينی کس دی چې د ( فاکملوا العدة ثلاثين ) لفظ يې ذکر کړی. ځکه پرته له امام شافعي نه د مالک پيروانو او اصحابو، دغه حديث د ( فاقد روا له ) په لفظ روايت کړی.

خو د امام شافعي د روايت لپاره، تام او ناقص متابعت دواړه موجود دي، هغه دا چې امام بخاري په خپل صحيح کې له عبدالله بن سلمة القعنبی نه هغه له مالک څخه په خپل اسناد سره روايت کړی، چې دغه د تام متابعت په نهايي درجه د صحت کې واقع دی. او امام ابن خزيمه په خپل صحيح کې د عاصم بن محمد بن زيد له طريقې

د خپل پلار او نیکه نه، د عبدالله ابن عمر رضی الله عنه څخه د ( فکَمِّلُوا العدة ثلاثین ) په لفظ روایت کړی، چې ده ناقص متابعت دی.
په همدې توګه امام مسلم د عبیدالله بن عمر نه له نافع بن عمر رضی الله عنه له طریقه د ( فاقدروا ثلاثین ) په لفظ روایت کړی. دغه روایت د امام نسائی په نزد د محمد بن حنین نه له نافع څخه له عبدالله بن عمر نه له رسول الله څخه، شاهد لرونکی روایت دی، لکه د ابن دینار حدیث له نافع څخه بیا له ابن عمر رضی الله عنه نه.

## محکم او مختلف حدیث

**محکم حدیث:** محکم حدیث هغه حدیث دی چې مقبول او د بل مماثل حدیث د تعارض نه سالم پاتې شوی وي. حکم یې وجوب العمل دی او زیات آحاد حویثونه له همدې نوعې احادیثو څخه دی.
**مختلف حدیث:** هغه مقبول حدیث دی چې دبل مماثل حدیث سره په تعارض کې واقع وي. مګر د دواړو تر مینځ د جمعه کیدو امکان هم وي. دا ډول احادیث د امام شافعی، طحاوي او ابن قتیبة لخوا تصنیف شوی دی.

## د تعارض په حال کې
## د مقبول حدیث حکم

که دوه مقبول حدیثونه یو تر بله په تعارض کې واقع شي، او پرته له مشکل څخه جمعه یې ممکنه وي، بل حدیث ته مراجعه نکیږي د مثال په توګه امام بخاري او مسلم دغه لاندې حدیث روایت کړی: (فرمن المجذوم فرارک من الاسد) او یا دا حدیث چې امام مالک روایت کړی: (لا یورد ممرض علی مصح) دغه دواړه حدیثونه د ( لاعدوی و لاطیرة ) د حدیث سره په تعارض کې لیدل کیږي.
دغـــه تعارض پدې شکل مـــــوجود دی چې د (فرمن المجذوم فرارک من الاسد)

حدیث امر کوي چې د مجذوم سړي نه تیښته وکړه، او د ( لاعدوی و لا طیرة حدیث) د مرض سرایت نفی کوي.

په پورتنیو احادیثو کې د جمعه کولوطریقه دا ده چې مرضونه په طبیعي توګه د یوه شخص نه بل شخص ته سرایت نه کوي څرنګه چې د جاهلیت په وخت کې داسې مفکوره موجوده وه. او ځیني ډاکتران هم پدې عقیده دي چې سرایت نکوي.

مګر د جوړ سړي یوځای کیدل د مریض سره چې په مرض مصاب وي. د مرض د انتقال او سرایت سبب او وسیله کیدی شي، همدا قسم کیدی شي چې د دواړو یو ځای کیدل د مرض د انتقال سبب ونګرځي لکه چې په نورو اسبابوکې هم دغه خصوصیت شته دی.

که د متعارضو احادیثو په مینځ د جمعې امکان موجود نه وي، په دغه صورت کې تاریخ ته مراجعه کیږي، که تاریخ معلوم شي، هغه حدیث چې د ورود تاریخ یې وروسته وي، د هغه بل حدیث د پاره چې د ورود تاریخ یې مخ کې و، د ناسخ په حیث پیژندل کیږي.

که چیرته د متعارضو حدیثونو د ورود تاریخ معلوم نه وي، په دې صورت کې که د یوه حدیث د ترجیح امکان په بل متعارض حدیث باندې د سند او یا د متن په لحاظ موجود وي، په دغه صورت کې د تعارض مشکل په ترجیح سره حل کیږي. او که د ترجیح امکان موجود نه وي په دواړو حدیثونو باندې عمل کول متوقف کیږي تر هغه چې د ترجیح سبب موجود شي.

# نسخ په حدیث کې
# او هغه څه چې نسخ ورباندې پیژندل کیږي

**د نسخ لغوي معنی:**نسخ په لغت کې ازالې او نقل ته ویل کیږي مثال یې:
نسخت الکتاب اذا نقل شیئاً یشبه بما فی الکتاب. او نسخت الشمس الظل یعنې لمر سوری زائل کړ.
نسخ په اصطلاح کې د متأخر شرعي دلیل په واسطه د شرعي حکم رفع کول عبارت له نسخ څخه دی.
نسخ په حدیث کې د ځینې شیانو په واسطه پیژندل کیدی شي، چې په لاندې توګه یې بیان کیږي:

- **د صریح نص په واسطه:**

لکه د (کنت نهیتکم عن زیارة القبور فزروها). دا حدیث امام مسلم روایت کړی دی. چې د قبر زیارت کول یې منع کړي و، بیا یې د قبر زیارت کول په مسنونه طریقه جائز وبلل.

- کله داسې هم کیدی شي چې صحابي په تأخیر د یوه حکم له منسوخ حکم څخه خبر ورکړی وي. لکه د جابر رضی الله عنه قول: ( کان آخر الا مرین من رسول الله صلی الله علیه وسلم، ترک الوضوء مما مسته النار ) دا حدیث امام ترمذي روایت کړی.

- **د تاریخي تقدم او تأخر په واسطه:**

مګر کوم حکم چې د صحابي په واسطه روایت شي او په اسلام کې د بل راوي نه مخ کې وی او دا حدیثونه یو تر بله مخالف وي، په روایت کې د تاریخ وروسته والی د نسخې دلیل نشي کیدی، ځکه امکان لري چې د هغه صحابي روایت چې په

مسلمان کیدو کې وروسته دی، د بل صحابي څخه يې اوريدلي وي، چې له هغه څخه په اسلام راوړلو کې مخ کې او يا په اسلام راوړلو کې يو شان وي.

- اجماع ناسخ کيدی نشي، خو د يوه حکم په نسخ کيدو باندې دليل کيدی شي.

## دتيرو مطالبو په هکله عام تمرينونه

١. د اصول حديث علم د پيدا کيدو په هکله د تاريخي لحاظه په لنډه توګه خبرې وکړئ، د دغه علم د تعريف، موضوع او غرض په مورد کې يادونه او لاندينی اصطلاح ګانې معنی کړئ: الحديث، الخبر، الأثر، الحديث القدسی، السند، المتن، الاسناد، المسند، المحدث، الحافظ.

٢. متواتر حديث تعريف، د هغه انواع او شروط بيان کړئ واحد خبر او انواع يې د لغت او اصطلاح په لحاظ تعريف کړئ: يعنې مشهور، عزيز، غريب، مطلق او نسبي غريب حديثونه.

٣. مقبول حديث کوم او حکم يې څه دی. د محتف بالقرائن حديث تعريف څه او انواع يې څو دي. صحيح لذاته کوم حديثونه دي. د دوی په مینځ کې د اشتراک وجه څه ده؟ د مرتبې د تفاوت په لحاظ د حديث اقسام څو دي؟ د شيخينو د شرط څخه مطلب څه دی؟

۴. صحيح لغيره او حسن لغيره حديثونه کوم دي؟ امام ترمذي چې د حسن او صحيح اصلاحګانې سره يو ځاي کوي څه دليل لري؟ امام ترمذي ولې حسن حديث د غريب حديث سره يو ځای کوي؟ په داسې حال کې چې د امام ترمذي له نظره، حسن هغه حديث دی چې له يوې طريقې څخه په زياتو طريقو روايت شوی وي، او غريب هغه حديث دی چې يوازې په يوې طريقې روايت شوی وي؟

۵. د ثقه زياتوالی په څو ډوله دی؟ حکم يې شرحه کړئ. محفوظ، شاذ اومنکر حديثونه تعريف کړئ، متابعت په څو ډوله دي، متابع، شاهد اواعتبار څه ته وايي، مختلف حديث او د دوو مقبولو حديثونو د تعارض وجه شرح کړئ.

# څلورم فصل

## مردود خبر او د هغه د رد اسباب

مردود خبر:  هغه خبر دی چې د راویانو کذب یې پر صدق باندې ترجیح ولري. مردود خبر زیات اقسام لري چې ځینې پوهانو د هغه اقسام له څلویښتو څخه زیات ښودلي دي. خو په مجموع کې دغه ټول اقسام دوو سببونوته راجع کیږي:

۱.  هغه مردود خبر چې له سند څخه یې یو یا څو راویان ساقط شوی وي.

۲.  هغه حدیث دی چې د ځینی راویانو د طعن په سبب مردود شوی وي.

تر دغه سببنو لاندې، ډیر اقسام موجود دي، چې ټول د ضعیف په نوم یادیږي چې د مردود د پاره یو عام نوم دی. ضعیف د قوي ضد معنی لري چې حسي او معنوي ضعیف ته شامل دی. خو دلته د ضعیف څخه مطلب معنوي ضعف دی.

### د راوي د سقوط اقسام

له اسناد څخه د راوي سقوط په دوه ډوله دي:

یو ظاهري او روښانه سقوط دی او بل خفي سقوط دی.

هر هغه څوک چې په علوم حدیث کې مشغولیت ولري. هغه په ظاهري سقوط پوهیږي، چې دا ډول سقوط د شیخ الحدیث او شاګرد تر مینځ د ملاقات د نشتوالي له کبله معلومیږي او یا لدې څخه معلومیږي چې شاګرد به د استاد سره په یوه عصر کې ژوند نه وي کړی، او یا به یې په یوه عصر کې ژوند کړی وي خو دوی به یو تر بله نه وي سره لیدلي. او یا به شاګرد ته د روایت کولو اجازه نه وي شوې نه په لفظي توګه او نه په تحریري توګه. په همدې خاطر ضروري ده چې تاریخ ته مراجعه وشي، تر څو د راویانو د تولد او وفات وخت او تاریخ معین شي او د راویانو په مینځ کې د لیدنې او کتنې وخت تعیین شي.

# د مردود حدیث اقسام

## د راوي د سقوط په لحاظ

د راوي د سقوط نه مطلب دا دی چې د حدیث په سند کې تسلسل او اتصال قطع شي، یو او یا زیات راویان له سند څخه ساقط شي، برابره ده چې د راوي او یا راویانو سقوط په عمدي توګه وي او یا په غیر عمدي توګه د سند له اول نه ساقط شي یا د وسط او یا د آخر څخه.

١. **معلق حدیث**: هغه حدیث دی چې د سند له اول نه یې یو او یا له یوه نه زیات راویان حذف شوی وي.

حکم: معلق حدیث په دې خاطر د مردود له انواع څخه بلل کیږي چې د محذوف راوي حالت معلوم نه دی، او د صحت له شرطونه، یو شرط چې د سند اتصال دی، پکې کم دی، او معلومه نه ده چې محذوف راوي، د ضبط، عدالت، امانت او صدق خاوند دی اوکه نه.

د صحیح البخاري په کتاب کې د تعلیق یادونه زیاته شوې ده خو امام نووی وایي: د هغه څه نه چې په معلومه جزمي او یقیني صیغه لکه ( قال، ذکر، روی ) یادونه و شي، داسې معنی ورکوی چې د راوي او مروي عنه ترمینځ لیدنه کتنه او صحبت سرته رسیدلی دی. او هغه څه چي جزم او یقین پکی موجودونه وی او په مجهوله صیغه لکه«قِیلَ، ذُکِرَ و رُوِیَ» سره ذکر شی هغلته داسی حکم نشی کیدی چی د راوي او مروي عنه تر مینځ به ملاقات او لیدنه شوی وي.

٢. **مرسل حدیث**: مرسل هغه حدیث دی چې د تابعی لخوا یې نبی کریم صلی الله.

علیه وسلم ته نسبت شوی وي مثلاً تابعی داسې ووایي: (قال رسول الله کذا او فعل کذا) او صحابي یې حذف کړی وي.

مرسل حديث د مردودو احاديثو د جملې څخه دی، ځکه مخ کې وويل شول، کوم مجهول لوالی چې د محذوف راوي په حال کې موجود دی، د هغه د رد باعث دی. احتمال لري چې حذف شوی راوي صحابي وي او يا تابعی، همدا ډول احتمال لري چې ثقه دی او يا غير ثقه.

**د مرسل حديث حکم:** د اهل حديث ډېر عالمان، ځينې فقهاء او اصوليين وايي چې مرسل حديث مردود دی، دوی وايي چې په هغه صورت کې چې معين راوي د صفت له لحاظه مجهول وي يعنې ذاتاً معلوم او صفت يې مجهول وي د هغه روايت مردود دی نو کله چې د راوي ذات او صفت دواړه مجهول شي، روايت يې هرومرو، مردود دی چې په مرسل حديث کې د حذف شوی راوي ذات او صفت دواړه مجهول دي.

د امام ابو حنيفه، امام مالک احمد بن حنبل له نظره مرسل حديث مطلقاً مقبول دی.

د مرسل حديث د حکم په هکله درې قوله موجود دي چې په لنډ ډول يې بيانوو:

الف: جمهور محدثين، د اصول فقه اکثريت عالمان او فقهاء وايي چې مرسل حديث مردود دی، دليل يې د محذوف راوي د حالت مجهولوالی دی، ځکه احتمال لري چې محذوف راوي د صحابي نه پرته بل څوک وي.

ب: د امام ابو حنيفه، امام مالک او امام احمد بن حنبل او ځينې نورو عالمانو له نظره مرسل حديث مقبول حديث دی خو په دې شرط چې ارسال کوونکی ثقه وي، ځکه چې ثقه راوي يوازې د بل ثقه نه ارسال کوي، او دائماً به ثقه راوي حذف کوي.

ج: امام شافعی او ځينې نور وايي چې مرسل حديث مقبول دی په هغه صورت کې چې په ارسال کوونکي کې درې شرطونه موجود وي:

١. ارسال کوونکی راوي بايد د کبارو تابعينو څخه وي.

٢. ارسال کوونکی داسې شخص وي چې يوازې له ثقه راوي څخه به ارسال کوي.

۳. مرسل حدیث باید د حفاظو د روایت سره مخالف نه وي.

۴. یا خو د ذکر شوشویو شرطونو سره، د لاندې حالاتو څخه یو حالت موجود وي:

الف: دغه مرسل حدیث د بلې طریقې نه متصل السند روایت شوی وي.

ب: د بلې طریقې نه هم د مرسل په توګه، روایت شوی وي.

ج: دغه مرسل حدیث د صحابي د قول سره موافقت ولري او یا ډیرو عالمانو د هغه مطابق فتوی ورکړیی وي. دغه نظر د تابعی د مرسل په هکله دی.

**د صحابي مرسل:** د صحابي مرسل هغه حدیث دی چې د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د قول او یا فعل څخه یو صحابي خبر ورکړی چې په خپله دغه صحابي د نبی کریم صلی الله علیه وسلم څخه په مستقیمه توګه نه وي روایت کړی. علت یې د صحابي د سن کموالی، یا په اسلام کې وروسته والی او یا غیابت وي. خلاصه دا چې یو صحابي هغه بل صحابي چې د نبی کریم^ص^ څخه یې اوریدلي وي ساقط کړی.

د صحابي مرسل حدیث د جمهورو علماوو له نظره مقبول دی. دلیل یې دا دی چې دغه صحابي حتماً د بل صحابي څخه روایت کړی او صحابه ټول عدول دي، حذف کول یې باک نه لري او د صحابي روایت له تابعی څخه ډیر کم او نادر دی، او که صحابي له بل تابعی څخه روایت وکړي هرومرو به هغه ذکر کوي.

**مُعَضَّل حدیث:**

مُعَضَّل په لغت کې اسم مفعول او د ( اعضله ) څخه اخیستل شوی چې ( مشکل ) مغلق، مجهول او مریض معنی ورکوي، ځکه چې، دوه او یا له هغه نه زیات راویان چې د حدیث له سند څخه حذف شي، د حدیث فهم، درک کول، صحت او سقم د مشکل سره مخ کوي او راوي یو مجهول او معیوب سند ذکر کوي چې د حل لاره یې مغلقه او نا معلومه ګرځوي.

**د مُعَضَّل حديث اصطلاحي معنى:**

مُعَضَّل په اصطلاح کې هغه حديث دی چې د سند له وسط څخه يې دوه او يا له دوونه زيات راويان په متوالي ډول ساقط شوی وي. مثال يې د امام مالک قول دی چې وايي: ( بلغني عن ابی هريرة أنَّ رسول الله صلی الله عليه وسلم قال: للمملوک طعامه و کسوَتُه بالمعروف ولا يکلف من العمل الا ما يطيق ).

د دغه سند له وسط نه دوه نفره په متوالي توګه ساقط شوی دي ځکه چې د امام مالک او ابوهريرة تر مينځ دوه کسان نور شته دي او هغوی عبارت له محمد بن عجلان او په خپله عجلان چې د محمد پلار دی له ابوهريرة څخه يې روايت کړی دی.

**د مُعَضَّل حديث حکم:** له دې کبله چې په سند کې يې د اتصال شرط نشته نو د ضعيفو احاديثو له جملې څخه شميرل کيږي.

**منقطع حديث:** منقطع له انقطاع څخه اخيستل شوی او په لغت کې د اتصال ضد معنی لري او په اصطلاح کې هغه حديث دی چې د سند له وسط نه يې يو او يا له يوه نه زيات راويان په غير متوالي توګه ساقط شوی وي چې راوي او يا راويان يی دمعضل حديث خلاف ساقط شوی وي.

**د منقطع حديث حکم:** دا ډول حديث هم ضعيف دی ځکه چې په سند کې يې اتصال وجود نه لري او بل دا چې د محذوف راوي حال هم مجهول دی.

**مدلس حديث:** مدلس د اسم مفعول صيغه ده له تدليس نه چې د تفعيل په وزن دی اخيستل شوی، معنايی په لغت کې د مبيعی او متاع د عيب پټول دی له مشتری نه، او يا دا چې د (دلس) څخه چی د تيارې او ظلمت په معنی دی، اخيستل شوی. د تيارې او نور د اختلاط معنی هم ورکوي.

دغه ډول حديث له دې خاطره د مدلس په نامه نومولی شوی چې د هغه د سند عيب له سامع نه پټ ساتل شوی لکه د هغه مبيعی په شان چې عيب يی له مشتري نه پټ وساتل شي، چې دواړه د عيب په کتمان کې سره شريک دي.

**تدلیس په اصطلاح کې:**

د محدثینو په اصطلاح د تدلیس معنی د سند د عیب پټول دی او په دوه ډوله دي: د اسناد تدلیس، د شیخینو تدلیس.

١. **د اسناد تدلیس:** هغه تدلیس دی چې راوي د حدیث نسبت هغه کس ته وکړی چې نور احادیث یې ورڅخ روایت کړی وي خو د همدې حدیث روایت یې نه وي ورڅخه کړی. او دا روایت په داسې لفظ وکړي چې د سماع توهم پکې موجود وي، نه د سماع حقیقت. مثلاً داسې وایي: عن فلان آن فلاناً قال .... یعنې راوي د خپل شیخ نه روایت وکړي چې دغه حدیث یې په حقیقت کې له ده څخه نه بلکه له بل شیخ نه، روایت کړی وي او دکوم علت په خاطر د خپل اصلي شیخ او استاد نوم نه ذکر کوي او د بل غیر اصلي شیخ نه په داسې لفظ روایت وکړي چـــې له هغه نه د سماع تو هم موجود وي خو د سماع او یا د تحدیث په لفظ یې نه روایت کوي تر څو درواغجن محسوب نشي، مګر قصد یې دا وي چې سامع په وهم او شک کې واقع کړي.

تسویه هم د دغه ډول تدلیس په شان ده او هغه عبارت ده له دې څخه چې مدلس هغه ضعیف راوي حذف کړی چې د دوو ثقه راویانو په مینځ کی قرار ولري، او د دوو ثقه راویانو تر مینځ ملاقات او لیدنه کتنه هم شوبی وي.

٢. **د شیوخو تدلیس:** دا هغه تدلیس دی چې راوي خپل شیخ کوم چې حدیث یې ورڅخه اوریدلی دی، په غیر معروف نوم او یا په اسم کنیه او یا په غیر مشهور لقب ذکر او توصیف کړي او یا هغه داسې قبیلې او یا ښار ته چې مشهور نه وي، منسوب کړي. ترڅو چی خلک یې ونه پیژني، مثال یې دابوبکر بن مجاهد قول دی چې وایي: حدثنا عبدالله بن ابی عبدالله چې مقصد یې عبدالله بن ابی داود السجستانی دی.

تدلیس د لاندې اعراضو په خاطر صورت مومي:

الف: له دې خاطره چې شيخ به يې ضعيف او غير ثقه وي.
ب: د شيخ د وفات کيدو د وروسته والی په خاطر. په دې توګه چې د راوي په سماع کې له خپل شيخ څخه د ده سره داسې کسان شريک شي چې په ټيټه مرتبه کې وي او راوي ته به ننګ ښکاري چې له دوی سره يو ځای يوه شيخ ته د شاګرد په صفت منسوب شي.
ج: له دې خاطره چې شيخ به يې په سن کې له ده څخه وړوکی وي او حيا به کوي چې د خپل شيخ نوم واضح کړي.
د: له دې خاطره چې روايتونه يې د يوه شيخ څخه، زيات وې او دی به نه غواړي چې ټول روايتونه يې يوازې له يوه کس نه وي.
هـ: په دې خاطر چې د راويانو شمېر به زيات وي، او غواړي چې د دغه شمېر د کمو په خاطر، خپل شيخ له سند څخه حذف کړي او سند عالي وګرځي.
و: په دې خاطر به تدليس کوي چې خپل شاګرد تنبيه او امتحان کړي، تر څو په خپلو هڅو سره د راويانو له حال نه ځان خبر کړي.

**خفي مرسل حديث:** خفی د ظاهر او جلي ضد دی او دا ډول حديث په دې خاطر په همدغه نوم، نوموړی شوی چې دغه ډول ارسال، واضح او ظاهر نه دی، او وروسته له تحقيق او هڅو څخه پيژندل کيږي.

**په اصطلاح کې دخفی مرسل معنی:** د محدثينو له نظره خفی مرسل هغه حديث دی چې راوي د داسې شخص نه روايت وکړي چې ليدنه او کتنه يې نه ده ورسره شوي او له ده څخه يې نه وي اوريدلی، او روايت يې په داسې لفظ وي چې د سماع احتمال او يا توهم ولري. لکه چې داسې ووايي، قال فلان او عن فلان، او داسې نور. او مثال يې د حديث په روايت کې لکه:

د ابن ماجه روایت د عمر بن عبدالعزیز له طریقې څخه له عقبه بن عامر رضی الله عنه نه چې هغه له نبی کریم(ص) نه روایت کړی چې داسې یې ویلي: رحم الله الحارس الحرس.
په پورتني مثال کې عمر د عقبه سره لیدنه او کتنه نه ده کړې.

## د تدلیس د پیژندلو وسایل

تدلیس او خفی ارسال زیات وسایل لري له هغه جملې څخه لاندیني وسایل دي:

۱. په خپله د مدلس او یا مرسل د خبر په وسیله پیژندل کیږي لکه چې وایي: ما په دغه سند کې تدلیس او یا ارسال کړی دی.
۲. یا خو د حدیث د امامانو څخه د یوه امام په وسیله پیژندل کیږي چې وروسته له ډیرو هڅو نه دې نتیجې ته رسیدلي وي چې د راوي او مروي عنه ترمینځ لیدنه او کتنه نه ده شویې، او یا د دوی تر مینځ د سماع نشتوالی شهرت ته رسیدلی او معروف وي.

**د تدلیس حکم:** د تدلیس حکم د مدلس د غرض او قصد په لحاظ فرق کوي. که چیرته له تدلیس څخه د مدلس هدف د شیخ غیر ثقه والي او یا د سن کموالي او یا د سند عالیتوب وي په دغه ټولو صورتنو کې حدیث مقبول نه دی. ځکه چې تدلیس په پورته حالاتو کې د راوي حالت مجهول ساتي او همدا ډول تدلیس د فریب او خیانت لامل ګرځي او تدلیس غیر عادلانه ګرځي او پیغمبر(ص) فرمایلي: ( من غشنا فلیس منا ) یعنې هغه څوک چې له مونږ سره فریب وکړي، د مونږ له جملې څخه نه دی. په هر حال مُدَلَس حدیث لدی وجهی نه چی راوی یی عادل نه دی، دضعیفو احادیثو له جملی ته حسابیږی که چیرته د مدلس غرض دا وي چې د حدیث طالب دې ته تشویق کړي چې د اسنادو په مطالعه مشغول شي او دا یی هم هدف وي چي

روایت يې باید له یوه کس څخه نه وي په دغه حالت کې ویل شوی چې دا ډول حدیث مقبول دی.
په همدې توګه د هغه کس خبر مقبول دی چې روایت يې له ثقاتو څخه وي لکه ابن عیینه.

## د خفي مرسل او د اسناد د تدلیس فرق

په دې کې شک نشته چې خفي ارسال او د اسناد تدلیس دواړه له هغه کس نه روایت کول دی چې راوي په اصل کې له ده څخه حدیث نه وي اوریدلی، او دا روایت په دغسې لفظ سره شوی وي چې د سماع احتمال ولري. خو د خفي ارسال او د اسناد تدلیس فرق په دې کیدی چې مدلس ( تدلیس کوونکی ) له همدې شیخ څخه نور احادیث اوریدلي وي، او دغه حدیث یې له هغه څخه نه وي روایت کړي، یعنې شیخ یې په نورو احادیثو کې استاد وې نه په دغه حدیث کې چې تدلیس یې پکې کړی وي. خو د خفي ارسال، مرسل هیڅ کله له دغه شیخ څخه کوم بل حدیث هم نه وي اوریدلی، یعنې دغه شیخ د مرسل استاد نه دی، نه پدغه حدیث کې او نه په نورو احادیثو کې خو د راوي او شیخ ترمینځ، لیدنه او کتنه معلومه نه وي او دواړو په یوه عصر کې ژوند کړی وي.

د تدلیس او خفي ارسال د پیژندنې لاملونه مخ کې بیان شول چې بیا یې ذکر کولو ته ضرورت نشته.

**د خفي مشکل حکم:** حکم یې دا دی چې دغه ډول حدیث له ضعیفو احادیثو څخه دی چې د سند اتصال پکې موجود نه وي.

# پنځم فصل

## د راوي د طعن اسباب

په راوي کې د طعن اسباب لس سببه دي چې ځینې یې له ځینې نورو څخه شدید دي.
له دې جملې څخه پنځه سببه د راوي عدالت ته راجع کیږي چې عبارت دي له:
دروا غ، په درواغو متهم کیدل، فسق، بدعت او جهالت.
پنځه نور یې د راوي ضبط ته راجع کیږي چې عبارت دي له:
غلطي، فحش، د غفلت زیاتوالی، د ثقاتو سره مخالف او د حافظې بدوالی دی. چې دغه اسباب، د حدیث په ردولوکې د تاثیر د زیاتوالی په ترتیب سره په لاندې توګه بیانیږي:

**لمړی سبب**: په نبي کریم^ص^ باندې د راوي دروا غ ویل. دغه ډول خبر یعنې په درواغو سره نبي کریم ته د خبر نسبت ورکول د موضوعي خبر په نوم، نومول کیږي، چې اوس د موضوعي خبر په تعریف پیل کوو.

**موضوعي خبر او د هغه د روایت حکم:**

وضع په لغت کې د اختلاق او یا د افتراء په معنی ده، موضوعي خبر له ځان نه جوړ شوی او د درواغو خبر دی چې رسول الله ته یې په درواغو نسبت کیږي.

**موضوعي حدیث**: موضوع د اسم مفعول صیغه ده چې د ( وضع الشی ای حطه ) څخه اخیستل شوی دی چې د کم شمیرلو او ټیټولو معنی ورکوي او په دغه نوم له دې کبله مسمی شوی چې د هغه مرتبه او منزلت د صحیح حدیث نه ډیره کمه او ښکته ده.

**د موضوعي حدیث معنی د محدثینو په اصطلاح**: دا هغه حدیث دی چې راوي یې په نبی کریم^ص^ باندې درواغ وتړي.

د موضوعي اخبارو او موضوعي احـــــادیثو روایت مطلقاً جواز نه لري، مګر په هغه

صورت کې چې د وضع علت يې هم نقل کړی. دا ځکه چې رسول اللهؐ فرمايلي دي: (من حدث عنی حديثاً يری أته کذب فهو احد الکذابين) يعنې څوک چې له ما نه حديث بيان کړي په داسې حال کې چې په درواغويې پوه وي، دغه کس يو له درواغجنو څخه دی. دا حديث امام مسلم روايت کړی دی.

## د خبر د وضع کولو اسباب

د خبراو يا د حديث د وضع کولو اسباب ډير زيات دي، له هغه جملې څخه کولی شو دغه لاندينې موارد بيان کړو:

١. ځينی کسان الله تعالی ته د تقرب په قصد د احاديثو په وضع کولو لاس پورې کوي تر څو خلک د الله تعالی عبادت ته تشويق او له الهي عذاب څخه يې د جرايمو د ارتکاب په صورت کې، وبيروي.

داسې کسان فکر کوي چې دوی ټولنيز مصلحان او زاهدان دي او د همدغه فکر په درلودلوسره د احاديثو په وضع کولو لاس پورې کوي په داسې حال کې چې دوی د حديث د وضاعينو له جملې څخه ډير بد او ناوړه قشر دی. دا ځکه چې دوی خپل ځانونه د خلکو د باور وړ ګرځولي په اصلاح او مصلحانو يې شهرت لاس ته راوړی دی.

٢. تملق، چاپلوسي او حاکمې طبقې ته نيږدې کيدل:

ځينې کسان شته دي چې منصب ته د رسيدو او حاکمې طبقې ته د نږدې کيدو په هيله، د حکامو د ميل په مطابق يې د احاديثو په وضع کولو لاس پورې کړی. د مثال په توګه د تاريخي قصو په لړ کې ذکر شوی چې غياث ابن ابراهيم نخعی کوفی د مسلمانانو د امير مهدي عباسی د خوشحالی په خاطر چې کوترې يې ساتلې او کوتر بازي يې خوښيدله، حديث وضع کړی او داسې يې ويلي دي: حدثنا فلان .... او د حديث سند يې ورساوه او داسې يې وويل: اَنَّ النبی صلی الله عليه و سلم قال: لا سبق الا فی نصل او خف اوحافر او جناح.

د (جناح) کلمه يې په يورتني حديث کې د مهدي عباسي د خوشحالۍ په خاطر چې د (وزر) په معنی ده، وضع کړې ده. خو کله چې مهدي د ده په درواغو پوه شو، د ټولو کوترو په حلالولويې امر وکړ.

پورتنی حديث د اصحاب سنن لخوا د (جناح) د کلمي نه پرته، نقل شوی دی.

۳. ځينې کسانو له دې کبله چې دين د خلکو په اذهانوکې مغشوش کړي، د احاديثو په وضع کولويې لاس پورې کړی دی.

۴. ځينې نوروکسانو، په دې خاطر چې يوه لقمه روزي لاس ته راوړي د قصه کونکو په شان چې د منفعت د لاس ته راوړلو څخه پرته بل هيڅ هدف يې نه درلود، د احاديثو په وضع کولو لاس پورې کړئ دی.

۵. ځينې کسانو د يوه مذهبي او يا سياسي نظر نه د دفاع په خاطر احاديث وضع کړي دي.

۶. داسې نور کسان هم شته دي چې د خلکو د متعجب کولو او يا د شهرت موندلو لپاره احاديث وضع کړي دي.

## د حديث وضع کولو د پيژندلو وسيله

د حديث وضع کولو د پيژندلو وسيلې ډيرې زياتې دي، له هغې جملې څخه دغه لاندې وسيلې بيانوو:

۱. د حديث د واضع اقرار دی په وضع باندې.

۲. دحديث د واضع نه داسې شی صادر شي چې د حديث په وضع کېدو دلالت وکړي او يا د حديث په وضعه کېدو د اقرار حيثيت ولري. مثلاً راوي د داسې شيخ نه راويت کړی وی که له ده څخه پوښتنه وشي چې په کوم تاريخ تولد شوی دی، داسې تاريخ ووايي چې د شيخ وفـــات له هغه نه مخ

کې شوی وي.

۳. کیدی شي چې د حدیث وضعه په هغه قرینه وپیژندل شي چې د موضوعي حدیث په راوي کې موجوده وي. د مثال په توګه یو کس چې یوه خاص مذهب او یا مفکورې ته منسوب وي، هغه داسې حدیث روایت کړی چې د هماغه خاص مذهب او یا مفکورې په فضیلت دلالت ولري. په دې ځای کې مفکوره او یا خاص مذهب چې حدیث د هغه په فضیلت دلالت کوي، د حدیث په وضعه باندې قرینه بلل کیږي.

۴. یا کیدی شي چې وضعه په داسې قرینه وپیژندل شي چې هغه په خپله مروي ( حدیث ) کې موجوده وي. د مثال په توګه په حدیث کې داسې الفاظ استعمال شوي وي چې معنایي رکیکه او د سمع او عقل او یا د قرآنکریم د صریع نصوصو سره مخالفه وي.

په دې هکله امام ابن جوزي داسې وایي:

کله مو چې یو حدیث مشاهده کړ چې معنایې د عقل نه مغایره، د نقل نه مخالفه او د اصولو بر عکس وي، نو پوه شی چې دغه شان حدیث د عقل او نقل سره د مخالفت په خاطر یو موضوعي حدیث دی.

**د موضوعي حدیث حکم:**

د علماوو د اجماع په اساس د موضوعي حدیث روایت جواز نه لري، مګر په هغه صورت کې چې د وضعي علت یې هم بیان کړی، تر څو چې خلک پوه شي چې دغه حدیث موضوعي حدیث دی.

**د کرامیه طائفي نظر:**

د غه طائفه وایي چې د موضوعي حدیث روایت د ترغیب او ترهیب په خاطر جواز لري. دوی استدلال کوي چې د ( من كَذَّبَ على متعمداً.... ) حدیث په ځینې طریقو کې د ( لیضل الناس ) جمله زیاته شوې ده، خو دغه زیاتوالی د حفاظو له نظره ثابت نه وي.

دا ډول موضوعي احاديث د ډيرو تفاسيرو د (فضائل القرآن والسور) په برخه کې ذکر شوي دي.

## په راوي کې د طعن
## دوهم سبب

په راوي کې د طعن دوهم سبب دکذب تهمت دی. او تهمت په کذب سره دا دی چې راوي د خلکو سره په خبروکې په کذب معروف وي او يا يې يوازې داسې روايت کړی وي چې د اساسي قواعدو او ديني ضرورياتو سره په مخالفت کی واقع وي يعنې هرومرو به د ديني اصولو مخالف وي.

د دغه ډول راوي حديث د ( متروک خبر ) په نامه نومول شوی دی.

**متروک حديث:** عبارت له هغه حديث څخه دی چې راوي يې په کذب متهم وي. ځينې وايي چې متروک حديث هغه دی چې راوي يې په غفلت متهم او وهم يې زيات وي. دا ډول حديث هم متروک بلل کيږي.

مثال يې هغه احاديث دی چې دقيقي تصديق کړی له فرقد عن سمرة او هغه له ابوبکر رضی الله عنه څخه روايت کړی دی. او هم هغه احاديث دي چې عمرو بن شمر له جابر الجعضي او هغه حارث له علی ابی طلب څخه روايت کړي.

## دريم، څلورم او پنځم
## سبب

په راوي کې فاحشه غلطي، زيات غفلت او فسق چې کفر ته نه وي رسيدلی: هغه خبر چې په راوي کې يې فاحشه غلطي، زيات غفلت او فسق چې کفر ته نه وي رسيدلي، د متروک حديث په نامه يادېږي. دا د هغه چا په نزد چې منکر خبر يوازې

په ضعیف پورې نه منحصر کوي چې مخالف د ثقه وي. مثال یې دا حدیث دی چې نسائي او ابن ماجه د ابی ذکیر له طریقې نه له یحیی بن قیس نه هغه له هشام بن عروة نه او هغه له خپل پلار نه او هغه له عائشه څخه مرفوع روایت کړ چې نبی کریم ص ویلي: کلوا البلح بالتمر فان ابن آدم اذا اکله غضب الشیطان. نسائی ویلي دي چه دغه حدیث منکر دی یوازې ابو ذکیر یحیی بن محمد چه یو صالـــــح شیخ دی، نقل کړی، خـــو داسې مرتبې ته نه وي رسیدلی چې تفرد ( یوازېوالی ) یې د قبول وړ وګرځي. او منګر یې داسې تعریف کړئ دی:

المنکر هو ما رواه المر جوح (الضعیف) مخالفاً لما رواه الراجح (الثقة) یعنې منکر عبارت له هغه حدیث څخه دی چې راوي یې ضعیف وي او په مقابل کې یې داسې مخالف حدیث موجود وي چې راوي یې ثقه وي.

**د منکر حدیث حکم**: دا ډول حدیث، ضعیف دی ځکه چې په راوي کې یې د ضبط شرط موجود نه دی.

## شپږم سبب

## د راوي وهم

وهم یو صفت دی چې کله نا کله په شخص کې پیدا کیږي او د توهم په طریقه حدیث روایت کوي.

نو کله چې د راوي د طعن سبب ( وهم ) وي، حدیث ته یې، معلل حدیث ویل کیږي، یعنې په راوي کې یو علت شته دی نو له دې کبله حدیث یې معلل بلل کیږي.

**معلل حدیث**: معلل د اسم مفعول صیغه ده د معلول په معنی دی چې له ( اَعَلَّه ) او یا له ( اَعَلَّلَهُ ) نه اخیستل شوی چې معنایې ترک کول ده. د محدثینو په اصطلاح معلل هغه حدیث دی چې په ظاهر کې سالم معلومیږي خو وروسته له هغه چې د علم حدیث د عالمانو لخوا په هغه کې تتبع وشي نقص یې ظاهر او ښکاره شي.

**د معلل حدیث حکم**: له دې کبله چې د معلل حدیث په راوي کې د ( ضبط ) شرط موجود نه دی، دا ډول حدیث ضعیف بلل شوی دی.
څرنګه چې وهم په سند کې د موقوف حدیث، د مرفوع کولو او یا د منقطع حدیث د وصل کولو په خاطر را پیدا کیږي په همدغه شان د یوه حدیث په متن کې د بل حدیث متن د داخلولو په وجه هم را پیدا کیږي.
د هغه حدیث پیژندل چې وهم پکې واقع شوی وي، ډیر مشکل دی مګر په هغه صورت کې چې الله ج یوه شخص ته ډیر عالي ذکاوت، ښه ذهن او د راویانو په مرتبو او د احادیثو د متن په هکله پوره او کافي معلومات ورپه برخه کړی وي. وهم په اصل کې په دوه ډوله دی. چې یو یې ( قادح ) یعنې زیان راوړونکی وهم دی، بل یې غیر قادح وهم دی.
قادح وهم لکه هغه علت چې د ارسال په واسطه رامینځ ته شوی وي.
غیر قادح وهم لکه هغه علت چې دیوه راوي په نامه کې دوهم کولو په واسطه راغلی وي.
دوهم پیژندنه په داسې توګه کیږي چې خبر به یا فرد حدیث وي او یا به د زیاتو طریقو لرونکی وي. د فرد حدیث په سند کې د عیب او زیان موجودیت باعث کیږي چې په متن کې یې هم زیان موجود کړی او همدا ډول عکس یې. په هغه حدیث کې چې د زیاتو طریقو په واسطه یې روایت شوی وي، په سند او یا متن کې یې د عیب موجودیت باعث نه کیږي چې په بل لوري کې عیب راولي.
د غیر قادح وهم مثال چې یوازې په سند کې موجود وي:
یعلی بن عبید الطنافسی چې د صحیح رجالو له جملې څخه دی له سفیان ثوري څخه، هغه له عمرو بن دینار نه او هغه له ابن عمر رض او هغه له نبی کریم ص نه روایت کړی چې: ( البیعان بالخیار ...) په یورتنې حدیث کې یعلی بن عبید په سفیان باندې د دغه قول په هکله ( عمرو بن دینار ) وهم کړی دی، ځکه چې په دغه حدیث کې د سفیان روایت له عبدالله بن دینار د هغه له ابن عمر رض، څخه مشهور دی. نو په دې وجه

يعلى بن عبيد د ثوري په مورد، ضعيف او په نورو روايتونو کې ثقه دی. د هغه حديث مثال چې وهم يې په متن کې وي:

د ابی سعيد بن ابی مريم روايت دی له مالک څخه، هغه له زهرې نه هغه له انس[رض] نه په مرفوع توګه روايت کړی: لاتباغضوا و لاتحاسدوا ولاتدا بروا و لاتنا فسوا.

په دغه حديث کې د ( ولاتنافسوا ) عبارت ابن ابی مريم د بل حديث نه چې مالک له اعرج نه، هغه له ابی هريرة څخه په مرفوع توګه، روايت کړی دی، را نقل کړی چې هغه حديث په لاندې ډول دی:

اياکم و الظن فان الظن اکذب الحديث. ولاتجسسو اولاتنا فسواولاتحاسدوا.

دغه پورتني حديثونه دواړه منفق عاليهما دي، پرته د ( ولاتنافسوا ) عبارت څخه چې هغه يوازې مسلم روايت کړی دی.

**دوهم تعريف:** وهم عبارت دی له تفرد، د راوي څخه او مخالفت يې له غير سره. په راوي کې دوهم د معلومولو طريقه دا ده چې د حديث ټولې طريقې سره يو ځای شي او وکتل شي تر څو د راويان تر مينځ په ضبط او اتقان کې اختلاف څرګند او واضح شي. په دغه پيږدنه کې د لاندې شيانو څخه استفاده کيږي:

الف: يو يې د راوي تفرد دی د حديث په روايت کی چې بل کس نه وي روايت کړی همدغه نکته تر بحث او څېړنې لاندې نيول کيږي.

ب: بل دا چې نور روايتونه او يا روايت، ورسره مخالف وي.

ج: ټولې هغه طريقې او اسناد چې د يوه حديث په موضوع کې موجود وي، راجمع کړل شي، بيا د راويانو، د ضبط، عدالت او اختلاف په باره کې بحث وشي. په يوه حديث کې د علت کشفول په پراخه معلوماتو، قوي حافظه او دقيق فهم پورې اړه لري او هر څوک د دغه کار او عهدی څخه نشي راوتلی، لکه امام بخاري، ابن المديني، امام احمد بن حنبل، ابوحاتم امرازی، سفيان ثوری، دارقطنی او داسې نور.

## اوم سبب

## د راوي مخالف له ثقاتو سره

**د راوي مخالفت له ثقاتو سره په شپږ ډوله دی:**

۱. **مدرج حديث:** د مدرج (کلمه) د (ادرجت الشيئ فی الشيئ) څخه اخيستل شوی ده ادراج يې مصدر دی يعنې د يوه شی داخلول دی په بل شي کې، او مدرج حديث په دوه ډوله دی:

**لومړی: مدرج الاسناد:** مدرج الاسناد هغه حديث دی چې په اصلي اسناد کې يې تغيير راغلی وي. په سند کی د ادراج شکل داسې دی، چې راوي دوه حديثونه چې مختلف سندونه لري په يوه اسناد نقل کړي او يا يو حديث په خپل خاص او اړوند اسناد روايت کړی او د بل حديث نه هم يو څه يکې علاوه کړي.

**د ادراج شکلونه:** د مثال په توګه د يوه راوي سره متن او اسناد موجود دي، خو د اسناد طرف ورسره نشته، لکن بل اسناد چې ورسره موجود دي د اول اسناد سره يو ځای کوي او په تام او پوره شکل يې روايت کوي.

راوي يو خبر د خپل شيخ نه اوريدلی، مګر يوه برخه يې له هغه نه، نه ده اوريدلې. خو د بل کس په واسطه يې اوريدلې ده. بيايې په تام او پوره شکل روايت کوي او وسط يې حذفوي.

مثلاً راوي به يو خبر د يو شمېر زياتو راويانو څخه چې په اسناد کې سره مختلف دي. اوريدلي وي، خو راوي دغه خبر پرته له اختلاف نه چې په اسناد کې موجود دي، روايت کړی.

**دوهم مدرج المتن حديث:**

مدرج المتن هغه حديث دی چې راوي خپل کلام او يا د بل چا کلام د يوه حديث په متن کې بدون د فاصلې څخه داخل کړی. او يا د يوه حديث په متن کې د بل حديث د متن يوه برخه چی ځانګړي سند ولري داخل کړی.

ادارج غالباً د يوه حديث په آخر او اول کې واقع کيږي او د حديث په وسط کې ډير کم صورت مومي. هغه حديث چې په اول کې يې ادراج واقع شوی وي دا دی چې خطيب د ابی قطن د طريقه او شبابة له محمد بن زياد نه او هغه له ابو هريرة څخه مرفوعاً روايت کړی:

(اسبغوا الوضوء _ ويل للا عقاب من النار).

په يورتني حديث کې د (اسبغو الوضوء) عبارت د ابو هريرة قول دی. ځکه امام بخاري دغه حديث د آدم بن ابی اياس هغه له شعبة او هغه له محمد بن زياد نه چې هغه له ابو هريرة نه روايت کړی چې ابو هريرة وويل: اسبغوا الوضوء فان ابا القاسم صلى الله عليه قال: ويل للاعقاب من النار.

**د ادراج اسباب او لاملونه:**

په حديث کې د ادراج اسباب او لاملونه ډير زيات دي خو مشهور سببونه يې په لاندې توګه بيانيږي:

١. په حديث کې د غريب لفظ تفسير او بيان، مخ کې لدې چې د حديث متن پوره او اتمام شي. په دغه صورت کې سامع او يا اوريدونکی ګمان کوي چې دغه تفسير او بيان د حديث د متن څخه دی.

٢. د شرعي حکم بيانول د متن د قرائت په وخت کې.

٣. د حديث نه د حکم استنباط کوم چې د حديث نه معلوميږي مخ کې له دې چې د حديث متن تمام کړي. ځينې سامعين د حکم بيان او يا د هغه استنباط چې محدث او يا راوي د روايت په وخت کې ذکر کړئ،ګمان کوي چې دا هم د حديث د متن يوه برخه ده او بيان يې د متن سره يو ځای روايت کوي.

## په حدیث کې
## د ادراج د معلومولو وسیلې

۱. دا چې ځینې راویان په درج شوي عبارت تصریح وکړي او هغه چا ته یې منسوب کړي جې ذکر کړی یې دی.
۲. د دغسې کلمو نبی کریم ﷺ ته منسوبول، مستحیل وي.
۳. یا دا چې دغه حدیث په بله طریقه هم روایت شوی وي، او ادراج یې معلوم شي.
۴. راوي په خپله په ادراج باندې تصریح وکړي.

**د مدرج حکم**: ټول عالمان د ادراج په حراموالي قائل دي، خو ادراج د غریب لفظ د تفسیر او توضیح په خاطر ممنوع نه دی. له دې کبله امام زهری او ځینې نورو عالمانو په دغه کار لاس پورې کړی دی. حکم یې د حافظې دخرابوالي او یا د راوي د عدم عدالت په خاطر، دا دی چې ضعیف بنودل شوی دی.

## مقلوب حدیث

د مقلوب کلمه د اسم مفعول صیغه ده له (قلب) نه اخیستل شوې ده معنایې په بل طرف د یوه شي اړه ول دي.

**د مقلوب معنی په اصطلاح کې**: هغه حدیث دی چه په سند او یا متن کې یې یو لفظ پر بل لفظ باندې مخ کې او یا وروسته شوی وي او یا د یوه متن سند د متن د سند سره تبدیل شوی وي.

**د مقلوب حدیث اقسام:**

۱. **مقلوب المتن**: دا هغه حدیث دی چې په متن کې یې ابدال راغلی وي، چې په دوه ډوله دی:

يو يې دا دی چې راوي د متن په يوه برخه کې تقديم او تأخير راولي.
بل يې دا دی چې د يوه حديث سند د بل حديث د متن سره او د هغه متن د بل له سند سره پيوست کړل شي. لکه چې د بغداد عالمانو د امام بخاري د امتحانولو په خاطر د سلو حديثونو متن او سند يو له بل سره بدل او مقلوب کړل.
خو امام بخاري هر متن د هغه د خپل سند سره يو ځای او پيوست کړ.

۲. **مقلوب السند: عبارت له هغه مقلوب څخه دی چې د يوه حديث په سند** کې تقديم او تأخير راغلی وي. د مثال په توګه، مرة بن کعب او کعب بن مرة. چې د يوه راوي نوم د بل راوي د پلار د نوم سره يو شانته وي او حديث يې له هغه څخه روايت کړی وي.

د هغه قلب مثال چې د حديث په متن کې واقع شوی وي دغه لاندينی حديث دی چې امام مسلم يې روايت کړی: (سبعة الذين يظلهم الله في ظله يوم لا ظل الاظله) چې په هغه کې راغلي دي: ورجل تصدق بصدقة فاخفاها حتى لا تعلم يمينه ما انفقت شماله. چې د حديث په اصل کي داسي راغلي: «حتى لا تعلم شماله ما تنفق يميته» چې شماله لفظ ديمينه د لفظ څخه مخ کې راغلی دی.

۳. **د متصل الاسانيد مزيد خبر:**

**مزيد:** اسم مفعول دی له زيادت څخه اخيستل شوی او فعل يې ( زاد ) دی چې په اصل کې (زَيَدَ) و. او يا دا چې د مزيد لفظ، ميمي مصدر دی چې په اصل کـــې له (زاديزيد، زيداً، زيادةً او (مزيداً) له جملې څخـــه دی، اسم فاعل يې (زائد) دی.

**متصل:** متصل د منقطع ضد دی. اسانيد، د سند او يا د اسناد جمعه ده.

**مزيد د محدثينو په اصطلاح:** عبارت له هغه زيادت څخه دی چې يو راوي په سند کې زيات کړل شي چې په ظاهر کې يې اتصال معلوميږي.

دغه زيادت په دوو شرطونو، رد کيدی شي او د زياتونکی د (وهم) په شان بلل کيږي:

۱. هغه چا چې دغه زیاتوالی نه وي ذکر کړي هغه ارجح یا اوثق او یا اتقن وي
له هغه کس نه چې دغه زیاتوالی یې ذکر کړی دی.

۲. بل دا چې د متقن او یا د اوثق لخوا د زیادت په موضع کې په سماع تصریح شوې وي. که دغه دوه شرطونه او یا یو له هغو څخه موجود نه وي، په دې صورت کې زیادت ته ترجیح ورکول کیږي، او د قبول وړ ګرځي. او هغه حدیث چې له زیادت څخه خالي وي د منقطع په شان مردود او ضعیف بلل کیږي.

**د مثال په توګه:** امام مسلم او ترمذي د عبدالله ابن المبارک له طریقې نه د عبدالـــرحمن بن یزید بن جـــابر نه او هغه له بسر بن عبیدالله نه او هغه له ابی ادریس (الخولانی) څخه او هغه له واثلة بن الاسقع نه او هغه له ابی مرشد الغنوي نه چې داسې یې ویلي دي: قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لا تجلسوا علی القبور و لاتصلوا الیها. یعنې په قبرونو ناسته او هغې خوا ته لمونځ مکوي. امام ترمذي ویلي دي چې: قال محمد بن اسماعیل: حدیث ابن المبارک خطا اخطأ فیه ابن المبارک فزاد فیه: عن ابی ادریس، و انما هو بسر بن عبیدالله عن واثلة.
یعنې امام ترمذي ویلي دي چې محمد بن اسماعیل وایي چې د ابن المبارک حدیث خطأ او ابن المبارک پکې تیر وتلی دی ځکه ده، د ( عن ابی ادریس ) عبارت پکې زیات کړی دی، حال دا چې د ابی ادریس په ځای بسر بن عبیدالله دی چې د واثلة، څخه یې روایت کړی دی.

۳. **مضطرب خبر:**
مضطرب د ( راء ) په کسرې سره د اسم فاعل صیغه ده چې له اضطراب نه اخیستل شوی دی او د اختلال معنی ورکوي.

**د مضطرب معنی د محدثینوله نظره:**

مضطرب په اصطلاح کې عبارت له هغه حدیث نه دی چې د مختلفو طریقونه روایت شوی وي او دغه طریقې به یو له بل سره د قوت په لحاظ مساوي وي، د جمعه کولو او تطبیق امکـــان یې موجود نه وي، او د مساوات له وجهې یو په بل باندې د ترجیح امکان یې هم موجود نه وي.

اضطراب په حدیث کې د ضعف باعث کیږي ځکه چې د راویانو د ضبط په نشتوالي دلالت کوي. که د مضطرب حدیث یوه طریقه، د راوي د ضبط په وجه یاد مروي عنه سره د زیات ملاقات په وجه، ترجیح وومومي، په دغه حالت کې د مضطرب حدیث حکم هغه طریقې ته نسبت ورکول کیږي چې په نورو طریقو باندې ارجحیت لري.

په دغه حالت کې یاد شوی حدیث ته د اضطراب وصف او حکم نه ورکول کیږي.

لدې کبله په حدیث کې د اضطراب د تحقق لپاره دوه شرطونه ضروري دي:

١. د حدیث په روایاتو کې د اختلاف موجود والی دی چې د جمعې او تطبیق امکان یې موجود نه وې.

٢. په روایانو کې د قوت په لحاظ، د مساوات موجود والی دی چې په هیڅ وجه یو روایت په نورو روایتونو باندې ترجیح ونلري.

مضطرب حدیث په دوه قسمه دی:

الف: مضطرب السند حدیث: مثال یې د ابوبکر صدیق(رض) حدیث دی چې رسول کریم(ص) ته یې وویل: یا رسول الله أراک شِبْتَ قال: شَیَّبَتْنِیْ هودٌ و اخواتها ای سورة الواقعة والقارعة و الحاقة و اذا الشمس کورت.

دغه حدیث ځینې راویانو مرسل ځینې نورو، معلق او ځینې نورو متصل او ځینې نورو منقطع روایت کړی دی.

ب: مضطرب المتن حدیث: مثال یې د امام ترمذي حدیث دی چې له فاطمه بنت القیس(رض) ښځه یې روایت کړی چې هغه ویلي دي: د رسول اکرم(ص)

څخه د زکات په هکله پوښتنه وشوه، هغه مبارک په ځواب کې وویل: (اِنَّ فی المال لحقاً سوی الزکاة).

خو امام ابن ماجه له همدې طریقې څخه په داسې لفظ روایت کړی دی: (لیس فی المال حق سوی الزکاة).

حافظ عراقي وايي چې دغه اضطراب د تأويل احتمال نه لري، او ځينې نور پوهان وايي چې تأويل يې ممکن دی.

ځکه چې دواړه لفظونه له رسول الله څخه روايت شوی دی، او مقصد له حق څخه چې په لمړي حديث کې ثابت شوی دی، غير د حق واجبه څخه دی. لکه نفلي صدقه او د ميلمه حق چې د اکرام الضيف په نوم ياديږي.

او د هغه حق څخه چې په دويم حديث کې نفي شوی دی، واجب حق مراد دی.

اضطراب کله له یوه راوي څخه واقع کيږي چې يو حديث يې په يوه طريقه او کله يې په بله مخالفه طريقه روايت کړی وي.

کله کيدی شي چې اضطراب د يوه جماعت لخوا واقع شي چې هر يو يې په يوه طريقه روايت کړی چې د نورو طريقو سره مخالفه وي.

د مضطرب حديث حکم دا دي چې د ضعيفو احاديثو له جملي څخه دی. ځکه اضطراب په حديث کې د راوي او راويانو د ضبط په نشتوالی دلالت کوي نو له دې کبله ضعيف ښودل شوی دی.

۴. **مصحف حديث:**

مصحف له تصحيف نه اخيستل شوی دی چې د صحيفې په کتابت او قرائت کې د تغير او خطاء معنی ورکوي.

**په اصطلاح کې د تصحيف معنی:** په حديث کې د يوه لفظ تغييرول دي چې د لفظ او معنی له لحاظه د هغه څه سره مخالفت ولري کوم چې ثقه راويانو يې روايت کړی وي او په دوه ډوله دی:

۱.	**د اسناد تصحيف.**

۲.	**د متن تصحيف.**

**د اسناد د تصحيف مثال:** د شعبه حديث دی چې له العوام بن مراحم (حاء مهمله يا جيم) څخه او هغه له ابو عثمان النهدي نه او هغه له عثمان بن عفان^رض^ نه روايت کړی چې هغه وويل: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لَتُؤَدُنَّ الحقوق الى اهلها.

يحيى ابن معين د پورتني حديث په سند کې تصحيف کړی او ويلي يې دي: (العوام بن مزاحم) په (زاء او حاء مهله) د (راء او جيم) په عوض.

د متن د تصحيف مثال: دغه مبارک حديث چې داسې وايي: من صام رمضان و اتبعه ستاً من شوال... الحديث. دغه حديث مسلم روايت کړی دی.

پورتنی مبارک حديث، ابوبکر الصلي تصحيف کړی او داسې يې ويلي دي. ( شيئا ) د ( ستاً ) په عوض.

د تصحيف اسباب په لاندې ډول بيانيږي:

۱. **د بصر تصحيف:** دا هغه تصحيف دی چې د خط د خرابوالي په سبب او يا د نقطو د نشتوالی په سبب يوه او يا دوی کلمې د لوستوونکي په سترګو کې مشتبه شي او هغه يې د کلمې په تغيير غلط نقل کړي، لکه پورتنی مثال چې ځينې راويانو د (ستاً) کلمه په (شيئاً) عوض او تصحيف کړېی ده.

۲. کيدی شي چې راوي د حس سامعې د کمزوری په وجه او يا دا چې شيخ خپل شاګرد ته حديث په ډيره بيړه قرائت کړی وي، يوه کلمه او يا عبارت غلط اوريدلی وي او بيا يې نورو ته نقل کړی.

د مثال په توګه د ( عاصم الأحول ) څخه حديث روايت شوی دی. خو ځينې راويانو پورتنی عبارت د ( واصل الاحدب ) په لفظ روايت کړی دی.

۳. **تصحیف په معنی کې:** تصحیف په معنی کې داسې دی چې د یوې کلمې څخه اصلي معنی اراده نه شي بلکه د توهم په وجه یوه بله معنی ترې واخسیتل شي او توهم داسې وي چې همدغه معنی مطلوبه ده.

۴. **محرف حدیث:** محرف هغه حدیث دی چې په یوه حرف او یا له یوه نه زیاتو حروفو کې شکلي تغییر راغلی وي خو د خط اصلي صورت په خپل حال باقي وي.

د مثال په توګه په سند کې د ( عَقیل ) تحریفول چې عین یې فتحه لري په ( عُقیل ) باندې چې عین یې ضمه لري.

په متن کې د تحریف مثال د جابر[رض] حدیث دی چې متن یې داسې دی: ( رُمِیْ اُبیٌّ یَومَ الاَحْزَابِ فِیْ اِکْحِلِه ... الحدیث ) چې غندر داسې تعریف کړی دی: ( رمی ابی ) د ( رمی ) په اضافت سره.

په داسې حال کې چې هغه ابی بن کعب ابوجابردي چې د احد په غزوه کې شهید شو.

## اتم سبب

## د راوي مجهولوالی

په راوي کې د طعن له اسبابو څخه یو یې هم د هغه جهالت یا مجهولوالی دی چې د هغه په عدالت پورې مربوط دی.

په راوي کې د جهالت یا مجهولوالی سببونه درې سببه دي.

۱. **د راوې د اوصافو زیاتوالی:** د مثال په توګه یو راوي د ځو نومونو، کنیه، لقب، صفت، حرفه او نسب څخه چې لرونکي یې وي په یوه او یا په دوو صفتونو مشهور شوی وي خو شاګرد یې هغه د کوم غرض په خاطر په داسې نوم او یا کنیه ذکر کوي چې په هغه باندې مشهور شوی نه وي په دغه

حالت کې داسې ګمان کيږي چې دا يو بل راوي دی ځکه چې په هغه صفاتو چې پرې پيژندل شوی دی، ذکر شوی نه دی.

د مثال په توګه: محمد بن السائب الکلبي.

ځينې راويانو هغه خپل جد ته منسوب کړی دی او داسې يې ويلي دي: محمد بن بشر. ځيني نورو د حماد بن السائب په نوم ياد کړی دی او يو تعداد نورو په اسم کنيه باندې ياد کړی يعنې ابوالنضر او نورو د ابوهشام په نوم ياد کړی او بعضې راويانو د ابوسعيد په کنيه ذکر کړی دی او داسې ګمان کيږي چی دا يو جماعت دی په داسې حال کې چې دا ټول يو کس دی.

۲. **د راوي څخه د روايت قلت او کموالی:** هغه راوي چې کم احاديث ورڅخه روايت شوي وي، زيات محدثين او راويان د هغه حديث نه پيژني.

۳. **د راوي په نوم تصريح نه کول:** يعنې کله داسې هم واقع کيږي چې د راوي

په نوم د کوم غرض په خاطر يا د اختصار په وجه تصريح نه کيږي لکه چی: داسې وويل شي: اخبرنی فلان اورجل اوشيخ، او داسې نور.

**د مجهول تعريف:** خطيب بغدادي د مجهول په تعريف کې ويلي دي چې: مجهول هغه راوي دی چې علماء يې نه پيژني او نه د حديث په طلبولو شهرت ولري، او نه يې حديث پيژندل شوی وي مګر يوازې د يوه راوي له طريقې څخه. کومه اندازه چې د راوي نه جهالت رفع کوي هغه له ده څخه د دوو کسانو راويت دی.

مجهول په درې ډوله دی:

**الف: مجهول العين:** مجهول العين هغه کس دی چې نوم يې ذکر شوی وي، خو پرته له يوه راوي څخه بل کس له ده نه راويت نه وي کړی.

حکم يی دا دی چې حديث يې د قبول وړ نه بلل کيږي، مګر په هغه صورت کې د قبول وړ دی چې د حديث د کوم امام لخوا ثقه وبلل شي که څه هم د

هغه کسانو د جملې نه وي چه له ده څخه يې راويت کړی وي، خو په دې شرط چې توثيق کوونکی د جرحې او تعديل صلاحيت ولري.

ب: **مجهول الحال**: مجهول الحال د مستور په نامه هم يادېږي، عبارت له هغه راوي نه دی چې دووکسانو او يا له دوو نه زياتو کسانو له هغه څخه روايت کړی وي. خو د کوم امام له خوا يې توثيق نه وي شوی.

د دغسې راوي د روايت حکم توقف دی تر هغه وخته چې حال يې واضح او روښانه شي.

ج: **مبهم**: مبهم هغه راوي دی چې د اختصار په خاطر نوم يې په حديث کې نه وي ذکر شوی. د مثال په توګه ( فلان او يا شيخ ) او داسې نور ذکر کړل شي.

د روايت حکم يې دا دی چې د قبول وړ نشي کيدی تر هغه وخته چې نوم يې وپيژندل شي، ځکه د نوم مجهولوالی د هغه د عدالت او ضبط د مجهوالی باعث پاتې کيږي. که چېرته يو رواي د تعديل په شکل مبهم ذکر شي، روايت يې د قبول وړ کيدی شي او يا د قبول وړ نه ګرځي؟

مثلاً داسې ووايي: اخبرنی الثقة، او العدل او الضابط.

بايد په ځواب کې ووايو: اصح قول په دې هکله دا دی چی دغه روايت د قبول وړ نه دی. ځکه کله داسې کيدی شي چې دغه شخص د تعديل کونکي له نظره عادل او د ضبط خاوند وي، خو د نورو محوثينو به نظره په عادل او د ضبط خاوند نه وي او د هغه حديث به د اعتبار وړ نه وي.

## نهم سبب

## بدعت

بدعت د راوي د طعن له اسبابو څخه نهم سبب دی چې د هغه د عدالت سره تعلق لري. بدعت مصدر دی له ( بَدَعَ، بِدْعاً او بِدْعةً ) څخه اخيستل شوی دی. بَدَعَ الشيئ ای اخترَعه و صنعه لا علی مثال سابق او بَدَعَ بمعنی أنشأ او ما احدث علی غير مثال سابق.

يعنې يو شی يې اختراع کړ او جوړيې کړ په خلاف د سابق. يا يې انشاءکړ په خلاف د سابق سره.

بدعت د محدثينو په اصطلاح کې هغه نوی شی دی چې د دين د اکمال نه وروسته پيدا او ايجاد شوی وي. يا هغه څه ته ويل کيږي چې د نبی کريم ﷺ د عصر نه وروسته ايجاد شوی وي چې د هواء د اعمالو څخه شمېرل کيږي او يا هغه شيانو ته ويل کيږي چې د دين په خلاف وروسته د خلافت راشده د عصر نه ايجاد شوی وي. چې په دې اساس د بدعت لفظ مذموم او محمود دواړو ته شامليږي. خو د بدعت لفظ شرعاً په مذموم شي پورې مختص شوی دی هغه چې د معروف خلاف وي.

**بدعت په دوه ډوله دی:**

١. **مکفره بدعت** دی چې ايجادونکی يې وربانديې کافر کيږي د مثال په توګه د هغه څه نه انکار وکړي چې په تواتر سره په دين کې د ټولو د قبول وړ او اتفاق وربانديې راغلی وي، او يا په هغه څه اعتقاد وکړي چې مستلزم د کفر وي.

٢. **مفسقه بدعت:** دا هغه بدعت دی چې خاوند يې وربانديې فاسق کيږي، فسق د حقې لارې څخه د وتلو په معنی دی.

**د مبتدع د روایت حکم:**

**که چېرته د مبتدع بدعت د کفر مقتضي وي، د هغه روایت مردود او د قبول وړ نه دی. او که بدعت مقتضي د فسق وي، روایت یې د جمهورو علماوو له نظره د قبول وړ دی خو چې دوه لاندیني شرطونه پکې موجود وي:**

**۱. روایت یې باید داعي د بدعت نه وي.**

**۲. داسې روایت ونکړي چې بدعت ترویج او د خلکو په مینځ کې یې خپور کړي.**

# لسم سبب

## د حافظې بد والی

د راوي د طعن لسم او آخرينی سبب د حفظ بد والی او کمزوري ده د حفظ د کمزوري تعريف: سيئ الحفظ راوي هغه کس دی چې د صدق، راستی او حقيقت جانب يې د خطأ په جانب ترجيح ونلري.

سيئ الحفظ راوي په دوه ډوله دي:

الف) يو يې هغه دی چې سوً الحفظ د پيدا کيدو د پيل نه په ټولو حالاتو کې ورسره ملازم او ملګری وي. د دغسې راوي حديث د ځينې علماوو له نظره د شاذ په نوم نومول شوی دی او شاذ هغه حديث دی چې راوي يې ثقه وي خو روايت يې د اوثق راوي د روايت سره مخالف واقع شي. يعنې شاذ حديث د محفوظ حديث عکس دی.

ب) دوهم هغه راوي دی چې سوً الحفظ يې عارضی وي يعنې د سن د لوړ والي يا د ړوند والي او يا د هغه د کتابونو د حريق کيدو او ضايع کيدو په وجه دغه عارضه ورته پيدا شويې وي. دغسې شخص ته مختلط شخص ويل کيږي.

د سيئ الحفظ راوي د روايت حکم: د هغه کس روايت چې سوً الحفظ د ژوند له اول نه په ټولو حالاتو کې ورسره مل وي، دا حکم لري چې مردود دی او د قبول وړ نه ګرځي.

د هغه کس د روايت په هکله چې د مختلط په نوم ياديږي درې قوله موجود دي:

١. هغه حديث يې چې د اختلاط نه تر مخه راويت کړی وي، مقبول دی او عمل ورباندې کيدی شي.
٢. هغه احاديث يې چې د اختلاط نه وروسته روايت کړی وي هغه مردود او د قبول وړ نه دی.
٣. هغه احاديث چې نه معلوميږي چې د اختلاط نه تر مخه روايت شوی دي

او یا وروسته له اختلاط څخه؟ حکم یې توقف دی تر څو چې معلوم شي چې د اختلاط نه تر مخه دی او یا وروسته له اختلاط څخه.

**سوالونه او تمرینونه**

١. د خبر د رد کیدو سببونه کوم دي. هغه حدیث چې د سند څخه د سسقوط په خاطر مردود وي په څو ډوله دي او هر یو یې تعریف کړي.
٢. خفي سقوط او جلي سقوط څه ته وایي؟ جلي سقوط په کوم شي باندې پیژندل کیږي او که نه؟
٣. دغه لاندیني حالتونه ونوموئ:

خبر حذف من سنده راویان متوالیان، و آخر من مبدأ سنده راو و من وسطه اثنان غیر متوالیین.

هغه خبر چې راوي د خپل هم عصر څخه روایت کړئ وي خو له هغه څخه یې نه وي اوریدلي

او له هغه سره یې ملاقات هم نه وي شوی. او بل خبر هم په همدغه ډول وي خو ملاقات یې ورسره شوی وي. دواړه حدیثونه تعریف کړي.

٤. په راوي کې د طعن اسباب څو دي؟ له هغوی څخه کوم یو په عدالت کې د نقصان سبب کیږي، او کوم یې د راوي په حفظ کې نقصان راولي؟

موضوعي خبر کوم دی؟ او د موضوعي خبر د راویت حکم بیان کړئ. متروک خبر کوم دی؟ په کذب باندې د تهمت نه مطلب څه شی دی؟

د وضعي ځینې اسباب او دواعې سره له هغه اسبابو چې وضعه د هغو په خاطر کیږي، بیان کړئ.

هغه خبر چې فاحشه غلطي ولري، یا یې راوي کثیرالغفلة وي یا فاسق وي په کوم

نوم، نومول کیږي؟ معلل خبر کوم دی؟
متني مدرج حدیث او اسنادي مدرج حدیث کوم دی؟ د ادراج حکم څه دی او څنګه پیژندل کیږي؟
مضطرب حدیث کوم دی؟ اضطراب په کوم وخت کې مضر واقع کیږي؟ مصحف او محرف حدیث په مثال کې توضیح کړئ.

۵. په راوي باندې د جهالت اسباب څو دي؟ مجهول العین او مجهول الحال او مبهم کوم دي هر یو یې بیان کړئ.

شرعي بدعت کوم او په څو قسمه دی؟ د مبتدع د روایت حکم څه دی؟ سيئ الحفظ څه معنی لري؟ مختلط کوم او د روایت حکم یې څه دی؟

# دوهمه برخه

## شپږم فصل

### د حدیث تقسیم د سند د انتهاء په لحاظ او یا د هغه چا په اعتبار چې حدیث ورته منسوبیږي.

**د حدیث اقسام د حدیث د سند د آخر په لحاظ:**

حدیث د سند د آخر په لحاظ په څلور قسمه دی. چې عبارت له: قدسي حدیث، مرفوع حدیث، موقوف حدیث او مقطوع حدیث څخه.

١- قدسي حدیث: قدسي په لغت کې منیوب قدس ته دی چې د طهر او پاکی په معنی دی، یعنې هغه حدیث چې اقدس ذات یعنې خدای تعالی په یې نسب شوی وي.

د محدیثونو په اصطلاح کې: هغه حدیث دی چې نسبت یې په ظاهر کې نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته شوی وي په داسې حال کې چې کلام په اصل کې د خدای تعالی لخوا ورته حکایت شوی وي. نو له همدې کبله نبي صلی الله علیه وسلم د حدیث نسبت الله تعالی ته کوي.

د قدسي حدیث مثال: امام مسلم په خپل صحیح کې له ابوذر غفاري رضي الله عنه نه او هغه له نبي کریم صلی الله علیه وسلم نه روایت کړی چې الله تعالی جل جلاله فرمایلي دي: ( یا عبادی حرَّمْتُ الظلم علی نَفسِیْ و جعلته بینکم محرماً فلا تظالموا.....).

ترجمه: ای خلکو ما ظلم په خپل ځان باندې حرام کړی دی او ستاسو په مینځ کې مې حرام گرځولی، نو یو پر بل باندې ظلم مه کوئ....

یا په بل عبارت قدسي حدیث هغه حدیث دی چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم له طریقه روایت شوی وي، خو حضرت محمد (ص) د دغه حدیث نسبت خدای تعالی ته کړی وي.

د قدسي حدیث او قرآنکریم تر مینځ فرقونه زیات دي، خو مهم فرقونه یې په لاندې ډول بیانېږي:

۱. د قرآنکریم قرائت کول عبادت دی، قرائت کونکئ یې په معنی وپوهېږي او یا یې په معنی ونه پوهېږي. خو د قدسي حدیث تلاوت کول عبادت نه دی.

۲. قرآنکریم د تواتر په طریقه د رسول الله څخه رانقل شوی او مونږ ته را رسېدلی دی. په داسې حال کې چې قدسي حدیث اکثراً د آحاد په طریقه له رسول الله څخه روایت شوی دی. په دې معنی چې د قرآنکریم د ثبوت لپاره تواتر شرط دی.خو د قرسي حدیث د ثبوت لپاره تواتر شرط نه دی.

۳. څوک چې د قرآنکریم په نه منکر شي هغه کافر کیږي، خو که د قدسي حدیث نه چې د قرآنکریم د آحاد په طریقه روایت شوی وي، منکر شي، هغه نه کافر کیږي.

۴. قرآنکریم جلي وحی ده چې د حضرت جبرائیل په واسطه د بیدارئ په حال کې، نبي کریم صلی علیه وسلم ته راوړل شوی وي، د قرآنکریم یوه برخه هم د الهام په طریقه او یا د خوب په حال کې په حضرت رسول الله باندې نازله شوې نه ده.

خو کیدی شي چې قدسي حدیث د جلي او یا د خفي وحی په ډول حضرت محمد (ص) ته راوړل شوی وي.

۵. قرآنکریم د جن او بشر د پاره یوه دائمي معجزه ده لکه چې الله تعالی فرمایلي دي: ( قل او اجتمعت الانس و الجن علی أن یأتوا بمثل هذا القرآن لا یأتون بمثله و لوکان بعضهم لبعض ظهیراً ) خو قدسي حدیث دغسې خصوصیت نه لري او تل پاتې معجزه نه ده.

٦. په معنا سره د قرآنکریم روایت کول جواز نلري، خو د قرسي حدیث روایت کول په معنیٰ سره د علماوو له نظره جواز لري په دې شرط چې راوي د احادیثو د الفاظو په معناګانو پوه وي، په راویت کې د حدیث معنیٰ په پوره توګه رعایت کړي، د حدیث په معنیٰ او مفهوم کې خلل وارد نشي.

٧. بې اوداسه او جنب شخص ته د قرآنکریم لمس کول حرام دي، خو قدسي حدیث دغسې نه دی.

٨. په لمانځه کې د قرآنکریم قرائت کول فرض دی، هغه څوک چې توان یې ولري پرته له قرائت نه یې لمونځ جواز نه لري.خو قدسي حدیث دغه حکم نه لري.

٩. د امام احمد له نظره د قرآنکریم خرڅول جواز نلري او د امام شافعی په نزد مکره دی. خو قدسي حدیث دغه حکم نه لري.

په غیر مسلمانو کسانو که اهل کتاب هم وي د قرآنکریم خرڅول د ټولو اسلامي عالمانو په اتفاق سره حرام دی.

## د قدسي او نبوي حدیث تر مینځ توپیر

د قدسي حدیث لفظ او معنیٰ دواړه د الله تعالی له لوري څخه دي چې د حضرت جبرائیل علیه السلام په واسطه په جلي او یا خفي وحی سره په حضرت محمد[ص] باندې نازل شوی دی، چې د قلبي الهام په توګه او یا په خوب کې ورته تلقین شوی وي.

خو د نبوي حدیث لفظ د حضرت محمد[ص] له لوري څخه دی، او معنایې کیدی چې د جبرائیل علیه السلام په واسطه د بیدارۍ په حال کې په نبي کریم[ص] باندې نازله شوی وي، لکه چې امام بخاري په خپل صحیح کې د عمر بن خطاب[رض] روایت کړی چې هغه داسې ویلي دي:

سمعت رسول الله^ص بوادى الحقيق يقول:
( اَتَانِیْ اللية آتٍ مِن رَّبِیْ فقال صل فی هذا الوادی المبارک..... ).
او کله د خفی وحی په شکل په حضرت محمد^ص باندې نازله شوې وي، لکه دغه حدیث:
( ان الروح الأمین نَفَثَ فِیُ رَوْعِیْ اَنَّهُ لَنْ تَمُوْتَ نفس حتی تَستَوْ فِیْ رِزْقَهَا... ).
د ( نَفَسَ فِیْ رَوْعِیْ ) معنیٰ دا ده چې د ما په زړه کې یې الفاء کړ چې هیڅوک نه مري تر هغه چې خپل رزق یې پوره کړی نه وي.
کله داسې کېدای شي چې دغه معنیٰ د حضرت محمد^ص په اجتهاد سره وي، او د حضرت محمد^ص اجتهاد د وحی په شان دی، ځکه که د هغه مبارک اجتهاد په خطاء وای، نو خامخا په اجتهادي تېروتنه باندې د جبرائیل په واسطه تنبیه کېده. لکه چې په ډېرو واقعو کې داسې واقع شویې ده او د هغه د مثالو څخه لاندې مبارک حدیث دی چې امام بخاري په خپل صحیح کې له عبدالله بن عمر^رض څخه راویت کړی او داسې وایي: ( حرق رسول الله^ص نخل بنی النضیر وقطع، وهی البویرة ).
بُوَیْرَةَ، د اَلَبُورَةَ، تصغیر دی چې په مدینه کې د یوه ځای نوم دی.
د خرما د ونو قطع او پرې کول د حضرت محمد^ص په اجتهاد سره، صورت وموند. کله چې یهودو د حضرت محمد^ص په دغه عمل د هغه مبارک په عیب ویلو پیل وکړ، دغه مبارک آیت د حضرت محمد^ص د اجتهاد د تأکید په خاطر نازل شو: ( ما قطعتم من لینة او ترکتموها قائمة علی اصولها فباذن الله ) ( د الحشر سورة ۵ آیت ).
ترجمه: هغه څه مو چې د خرما د ونو څخه پرې کړي دي او یا مو په خپلو بیخونو پرې ایښي دي، هغه د خدای تعالی په امر سره دي.
قدسي حدیث په دوو صبغو روایت کیږي:
الف: قال رسول الله علیه وسلم فیما یرویه عن ربه عزوجل.

ب: قال الله تعالی- او یقول تبارک و تعالی فیما رواه عنه رسوله صلی الله علیه وسلم.

**۲- مرفوع حدیث:**

مرفوع حدیث د اسم مفعول صیغه ده، د ( رفع ) څخه چې د (وضع) ضد ده، اخسیتل شوې ده، له دې خاطره چې نسبت یې د رفیع او اوړ مقام څښتن حضرت محمد^ص^ ته کیږي، د مرفوع په نوم، نومول شوی دی.

په اصطلاح کې د مرفوع حدیث معنی[۱]: هغه حدیث ته ویل کېږي چې سند یې رسول الله^ص^ ته وصل او رسیدلی وي. د مثال په توګه:

قال او فعل او کان رسول الله او فُعِلَ بحضرة النبی^ص^ کذا.

او یا داسې تعریف شوی دی:

هو ما اضیف الی النبی من قول او فعل او تقریر او تصریحاً او حکما، متصل الاسناد او منقطعاً.

یعنې مرفوع حدیث هغه دی چې نسبت یې رسول الله ته شوی وي، قول وي او یا فعل، تقریر وي او یا صفت، نسبت یې صراحتاً شوی وي او یا حکما، سند یې متصل وي او یا منقطع.

د پورتنې تعریف په مخې په مرفوع حدیث کې، مرسل حدیث، متصل حدیث، معلق حدیث او منقطع حدیث شاملیږي. بل دا چې د مرفوع حدیث نسبت باید حضرت محمد^ص^ ته شوی وي. برابره ده چې د حدیث نسبت د صحابي لخوا شوی وي او یا له هغه څخه رابنکته کس لخوا یې حضرت محمد^ص^ ته نسبت شوی وي.

د مرفوع حدیث اقسام شپږ دي:

۱- قولي او صریح مرفوع: د مثال په توګه صحابي داسې ووایی: سمعت رسول الله^ص^ یقول کذا. او صحابي یا له هغه نه رابنکته کس ووایی: کان رسول الله^ص^ یقول کذا.

۲– فعلي او صريح مرفوع: مثلاً صحابي داسې ووايي: رأيت رسول اللهﷺ يفعل كذا، يا صحابي يا له هغه نه راښكته كس ووايي: كان رسول اللهﷺ يفعل كذا.

۳– تقريري او صريح مرفوع: مثلاً صحابي ووايي: فعلت بحضرت النبیﷺ كذا. صحابي او داسې نور بل كس ووايي: فعل فلان فعلت بحضرت النبیﷺ كذا. او د رسول الله انكار يې له هغه كار څخه نه وي ذكر كړی.

۴– قولي حكمي مرفوع: د مثال په توګه يو صحابي چې معروف نه وي د اهل كتابو څخه يو قول را واخلي او دی د هغه قول په هكله داسې قول ووايی چې په هغه كې د اجتهاد او رأيی مجال نه وي، د غريب او مشكل په بيانولو پورې اړه ونلري، د خلقت په شان د تېرو شيانو څخه او يا د فتنو او د قيامت د راتلو د حالاتو نه اخبار وي، او هغه څه نه اخبار وي چې په كولوبې خاص ثواب او يا خاصه سزا مرتبه وي، دغه ډول قول ته قولي حكمي مرفوع ويل كيږي.

۵– فعلي حكمي مرفوع: د مثال په توګه يو صحابي داسې عمل اجراء كړئ چې په هغه كې د رأيی د پاره مجال نه وي مساعد. لكه چې علي بن ابي طالب كرم الله وجهه دوه ركعته يا له هغه نه زيات د كسوف لمونځ اداء كړئ دی.

٦– تقريري حكمي مرفوع: مثلاً صحابي خبر وركړئ چې د پيغمبر عليه السلام په زمانه كې مو دغسې كار تر سره كاوه او مونږ ترې منع نشوو. هغه صيغې چې د رفعي حكمي لري: مثلاً صحابي ووايي: من السنة كذا، امرنا بكذا، نُهِيْنَا عن كذا.

او يا صحابي حكم وكړي په يوه فعل باندې چې دغه فعل د خدای تعالی او يا د هغه رسول طاعت وه. او دغه فعل ګناه ده. لكه چې عمار بن ياسر(رض) ويلی دي: ( من صام يوم الشک فقد عصی أبا القاسم ). دغه قول اصحاب سنن راويت كړی دی.

**۳- موقوف حدیث:**

موقوف حدیث په لغت کې د اسم مفعول صیغه ده، د ( وَقَف ) له کلمې څخه اخیستل شوې ده، لدې خاطره موقوف ورته ویل کیږي چې راوي یې تر صحابي پورې سند رسولی دی او په همدغه نقطه یې توقف کړی، پاتې سند یې تر آخره نه دی ذکر کړی.

د محدثینو په اصطلاح: موقوف هغه حدیث دی چې سند یې تر صحابي پورې منتهي شوی وي، برابره ده چې سند یې متصل وي او یا منقطع. ځینې علماو د موقوف حدیث داسې تعریف کړی دی: هو ما اضیف الی الصحابی من قول او فعل او تقریر و خلا عن قرینة تدل علی رفعه.

یعني موقوف هغه حدیث دی چې نسبت یې صحابي ته شوی وي، قول وي یا فعل او یا تقریر، او داسې قرینه چې د هغه په رفعه دلالت وکړي پکې موجوده نه وي.

صحابي هغه څوک دی چې د نبي کریم سره یې لیدنه شوې وي او ایمان هم ورباندې راوړی وي او په داسې حال کې چې مسلمان وي، وفات شوی وي.

یو قول داسې هم شته دی چې که ایمان یې په ارتداد اخلال شوی هم وي، صحابي بلل کېږي.

د نبي کریم[ص] سره د صحبت پیژندنه په تواتر یا ملاقات او یا د نورو اصحابو په اخبار او یا د تابعینو د ثقه کسانو په اخبار او یا دخپله شخص په اخبار سره چې دعوی یې ممکنه وي، کېدی شي. د قولي موقوف مثال:

د راوي دا قول دی چې وایي: قال علی بن ابی طالب[رض] : ( حدثوا الناس بما یعرفون). امام بخاري روایت کړی دی.

د فعلي موقوف مثال د امام بخاري قول دی چې ویلی یې دي:

( و أمَّ ابن عباس و هو متیمم ). امام بخاري په کتاب تیمم کې روایت کړی دی.

د تقریري موقوف مثال: د ځینې تابعینو قول دی چې ویلی یې دي:

( فعلت کذا امام احد الصحابة و لم ینکر عليَّ ).

کله د ( موقوف ) کلمه په هغه حدیث کې استعمالیږي چې غیر له صحابي څخه یې روایت شوی وي. خو په دغه وخت کې مقید کېږي، د مثال په توګه داسې ویل کېږي: ( هذا حدیث وقفه فلان علی الزهری او علی عطاء و نحو ذلک )، په داسې حال کې چې زهری او عطاء دواړه تابعین دي.

په دغه قول سره: ( وخلا عن قرینة تدل علی رفعه ) د موقوف حدیث له تعریف څخه دوه شیان خارجیږي:

لمړی هغه حدیث چې نسبت یې صراحتاً نبي کریم ص ته شوی وي، د مثال په توګه صحابي داسې ووایی ( سمعت رسول الله، او ظل رسول الله، او فعل رسول الله ). ځکه دغه ډول حدیث حقیقتاً مرفوع حدیث دی.

دوهم دا چې د حدیث نسبت په ضمني توګه نبي کریم ص ته شوی وي، یعنې صحابي د حدیث په رفعه تصریح نه وي کړیی، خو هغه په کلام کې داسې څه موجود وي چې نبي کریم ص ته د حدیث په مرفوع کېدو دلالت وکړی.

هغه قرینې چې د حدیث په مرفوع کېدو دلالت کوي په لاندې ډول دي:

الف: دا چې صحابي ووایی: ( أمرنا بکذا، او نُهینا عن کذا ).

یعنې مونږ په دغه کار مأمور شویې یو، او یا له دغه کار څخه منعه شویې یو. دا امر او نهی الفاظ هر یو، نبي کریم ص ته د حدیث په مرفوع کېدو باندې قرینه ده، دا ځکه چې د اصحابو په زمانه کې امر او نهی د نبي کریم ص وظیفه ده.

ب: دا چې صحابي ووایی: ( مِنَ السُّنَّةِ کَذَا، اَوْ اَصَبْتُ السُّنَّةَ، او داسې نور، ځکه چې د ( سنت ) لفظ د حدیث په رفعه باندې قرینه ده.

ج: دا چې صحابي د حدیث نسبت د رسول الله ص عهد، زمانې او ژوند ته، وکړی، ځکه د رسول الله ص زمانې او ژوندانه وخت ته د حدیث منسوبول د حدیث په رفعه کېدو باندې قرینه ده او دلالت کوي چې پیغمبر د حدیث په هکله مطلع دی.

د: دا چې صحابي يو قول روايت او يا يو كار سرته ورسوي چې په هغه کې د رأيي او اجتهاد د پاره مجال نه وي موجود، او په عقل سره يې درک کول هم ممکن نه وي، او صحابي د اسرائيلياتو په روايت متأثر او معروف نه وي.
د مثال په توګه صحابي د آسمانونو، دوزخ او جنت د خلقت په هکله د قبر او د قيامت د ورځې د حالاتو په مورد کې روايت کړی وي. د صحابي دغه ډول غيب ويل د حديث په مرفوع کېدو باندې دلالت کوي. ځکه په دغه ډول حالاتو باندې پوهاوی پرته له وحی او پرته د شريعت د خاوند څخه امکان نه لري نو صحابي په هرومرورسول الله<sup>ص</sup> څخهه اوريدلی وي.
هـ: دا چې د حديث راوي د صحابي څخه د روايت په وخت کې داسې ووايي: ( يرفعه او يرويه او رواه او رفعه او يبلغ به ) او داسې نور. د دغسې الفاظوذکر کول، رسول الله<sup>ص</sup> ته د حديث په مرفوع کېدو دلالت کوي.
۴- مقطوع حديث:
مقطوع د اسم مفعول صيغه ده له ( قَطَعَ ) څخه اخيستل شويې ده، په لغت کې د فصل او جلا والي له معنیٰ ده. جمعه يې مقاطيع او مقاطع ده.
مقطوع په اصطلاح کې: هغه حديث دی چې سند يې تر تابعي او يا له هغه څخه راښکته کس ته رسيدلی او منتهي شوی وي. د مقطوع حديث په اصطلاحي تعريف په لاندې ډول هم شوی دی:
هو ما اضيف الى التابعى او من دونه من قوله او فعله و خلا عن قرينة تدل على رفعه او وقفه.
يعنې مقطوع هغه حديث دی چې د قول او فعل نسبت تابعي او يا له تابعي څخه راښکته شخص ته شوی وي او داسې قرينه په پکې موجوده نه وي چې د حديث په مرفوع کېدو او يا موقوف کېدو دلالت وکړي.
**تابعي**: عبارت له هغه شخص څخه دی چې د صحابي سره يې ملاقات کړئ وي او په داسې حال کې چې مسلمان وي، وفات شوئ وي.

**د مقطوع او منقطع توپير**: مقطوع د متن صفت دی څرنګه چې وقف او رفعه هم د متن صفتونه دي. خو منقطع د اسناد صفت دی لکه چې تعليق او ارسال هم د اسناد صفتونه دي.

**مخضرم**: هغه څوک دی چې د جاهليت په دوره کې يې د رسول الله^ص^ سره په يوه زمانه کې ژوند کړئ خو هغه مبارک سره يې ملاقات نه وي کړی.

په مجموع کې مخضرمين د شلو څخه زيات کسان دي چې احنف بن قيس، ابو مسلم الخولائی، ابورجاء العطاردي او ابوعثمان النهدي.

د مخضرمينو په جملې څخه دی او د صحيح روايت په بنسټ مخضرمين و تابعيتو له جملې څخه بلل کېږي.

**د مقطوع حديث حکم**: د مقطوع حديث په حکم کې د علماوو تر مينځ د نظر اختلاف موجود دی.

زيات علماء په دې نظر دي چې مقطوع حديث حجت او دليل نه دی. امام ابوحنيفه ويلی دي: هغه څه چې رسول الله^ص^ څخه روايت شوی، هغه په سر او سترګو د مونږ د منلو وړ دي او هغه څه چې د اصحابو څخه روايت شوی د هغه د صحيح په غوره کولو کې اختيار لرو، کوم څه چې له تابعينو څخه روايت شوي په هغو کې هم اختيار مونږ لره دی. دا ځکه چې هغوی رجال دي او مونږ هم رجال يو.

شمس الأئمه  ويلی دي چې د تابعي قول حجت نه دی چې قياس ورباندې متروک شي.

**امام زرکنتي وايی**: د احاديثو په اقسامو کې د مقطوع د داخلولو په هکله له تسامح څخه کار اخيستل شوی دی.

جمهور محدثين په دې نظر دي چې مقطوع حديث حجت دی که څه هم په هغه که داسې قرينه چې په رفعه دلالت وکړي، موجوده هم نه وي، خو په دې شرط چې  د مقبول حديث نور شرطونه پکې موجود وي.

## تمرینونه

۱– موقوف حدین په لغت او اصطلاح کې تعریف کړئ.
۲– مرفوع حدیث تعریف کړئ، او په څو ډوله دی.
۳– د حدیث په مرفوع کولو کې له کومو اصطلاحاتو څخه کار اخیستل کېږي؟
۴– قدسي حدیث تعریف او له قرآنکریم سره یې فرق توضیح کړئ.
۵– وحی په څو قسمه ده او قدسي حدیث په کوم ډول وحی کې شامل کېدی شي؟
٦– حدیث د سند د انتها په اعتبار کومو اقسامو ته تقسیم شوی دي؟
۷– فعلي او صریح مرفوع حدیث څه ډول حدیث دی؟ په کوم حالت کې په دغه نوم، نومول کېږي؟
۸– مقطوع حدیث تعریف کړئ.
۹– قدسي حدیث له نبوي حدیث سره څه فرق لري؟
۱۰– مخضرمین تعریف کړئ او د دوی روایت حکم څه دی؟

# عالي او نازل اسناد

د مسلمه امت له خصوصیاتو څخه ښه خصوصیت، اسناد دي، دغه خصوصیت په تیرو امتونو کې موجود نه و. اسناد مؤکد سنت دی په مسلمان باندې لازمه ده چې د حدیث په نقلولو کې په اسناد اعتماد وکړي، په دې هکله ابن المبارک داسې وایی:
( الاسناد من الدین ولولا الاسناد لقال من شاء ما شاء ). یعنې اسناد له دین څخه دي، که چېرته اسناد نه وای، هر چا به هغه څه ویلی وای چې غوښتل یې وای.
ثوري وایی: ( الاسناد سلاح المؤمن ). یعنې اسناد د مؤمن سلاح ده.
د عالي اسناد غوښتنه هم سنت ده، لکه چې امام احمد بن حنبل فرمایلی دي: طلب الاسناد العالی سنة عمن سلف ). یعنې د عالي سند غوښتنه او پلټنه د سلفو سنت دی.
د عبدالله بن مسعود یارانو له کوفی نه تر مدینې پورې سفر کاوه او له حضرت عمر رض څخه یې د حدیث زده کړه مستحب ده، زیات شمېر اصحابو د عالي اسناد په خاطر سفرونه کول، له هغې جملې څخه ابوایوب او حضرت جابر رض دی.

**تعریف:**

عالي د اسم فاعل صیغه ده، د ( علو ) څخه اخیستل شوی ده په لغت د نازل ضد معنیٰ ورکوي. او نازل د نزول نه اخیستل شوی، د اسم فاعل صیغه ده.

**په اصطلاح کې د عالي اسناد تعریف:**

عالي اسناد هغه اسناد دي چې د راویانو شمېر یې کم وي نسبت هغه بل سند ته چې همدغه حدیث یې په زیات تعداد راویانو روایت کړئ وي.
علو: د سند د راویانو د قلت څخه عبارت دی او نزول د سند د راویانو زیاتوالی دی، علو او نزول دواړه د سند له صفاتو څخه دي.
**نازل اسناد:** عبارت له هغه اسناد څخه دي چې د سند راویان یې زیات وي له هغه اسناد څخه چې همدغه حدیث یې په کم شمېر راویانو روایت کړئ وي.

**ابن صلاح ویلی دي**: علو د اسناد ساتنه کوي له خلل څخه په حدیث کې ځکه چې د سند هر یو فرد دا احتمال لري چې قصداً او یا سهواً خطاء او خلل ورڅخه صادر شي. کله چې د سند د راویانو شمېر کم وي په خلل کې د واقع کیدو لارې یې هم کمېږي.

## د خبر تقسیم د اسناد د علو او نزول په لحاظ

حدیث د سند د علو او نزول په اعتبار په دوه قسمه دی:

۱– **عالي خبر**: هغه خبر دی چې د سند د راویانو شمېریې کم وي نسبت هغه بل سند ته چې د هغه په واسطه همدغه خبر د سند په زیات شمېر راویانو سره وارد شوئ وي.

۲– **نازل خبر**: هغه خبر دی چې د سند راویانو شمېر یې زیات وي له هغه بل سند څخه چې د هغه په واسطه د سند په کم شمېر راویانو سره وارد شوئ وي.

عالي او نازل سند هر یو په دوه ډوله مطلق او نسبي سند ویشل کېږي:

**مطلق عالي سند**: عبارت له هغه سند څخه دی چې نبي کریم^ص^ ته په کم شمېر راویانو سره منتهي شوئ وي، نسبت هغه بل سند ته چې همدغه حدیث په زیات شمېر راویانو سره وارد شوئ وي چې ضد یې **مطلق نازل سند** دی.

**نسبي عالي سند**: هغه سند دی چې د حدیث د مشهورو امامانو څخه یوه امام ته په کم شمېر راویانو منتهي شوي وي لکه امام مالک او شعبه او داسې نور. باید زیاته کړو چې د راویانو کموالی یې نسبت هغه بل سند ته وي چې همدغه خبر یې په زیات شمېر راویانو روایت کړئ وي. د نسبي عالي سند ضد نسبي نازل سند دی.

## د نسبي علو اقسام

نسبي علو په څلور قسمه ده:

۱– موافقت: د مصنفينو يوه شيخ ته رسيدل عبارت له موافقت څخه دی پرته له طريقې د همدغه راوي څخه، په داسې حال کې چې د راوي اسناد د مصنف په اسناد باندې علو ولري.

د مثال په توګه حافظ ابن حجر ويلی دي: ( روی البخاری حديثاً عن قتيبة عن مالک، مثلاً فلو رويناه من طريق البخاری کان بيننا و بين قتيبة ثمانية و لو رويناه من طريق ابی العباس السراج عن قتيبة لکان بيننا و بين قتيبة سبعة، فقد حصلت لنا الموافقة مع البخاری فی شيخه القتيبة مع العلو ).

۲– بدل او يا ابدال: په کم عدد او بله طريقه سره د يوه مصنف د شيخ، شيخ ته رسيدل عبارت له بدل او يا ابدال څخه دی.

او يا ابدال عبارت دی له: هو الوصول الی شيخ، شيخ احد المصنفين من غير طريقه مع علو الاسناد علی الاسناد اليه.

د مثال په توګه ابن حجر وايي: ( کان يقع لنا ذلک الاسناد بعينه، من طريق آخر الی القعبنی، عن مالک، فيکون القعبنی فيه بدلا من قتيبة ).

۳– مساوات: کله چې د راوي د سند رجال د يوه مصنف د سند د رجالو سره مساوي شي، دې ته مساوات ويل کېږي.

د مثال په توګه ابن حجر وايي: ( کان يروی النسائی مثلاً حديثاً يقع بينه و بين النبی ص فيه احد عشر نفساً، فيقع لنا ذلک الحديث بعينه باسناد آخر بيننا و بين النبی ص فيه احد عشر نفساً فنساوی النسائی من حيث العدد ).

يعنې د مثال په توګه: ابن حجر ويلی دي: نسائي که يو حديث روايت کړي چې د ده او نبي کريم تر مينځ يو لس کسان قرار ولري او مونږ ته دغه حديث په بل اسناد

داسې روايت شي چې د مونږ او نبي کريم^ص تر مينځ يو لس کسان وجود ولري، نو مونږ د نسائي سره د عدد په لحاظ مساوي يو.

۴- مصافحه: د راوي د اسناد د عدد مساوات دی د يوه مصنف د شاگرد د اسناد سره، داسې چې له اول نه تر آخره سره مساوي وي. او په دې خاطر د مصافحې په نوم يادېږي چې د دوو کسانو د ملاقات او يو ځای کېدو په وخت د دوی تر مينځ مصافحه صورت مومي.

## د نزول اقسام

نزول هم د علو په شان پر څلور قسمه دی، د نزول هر قسم په خپل ضد سره پيژندل کېږي او د علو هر قسم په خپل مقابل کې د نزول د اقسامو څخه ضد لري.

**د اسناد علو غوره دی او يا د هغه نزول؟**

د جمهور علماوو له نظره د اسناد علو د هغه د نزول څخه غوره ده ځکه چې د اسناد علو په حديث کې د خلل د را پيدا کېدو احتمال کمزوری کوي او نزول په دغه اندازه نه دی. ابن مديني ويلی چې نزول شوم دی، دا په هغه صورت کې ده چې اسناد په خپل قوت سره پاتې وي.

نزول په هغه صورت کې غوره دی چې په نازل اسناد باندې کومه فايده او امتياز مرتب وي.

د عالي او نازل اسناد په هکله مشهور کتابونه:

په عام صورت د عالي او نازل اسناد په باره کې کوم خاص کتابونه نه دي تر لاسه شوي، خو ځينې پوهانو يو شمېر ټوکونه او اجزاء جمع کړی او د ثلاثياتو په نوم يې ياد کړی دی، د هغو په عنوانونو کې داسې احاديث شته دي چې د مصنف او رسول الله^ص تر مينځ يوازې درې کسان موجود دي، چې دغه واقعيت عالي اسناد ته د

علماوو د زياتې پاملرنې بيانونکی دی. لدې جملې نه کېدی شي چې د لاندې کتابونو نوم ذکر کړو:

الف: د امام بخاري ثلاثيات او د حافظ ابن حجر عقلاني ثلاثيات.

ب: د احمد بن حنبل او سفاريني ثلاثيات.

## د اقرانو او مُدَبَّج روايت

د اقرانو تعريف:اقران په لغت کې د قرين جمعه ده، او قرين د مصاحب او ملګری په معنیٰ دی.

اقران په اصطلاح کې هغه راويان دي چې په سن او اسناد کې سره نيږدې وي.

د اقرانو روايت هغه روايت دی چې يو قرين له بل قرين څخه حديث روايت کړي.

لکه د اعمش روايت له تيمي څخه او يا د سليمان تيمي روايت له مسعر بن کدام څخه، چې دواړه يو تر بله سره قرين دي. مګر له تيمي څخه د مسعر روايت نه دی تر لاسه شوی.

د مُدَبَّج تعريف:

مُدَبَّج د اسم مفعول صيغه ده له تدبيج څخه اخيستل شوی چې په لغت کې د تزئين يعنې ښکلی کول، معنیٰ لري. په همدغه شان تدبيج له ( ديباجتی ) نه اخيستل شوی يعنیٰ د مخ دوه غمبوري معنیٰ ورکوي. مُدَبَّج په دې خاطر په دغه نوم ياد شوی چې راوي او مروي عنه د مخ د دوو عمبوريو په شان يو د بل سره مساوي دي.

مُدَبَّج به اصطلاح کې عبارت دی له روايت قرين له قرين څخه لکه د حضرت عائشی روايت له ابوهريرة څخه او روايت د ابوهريرة له بي بي عائشې څخه، چې دواړه له اصحابو څخه دي.

په همدغه شان د زهرې روايت له عمر بن عبدالعزيز څخه او عمر بن عبدالعزيز روايت له زهرې څخه چې دواړه د تابعينو له جملې څخه دي.
او يا د مالک راويت له اوزاعي څخه او د اوزاعي روايت له مالک څخه چې دواړه د تبع تابعينو له جملې څخه دي.
مُدَبَّج نسبت اقران ته اخص مطلق دی.
د دغه ډول روايت پيژندنه دا فايده لري چې سند د زياتوالي له ګماه څخه محفوظ پاتې کېږي او له دغه ګمان څخه چې ( عن ) به پر ( واو ) بدل شوی وي، مخنيوی کېږي. ځکه په روايت کې اصل دا دی چې له شيخ څخه وشي. او يا د اسناد قاري او سامع ګمان ونه کړي، چې روايت په اصل کې ( حدثنا فلان ( و ) فلان ) دی او اشتباهاً حدثنا فران ( عن ) فلان ويل شوی دی.
په دې باره کې مشهور کتابونه:
الف: المُدَبَّج، د دارقطن دی.
ب: رواية الاقران د ابوشيخ اسفهاني.

## د اکابرو روایت له اصاغرو څخه
## او د هغه عکس

تعریف: اکابر د اکبر جمع او اصاغر د اصغر جمع ده، یعنې د مشرانو روایت له کشرانو څخه.
په اصطلاح کې د یوه شخص روایت دی له هغه کس نه چې په عمر او یا علم او حفظ کې له ده څخه کم وي. یعنې راوي له هغه کس نه روایت وکړي چې د عمر او سن په لحاظ له ده څخه کشر او د طبقې په لحاظ ورڅخه ادنیٰ وي. د طبقې ټیټوالی لکه د صحابي روایت له تابعي څخه او یا راوي د هغه کس نه روایت وکړي چې په علم او حفظ کې ورڅخه کم وي. لکه د عالم او حافظ روایت له هغه شیخ نه چې د راوي څخه په عمر او سن کې لوی وي. یعنې په دې معنیٰ چې یوازې په عمر کې لوی والی او یا قدامت په طبقه کې له هغه چا نه چې له ده څخه روایت کوي پرته له مساوات په علم کې کافي نه دی.
دغه ډول روایت د اکابرو روایت له اصاغرو څخه دی.
کیدی شي چې موضوع د لاندینیو مثالو په واسطه ښه روښانه شي:

### اقسام او مثالونه

د اکابرو روایت له اصاغرو څخه په درې قسمه دي:
الف: یو دا چې راوي له مروي عنه څخه په عمر زیات او په طبقه کې او اقدامیت ولري، خو دواړه د علم او حفظ خاوندان وي.
ب: بل دا چې راوي نسبت مروي عنه ته د لوی مقام او منزلت خاوند وي، خو په عمر کې ورڅخه لوی نه وي، لکه د عالم او حافظ روایت له هغه چا نه چې عمر یې زیات او غیر حافظ وي. د مثال په توګه د امام مالک روایت له عبدالله به دینار څخه

چې مالک امام او حافظ دی او عبدالله بن دینار یوازې په عمر کې له مالک څخه لوی دی.

ج: راوي به له مروي عنه څخه په مقام، منزلت او سن کې لوی او ښه عالم دی. لکه د یرقاني روایت له خطیب څخه چې یرقاني ښه عالم او په عمر کې لوی او د لوړ مقام خاوند دی.

له اصاغرو څخه د اکابرو د روایت مثالونه:

د رسول الله د اصحابو روایت له تابعینو څخه: د مثال په توګه د عبادله او نورو اصحابو روایت له کعب الاحبار څخه:

د تابعي روایت له تبع تابعي نه. مثلاً د یحیی بن سعید انصاري روایت له مالک نه.

د دغه ډول روایت د پېژندنې فایدې په لاندې ډول دي:

- ترڅو ګمان ونشي چې مروي عنه به له راوي څخه هرومرو لوی او غوره وي.
- ترڅو داسې فکر ونشي چې په سند کې قلب موجود دی په دې دلیل چې معمولاً اصاغر له اکابرو او لویانو څخه راویت کوي.

په دغه برخه کې مشهور کتاب:

د ( مارواه الکبار عن الصغار والآباء عن الابناء ) کتاب دی، چې د حافظ ابویعقوب اسحق بن ابراهیم الوراق تألیف دی په ۴۰۳ هجري کال کې وفات شوی دی.

له اکابرو څخه د اصاغرو روایت:

دا هغه روایت دی چې یو شخص د بل کس نه روایت وکړي کوم چې په عمر یا په علم او حفظ کې له ده څخه لوړ وي. د روایت معموله طریقه هم همدغه طریقه ده.

د پلرونو څخه د زامنو روایت او د نیکونو څخه د پلرونو روایت د اکابرو څخه د اصاغرو په روایت کې شامل دي.

## د سابق او لاحق روایت

تعریف: سابق اسم فاعل دی د ( السَّبْق ) څخه اخیستل شوی چې معنایې متقدم یعنې ( مخکینی ) ده.
لاحق هم اسم فاعل دی چې له ( اللحاق ) نه اخیستل شوې د متأخر یعنې د (وروستني ) په معنیٰ دی. د سابق له اصطلاح څخه هدف هغه رواي دی چې وفات یې تر مخه وي.
او لاحق نه هدف هغه رواي دی چې د وفات مخت یې وروسته وي.
یا خو سابق او لاحق د هغه حالت څخه عبارت دی چې د وفات په لحاظ مقدم او متأخر راویان دواړه په یوه روایت کې له یوه شیخ نه شریک شي او د دوی په وفات کېدو کې فاصله موجوده وي.
په اصطلاح کې د سابق او لاحق معنیٰ دا ده چې دوو کسانو له یوه شخص څخه روایت کړی وي، په داسې حال کې چې د دوی د وفات کېدو نېټې وړاندې او وروسته لو لېرې وي.
د مثال په توګه: محمد بن اسحق السراج د بخاري او مسلم شیخ دی، امام بخاري او ابوالحسین خفاف دواړه له ابن اسحق څخه روایت کړی ده په داسې حال کې چې د دوی د وفات په تاریخ کې ( ۱۳۷ ) کاله فاصله ده.
محمد بن اسحٰق السراج په کال ( ۲۱٦ ) هجري کال کې تولد او په کال ( ۳۱۳ ) هجري کې وفات شوی دی. او امام بخاري په کال ( ۲۵٦ ) هجري کې وفات شوی دی او ابوالحسین احمد بن الخاف النیشاپوري په کال ( ۳۹۳ ) هجري کې وفات شوی دی، او ځینې نورو د خفاف د وفات تاریخ ( ۳۹۴ ) هجري او ( ۱۳۵ ) ښودلی دی.

دوهم مثال: له امام مالک څخه امام او احمد بن اسماعیل السهمي دواړو په روایت کې شرکت کړی ده په داسې حال کې چې د دوی په وفات کې ( ۱۳۵ ) کاله فاصله موجوده ده.

یعنې زهري په کال ( ۱۲۴ ) او السهمي په کال ( ۲۵۹ ) هجري کې وفات کړی.

امام زهری له امام مالک نه په عمر کې لوی دی، دا ځکه چې زهری تابعي او امام مالک تبع تابعي دی. نو له امام مالک څخه و زهری روایت له اصاغرو څخه د اکابرو د روایت له جملې څخه محسوبیږي، خو السهمي له امام مالک نه په عمر کې کشر دی او السهمي اوږد عمر درلود او د سلو کلو په حدودو کې یې ژوند کړی، د ده او د زهری د وفات کېدو ترمینځ زیات تفاوت لیدل کېږي.

د دغه قسم روایت د پېژندلو فایدې دا دي چې:

د متأخر سند د انقطاع له ګمان څخه مخنیوی کیږي، طلب کونکي ته نازل او عالي حدیث ورمعرفي کوي، هغه ثوک چې حدیث ورباندې ختم کېږي د هغو معلومېدل او د خلکو په زړونو کې د اسناد د حلاوت او لذت خوندي کېدل دي.

# اووم فصل

## د حديث د راوي پېژندل

- د صحابي پېژندنه.
- د تابعی پېژندنه.
- ورونو او خویندو پېژندنه.
- د متفق او مفترق پېژندنه.
- مؤتلف او مختلف.
- متشابه.
- مسهل.
- دمسهماتو پېژندنه.
- د وحدان پېژندنه.

## د صحابي پېژندنه

**د صحابي تعريف:** صحابي په لغت کې مصدر او د ( صحبت ) په معنیٰ دی، د صحابي ( صاحب ) په نوم هم یاد شوی، جمعه یې اصحاب او صَحْب ده. او (صحابه) چې د ( اصحابو ) معنیٰ ورکوي، زيات مستعمل دي. په اصطلاح کې د صحابي معنیٰ: صحابي هغه څوک دی چې د نبي کريم ص سره یې ملاقات کړی وي په داسې حال کې چې مسلمان وي او په اسلام کې وفات شي.

**د صحابي د پېژندنې اهميت او فايده:** د صحابي پېژندنه او شناخت ډېر لوی، مهم، د اهميت وړ او ډېرو فايدو درلودونکی علم دی، چې له فايدو څخه يې يوه هم د متصل او مرسل احاديثو پېژندل دي.

د صحابي د شناخت او پېژندنې وسيلې:

د رسول الله سره د صحبت پېژندنه په لاندې پنځګونو وسيلو سره کېدی شي:

الف: د تواتر په وسيله، لکه د ابوبکر صديق، عمر بن خطاب، عثمان ابن عفان، علي بن ابي طالب او د عشره ميشره له جملې ته د شپږو نورو اصحابو پېژندنه چې په تواتر سره شوې ده.

ب: د شهرت په وسيله، لکه د ضمام بن ثعلبة، عکاشه بن محصن پېژندنه چې په شهرت سره شوې ده.

ج: د صحابي د اخيار په واسطه.

د: د ثقه تابعينو د اخبار په واسطه.

هـــ: په خپله د صحابي په اخبار شروط په دې چې عادل او دعوايې ممکنه وي.

**صجابهٔ کرام ټول عادل دي:**

ټول صحابه[رض] عادلان دي، په فتنه مبتلا شوي وي او يا د فتنې سره مخامخ شوي نه وي. دغه نظر د هغه کسانو اجماع ده چې د هغوی په نظر اعتماد کېږي او د عتبار وړ دي.

د اصحابو عدالت په دې معنیٰ دی چې هغوی د عمدي درواغو او په روايت کې له انحراف څخه اجتناب کړی، يعنې له هر هغه شي نه يې اجتناب کړی چې د دوی د روايت د نه منلو باعث ګرځي. نو داسې نتيجه تر لاسه کوو چې د اصحابو ټول روايتونه د قبول وړ دي پرته له دې چې د صحابي د عدالت په هکله پلټنه وشي.

هغه شمېر اصحابو چې په فتنو کې شرکت کړی، د هغوی کار په اجتهاد حمل کېږي تر څو د آولو په مورد کې نيک ګمان وشي، او اجتهاد يې د اجرا مستحق وګرځي.

ځکه دوی د شریعت بنسټ ایښودونکی دي، او پیغمبر(ص) د خیر القرون په نوم یاد کړي دي.

**هغه صحابه چې زیات حدیثونه یې روایت کړي دي:**

د اصحابو له جملې نه شپږو اصحابو زیات احادیث روایت کړي دي:

۱- ابو هریرة(رض) ( ۵۳۷۴ ) حدیثونه روایت کړی او له ده څخه د درې سوه نه زیاتو راویانو روایت کړي.

۲- ابن عمر(رض) دی چې (۲۶۳۰ ) احادیث یې روایت کړي.

۳- انس بن مالک دی چې ( ۲۲۸۶ ) احادیث یې روایت کړي.

۴- عایشه صدیقه ده چې ( ۲۲۱۰ ) احادیث یې روایت کړي.

۵- ابن عباس(رض) دی چې ( ۱۶۶۰ ) حدیثونه یې روایت کړي.

۶- جابر بن عبدالله(رض) دی چې ( ۱۵۴۰ ) حدیثونه یې روایت کړي.

**تر ټولو ځوان اصحاب:**

حضرت ابن عباس(رض) تر ټولو ځوان صحابي دی. او له ده څخه وروسته د اصحابو لوی عالمان دي چې هغوی هم شپږ کسان دي.

څرنګه چې مسروق ویلي جې د اصحابو علم شپږ کسانو ته منتهي کېږي او عبارت دي له عمر(رض)، ابي بن کعب، زید بن ثابت، ابوذر داء ابن مسعود او حضرت علي کرم الله وجهه څخه. د دوی شپږ نفرو علم عبدالله بن سعد او حضرت علي(رض) ته منتهي کیږي.

**عبادله څوک دی؟**

له عبادله څخه مطلب هغه اصحاب دي چې نوم یې عبدالله وي چې شمېر یې درې سوه اصحابو ته رسېږي، خو دلته مطلب له عبادله څخه څلور تنه اصحاب دي چې نوم یې عبدالله وي او هغوی دغه لاندې کسان دي:

۱- عبدالله بن عمر(رض).

۲- عبدالله بن عباس(رض).

**۳– عبدالله بن زبیر**رض.

**۴– عبدالله بن عمرو بن العاص**رض.

**دغه اصحاب د امتیاز خاوندان دي چې په آخر کې وفات شوي دي.**

**په کوم صورت کې چې دوی په کوم قول اجماع کړ ې وي نو داسې ویل کېږي: هذا قول العبادلة یعنې دغه د عبادله قول دی.**

**د اصحابو تعداد:**

**د اصحابو د معین تعداد لپاره کومه دقیقه احصائیه نه ده موجوده، خو په دغه مورد کې علماوو او پوهانو خپل نظر څرګند کړی دی چې رسول اکرم**ص **اصحاب د سل زره کسانو څخه زیات وو. او تر ټولو مشهور قول په دغه مورد کې د ابي زرعه الرازي قول دی چې وایی: قُبِضَ رسول الله**ص **عن مائة الف واربعة عشر الفاً من الصحابة ممن روی عنه و سمع منه.**

**یعنې رسول الله**ص **وفات شو به داسې حال کې چې یو سل او څورلس زره اصحاب ترې پاتې شول. دا ټول هغه کسان وو چې له دوی څخه روایت شوی و، او یا حدیث ورڅخه اوریدل شوی و.**

**د اصحابو د طبقو تعداد:**

**د اصحابو د طبقو په تعداد کې اختلاف موجود دی، ځینې علماوو اسلام ته د سبقت او د اسلام قبلولو په لحاظ هجرت او فاضلو مشاهدو ته د حضور په وجه تقسیم کړي دي. ځینې نورو د نورواعتباراتو په لحاظ او هر یوه د خپل اجتهاد په نظر کې نیونو په مطبق تقسیم کړي دي. د مثال په توګه:**

**الف: ابن سعد، اصحاب په پنځو طبقو تقسیم کړي دي.**

**ب: حاکم پت ( ۱۲ ) طبقو باندې ویشلي دي.**

**غوره او تر ټولو ښه اصحاب:**

**د اصحابو څخه غوره او تر ټولو ښه صحابي په لمړي سر کې حضرت ابوبکر صدیق او تر هغه وروسته حضرت عمر فاروق**رض **دی، وروسته له هغوی نه حضرت عثمان او**

وروسته له هغه اهل بدر، بيا د احد اهل او ورپسې د بيعة دالرضوان صحابه دي.

ورپسې حضرت علي كرم الله وجهه دی. بيا د عشره مبشره هغه نور پاتې كسان دي.

**هغه صحابه چې په لمړي سر كې په اسلام مشرف شوي دي:**

الف: د نارينه وو څخه حضرت ابوبكر صديق دی.

ب: د اطفالو څخه حضرت علي بن ابي طلب دی.

ج: له ښځو څخه بي بي خديجه ام المؤمنين ده.

د: له آزادو كسانو څخه زيد بن حارثه.

هـــ: د غلامانو څخه حضرت بلال بن رباح[رض] دی.

**هغه صحابي چې تر ټولو وروسته وفات شوی:**

ابوطفيل عامر بن واثلة الليثي[رض] دی چې په ( ۱۰۰ ) هجري كال په مكه مكرمه كې وفات شوی دی. له ده څخه د مخه انس بن مالک[رض] په كال ( ۹۳ ) هجري كال كې په بصره كې وفات شو.

**تر ټولو مشهور كتابونه چې د اصحابو په باره كې ليكل شوي، عبارت له دغه كتابونو څخه دي:**

۱– الاصابة في تمييز الصحابة، چې د ابن حجر عقلاني تأليف دی.

۲– اُسدُ الغابة في معرفة الصحابة، د علي بن محمد الجزري تأليف دی چې د ابن اثير په نوم مشهور دی.

۳– الاستيعاب في اسماء الاصحاب، د ابن عبدالبر تأليف دی.

## د تابعي پېژندنه

**د تابعي تعریف:** التابعون د تابعی او یا د تابع جمعه ده او تابع د اسم فاعل صیغه ده له ( تَبِعَه ) څخه اخیستل شویی چې د متابعت کونکي معنیٰ ورکوي.

په اصطلاح کې تابعي هغه کس دی چې په خپله مسلمان وي او د مسلمان صحابي سره یې ملاقات کړی وي، او په اسلام کې وفات شوی وي. ځینې وایی چې تابعي هغه دی چې د صحابي یار وي.

د تابعي پېژندنه دا فایده لري چې مرسل حدیث له متصل حدیث څخه ترې تفکیک کېږي.

**د تابعینو طبقې:**

د تابعینو په طبقو کې د علماوو اختلاف موجود دی. هر عالم د خپل فکر او علاقې په بنسټ په لاندې توګه طبقه بندي کړې دي:

الف: امام مسلم تابعین په دریو طبقو تقسیم کړي دي.

ب: ابن سعد په څلورو طبقو ویشلي دي.

ج: په پنځلس طبقو تقسیم شوي دي.

په لمړی طبقه کې هغه تابعین واقع دي چې لس تنه اصحاب یې لیدلي وي.

**مخضرمین څوک دي؟**

مخضرمین د مخضرم جمعه ده او مخضرم هغه څوک دی چې د جاهلیت په دوره کې یې په یوه زمانه کې یې له رسول الله سره ژوند کړی وي او د رسول الله سره یې ملاقا نه وي کړی.

د صحیح قول له نظره مخضرمین هم د تابعینو له جملې څخه دي. د امام مسلم د پلټنې له رویه د مخضرمینو شمېره شلو کسانو ته رسېږي، خو صحیح نظر دا دی چې

د هغوی تعداد د شلو کسانو څخه زيات دی له جملې څخه ابوعثمان النهدي او اسود بن يزيد نخعي دي.

**د فقهاوو اوه کسان:**

د تابعينو تر ټولو نوی کسان اوه تنه فقهاء دي چې د تابعينو ډېر لوی علماء بلل کېږي، دوی ټول د مدينې څخه دغه لاندينې اشخاص دي:

سعيد بن المسيب، القاسم بن محمد، عروة بن زبير، خارجة ابن زيد، ابوسلمة بن عبدالرحمٰن، عبيدالله بن عبدالله بن عتبة او سليمان بن يسار.

**د تابعينو غوره کسان:**

د تابعينو تر ټولو بهتره او غوره کسانو په هکله مختلف اقوال او نظرونه موجود دي.

د يوه مشهور قول په بناً سعيد بن المسيب د تابعينو تر ټولو غوره او بهتره تابعي دی او ابو عبدالله محمد به خفيف الشيرازي ويلي دي چې:

الف: د مدينې خلک وايي چې په تابعينو کې بهتره کس، سعيد ابن المسيب دی.

ب: د کوفې خلک وايی چې اُوَيس القراني تر ټولو بهتره تابعي دی.

ج: د بصرې د اهل له نظره حسن بصري[رض] تر ټولو غوره تابعي بلل کيږي.

**په ښځينه تابعينو کې تر ټولو غوره ښځه:**

ابوبکر بن ابي داود ويلي چې حفصه بنت سيرين، عمره بنت عبدالرحمن او ام الدرداء تر ټولو غوره ښځينه تابعين دي.

## د ورونو او خويندو پېژندنه

د اسلامي معارفو په قطارکې دغه علم د نويو علومو څخه بلل کېږي چې په ځانګړيی توګه تأليفات پکې شوي اود هغه په واسطه د ورونو او خويندو پېژندنه په هره طبقه کې اسانه شوې ده. په دې برخه کې په ځانګړي توګه تصنيف او تحقيق دا مطلب

واضح کوي چې د راويانو پېژندنې په زياته پاملرنه شوې ده، او له بلې خوا د ورونو او خويندو د نسب د پېژندنې او د راوي په هکله د پېژندنې د نورو انواعو لاره برابروي.

**د پېژندنې فايده:**

**د پېژندنې له فايدو څخه يوه فايده دا ده چې هر هغه څوک چې ورور نه وي او د ورور فکرورباندې شوی وي هغه پرې معلومېږي. لکه ( عبدالله بن دينار ) او ( عمرو بن دينار ) که ذکر شي او هغوی ښه ونه پېژندل شي داسې فکر کېږي چې دوی دواړه سره ورونه دي په داسې حال کې چې دغه دواړه سره ورونه نه دي بلکه د دوی د پلارونو نومونه سره يو دي چې ( دينار ) دی.**

**مثالونه:**

**الف: دوه ورونه ( عمر او زيد ) د خطاب زامن، له اصحابو څخه.**

**ب: درې ورونه ( علي، جعفر او عقيل ) د ابوطالب زامن له اصحابو څخه.**

**ج: څلور ورونه ( سهيل، عبدالله، محمد او صالح ) د ابوصالح زامن له تابعينو څخه.**

**د: پنځه ورونه ( سفيان، آرم، عمران، محمد او ابراهيم ) د عيينه زامن له تبع تابعينو څخه.**

**هــ: شپږ ورونه او خويندې ( محمد، انس، يحيیٰ، معبد، حفصة او کريمه ) د سيرين اولاده له تابعينو څخه.**

**و: اوه ورونه ( نعمان، مُعقل، عقيل، سويد، سِنان، عبدالرحمٰن او عبدالله ) د اصحابو څخه.**

**دا اوه ورونه چې ټول يې اصحاب او له مهاجرو څخه دي په عزت کې له دوی سره څوک برابري نه شي کولی او ويل کېږي چې دوی ټولو د خندق په غزوه کې د شرکت افتخار تر لاسه کړئ دی.**

## متفق او مفترق

**لغوي تعریف:** متفق د اسم فاعل صیغه ده له ( اتفاق ) اخیستل شوېې ده او مفترق هم د اسم فاعل صیغه د اقتراق له باب څخه ده او د اتفاق ضد معنیٰ لري.

**د متفق اصطلاحي تعریف:** عبارت له دې څخه دی چې د راویانو او د هغوی د پلرونو او یا زیات نومونو د خط او تلفظ د رویه سره یو شان وي، خو اشخاص یې بېل بېل او یو له بل نه فرق ولري. په همدې شان که د راویانو نومونه او کنیه اسمونه او یا یې نومونه او نسبتونه سره یو وي، دوی متفق بلل کېږي او یا په نورو خصوصیاتو کې سره شریک وي.

**مثالونه:**

الف: خلیل بن احمد: شپږ نفره راویان په دغه نوم کې سره شریک دي، چې اول یې سیبویه دی.

ب: احمد بن حعفر بن حمدان: په دغه نوم کې څلور راویان، چې په یوه عصر کې یې ژوند کاوه شریک دی.

ج: عمر بن الخطاب: شپږ نفره راویان په دغه نامه موجود دي.

**د متفق راویانو د پېژندې فایده:**

د راوي په باره کې دغه شان پېژندنه زیاته د اهمیت وړ ده، دا ځکه چې په دې هکله بې خبري باعث کېږي چې ډېر عالمان له واقعیت څخه منحرف شي او فایدې یې په لاندې ډول دي: په یوه ګروپ باندې چې په نومونو کې سره شریک دي، د یوه نفره له فکر کولو څخه مخنیوی.

ب: د هغه کسانو په مینځ کې فرق کول دي چې نومونه یې سره یو شان دي، ځکه امکان لري چې په دوی کې ځیني ثقه او ځیني نورېې غیر ثقه وي نو دا مجال پیدا کېږي چې صحیح ضعیف وګرځوي او عکس یې هم ممکن دی.

د متفق او مفترق پېژندنه هلته د استعمال وړ او استفاده ورڅخه کېږي، چې دوه راویان یا له دوونه زیات په یوه نوم کې سره شریک او په یوه زمانه کې یې ژوند کړئ وي او په ځینې شیوخو او هغه کسانو کې سره یوشانته وي چې له هغوی نه یې روایت کړئ وي.
خو که هغوی په مختلفو زمانوکې ژوند کړی وي په دغه مورد کې د دوی د نومونو یو والی کومه ستونځه نه پیدا کوي.

## مُؤْتَلِف او مختلف

**تعریف:** مُؤْتَلِف په لغت کې د اسم فاعل صیغه ده او د ( **الائتلاف** ) نه اخیستل شوې ده، معنای یې جمعه او یو ځای کېدل دي او د نفرت ضد ته هم ویل کیږي.
**مختلف** په لغت کې د اسم فاعل او د ( **الاختلاف** ) څخه اخیستل شوې، چې د اتفاق ضد معنیٰ لري.
په اصطلاح کې د مؤتلف معنیٰ ( ان تتفق الاسماء و الالقاب او الکنی او الانساب خطاً و تختلف لفظاً ) یعنې مؤتلف هغه ته وایی چې د راویانو نومونه او یا القاب او یا کنیه نومونه او یا د هغوی نسب په خط کې سره یو شانته وي خو په تلفظ کې مختلف وي.
**د مثال په توګه:**
**الف:** ( سلام او سلاّم ) چې لمړی دلام په تخفیف او دوهم یې د لام په تشدید سره دی.
**ب:** ( مِسْوَر او مُسَوَّر ) چې لمړی یې د میم کسره او د سین په سکون، او دوهم یې د میم په ضمه او د سین په فتحه او تشدید سره تلفظ کېږي.

ج: ( البَّراز او البزار ) چې د لمړي لفظ په آخر کې ( ز ) او د دوهم په آخر کې د (ر) حرف موجود دی.
د: ( الثوری او التوزی ) چې لمړی لفظ په ( ث او ر ) او دوهم یې په ( ت او ز ) سره تلفظ کېږي.
د دغه شان الفاظو او کلمو د پېژندنې د پاره کومه قاعده شته او که نه؟
الف: په دې باره کې کومه خاصه قاعده نه ده موجوده خو د هر لفظ په حفظ کولو سره کېدی شي چې له خلط او اشتباه نه مخنیوی وشي.
ب: په ځینې مواردو کې کېدی شي چې خاصه قاعده ولري چې په دوو طریقو عملي کېدی شي:

١- مثلاً کېدی شي چې د یوه او یا څو خاصو کتابو په هکله خاصه قاعده موجوده وي چې د همدې خاصو کتابو په مورد کې تطبیق شي. مثلاً داسې وایو: که د صحیح البخاري او صحیح مسلم په هر ځای کې چې د ( یسار ) کلمه ذکر شي نو هغه په ( مهمله یاء ) سره تلفظ کېږي مګر یوازې په محمد بن بشار کې چې په موحده ( ب ) سره ده.
٢- او یا به د ټولو کتابو په باره کې یوه عامه قاعده موجوده وي. مثلاً داسې وویل شي چې: سلاّم په ټولو کتابو کې او په هره موضوع کې په تشدید لوستل کېږي مګر په پنځو ځایونو کې، او بیا دغه پنځه ځایونه ذکر شي.

## متشابه

**د متشابه تعریف:** متشابه په لغت کې د اسم فاعل صیغه ده چې د تماثل په معنیٰ ده. په دې ځای کې د متشابه نه مطلب ( ملتبس ) دی، چې په قرآنکریم کې هم د متشابه کلمه استعمال شوې ده یعنې هغه کلمه چې معنایې خفی وي.

په اصطلاح کې د متشابه معنیٰ: متشابه په اصطلاح کې هغه حالت ته ویل کېږي چې د راویانو نومونه په لفظ او خط کې سره یو شان وي، خو د پلرونو نومونه یې په لفظ کې سره متفق او په تلفظ کې سره متفق نه وي او یا په عکس سره وي. د مثال په توګه: محمد بن اعُقَیْل چې ( عین ) یې ضمه لري او محمد به عَقَیْل چې ( عین ) یې مفتوح دی. په دغه مثال کې د راویان نومونه سره متفق او د پلرونو نومونه یې فرق لري.

یا ( شریح بن النعمان  او سریح بن النعمان ) چې د پلرونو نومونه یې سره متفق او د راویانو مختلف دي.

**د پېژندنې فایده:**

د دغه ډول التباس د پېژندنې فایده دا ده چې په نطق کې د التباس او تصحیف څخه مخنیوی کېږي.

**د متشابه نور ډولونه:**

الف: د متشابه یو ډول دا دی چې د راوي د پلار او د بل راوي د پلار په نومونو کې په یوه او یا څو حرفونوکې فرق موجود وي. د مثال په توګه: ( محمد بن حنین او محمد بن جبیر ).

ب: بل دا چې د دوو راویانو او د هغوی د پلرونو په نومونو کې  یوازې په تقدیم او تأخیر کې فرق موجود وي. لکه: ( الاسود بن یزید او یزید بن الاسود ).

او یا تقدیم او تأخیر یوازې په ځینې حروفوکې موجود وي. لکه ( ایوب بن سیار او ایوب یسار ).

# مهمل

**تعریف:** په لغت کې د اسم مفعول صیغه او د ( الاهمال ) د باب څخه دی، چې د ترک کولو په معنیٰ دی، کله چې راوي یو نوم پرته له هغه څه چې پرې وپېژندل شي ترک کړي.

په اصطلاح کې د مهمل معنیٰ دا ده چې یو راوي له دوو کسانو څخه چې یو نوم ولري او یا د هغوی د پلار په نوم روایت وکړي، خو هغه خصوصیات چې هر یو وربانديې پېژندل کېږي نه ذکر کوي.

**د اهمال ضرر:** کله چې یو راوي ثقه او بل یې ضعیف وي په دغه حالت کې همال په روایت کې ضرر وارد وي، ځکه په دغه دوو روایتونوکې نه معلومېږي چې کوم یې ثقه او کوم یې ضعیف دی. خو که دواړه راویان ثقه وي، اهمال د روایت د پاره کوم ضرر نه راوړاندې کوي. ځکه دواړه راویان چې خصوصیات یې ترک شوي، ثقه دي او د حدیث صحت ته کوم ضرر نه متوجه کوي. د مثال په توګه: امام بخاري له احمد څخه او هغه د ابن وهب نه روایت کړئ، په دغه روایت کې د امام بخاري هدف له احمد څخه یا احمد بن صالح او یا یې هدف احمد بن عیسی دی. دوی دواړه ثقه دی چې د دغه روایت د صحت لپاره کوم ضرر نه متوجه کوي.

د هغه راویانو مثال چې یو یې ثقه او بل یې ضعیف وي:

( سلیمان بن داود او سلیمان به داود ) چې یو یې سلیمان بن داود الخولائي دی، چې هغه ثقه دی او بل یې سلیمان بن داود الیمامي دی، چې هغه ضعیف دی.

د مهمل او مبهم تر مینځ فرق:

د مهمل راوي نوم ذکر کېږي خو نور خصوصیات چې دي وربانديې پېژندل کېږي هغه نه ذکر کېږي، خو د مبهم راوي اصلاً نوم هم نه ذکر کېږي.

په دغه برخه کې تر ټولو مشهور کتاب ( المکمل فی بیان المهمل ) خطیب بغدادي کتاب دی.

## د مبهماتو پېژندنه

**تعریف:** مبهمات د مبهم جمعه او د اسم مفعول صیغه ده، د ( الابهام ) له باب څخه ده چې په لغت کې د روښنۍ ضد معنیٰ لري.

په اصطلاح کې مبهم هغه څوک دی چې نوم یې په متن او یا د راویانو په اسناد او یا دهغه چا سره چې د روایت سره رابطه ولري، مبهم وي.

**د ابهام په هکله د تحقیق فایدې:**

**الف:** که ابهام په سند کې وي د مبهم په هکله د تحقیق فایده دا ده چې د راوي ثقه والی او یا ضعیف والی روښانه شي، تر څو په حدیث باندې د صحت او یا د ضعف حکم وکړای شي.

**ب:** که ابهام په متن کې وي د ابهام پېژندنه ډېرې فایدې لري.

یوه دا چې د قصې خاوند او یا سوال کونکی معلومېږي، دا په هغه صورت کې چې په حدیث کې ځینې مناقب موجود وي تر څو د هغه فضائل معلوم شي. او که مطلب بالعکس وي په دې صورت کې د مبهم پېژندنه په نورو جګ پوړو اصحابو باندې د ګمان څخه مخنیوی کېږي.

**د مبهم پېژندنه په دوو طریقو کېدی شي:**

**الف:** یوه طریقه یې دا ده چې د هغه نوم په ځینې نورو روایتونو کې ذکر شوی وي.

**ب:** بله طریقه یې دا ده چې سیرت لیکونکو د هغوی په نومونو باندې تصریح او هغوی یې معرفي کړي وي.

**د مبهم اقسام:** مبهم د ابهام د شدت او خفت په لحاظ په څلور ډوله دی:

۱- د نارینه توب او ښځینه توب په لحاظ، د مثال په توګه د ابن عباس[رض] حدیث چې داسې وایی: ( ان رجلاً قال یا رسول الله، الحج کل عام، چې مطلب له ( رجلاً ) څخه اقرع بن حابس دی.

۲- د ابن او بنت په لحاظ: چې اخ، اخت، ابن الأخ، ابن الاخت، بنت الأخ او بنت الاخت هم هغه پورې ملحق کیږي. د مثال په توګه: ( حدیث أم عطیه فی غسل ( بنت ) النبی[ص] بماءٍ و سدرٍ ). په دغه حدیث کې د ( بنت ) څخه مطلب زینب[رض] ده.

۳- عم او عمه: چې خال، خاله، ابن او یا بنت العم او عمه، ابن او یا بنت الخال او خاله په هغوی پورې ملحق کېږي. د مثال په توګه: ( حدیث رافع بن خدیجه عن ( عمه ) فی النهی عن المخابرة ) چې د عم نوم یې ظهیر بن رافع دی. په همدغه شان ( حدیث ( عمة ) جابر اللتی بکت اباها لما قتل یوم احد). چې د عمه نوم یې فاطمه بنت عمرو دی.

۴- زوج او زوجه: د مثال په توګه د امام بخاري او مسلم حدیث د سبیعة د زوج د وفات کېدو په هکله دی، چې د سبیعة د زوج نوم سعد بن خولة دی. په همدغه شان د عبدالرحمن بن الزبیر د زوجې حدیث دی، چې تر مخه د رفاعه القرظي په نکاح کې وه او بیا یې طلاق ورکړی و او نوم یې تمیمة بنت وهب دی.

**د مبهماتو په باره کې مشهور کتابونه:**

زیات شمېر عالمانو په دغه هکله کتابونه تألیف کړئ، د هغوی له جملې عبدالغني بن سعید، خطیب او نووي کتابونه لیکلي چې په ټولو کې جامع او مهم کتاب د (المستفاد مهم مبهمات المتن والاسناد ) کتاب چې د ولي الدین العراقي تألیف دی.

# د الوُحْدان پېژندنه

**تعريف:** الوُحْدان په لغت کې د ( واو ) په ضمه او د واحد جمعه ده.
په اصطلاح کې عبارت له هغو راويانو څخه دی چې يوازې يوه نفر له هغوی نه روايت کړئ وي.
د پېژندنې فايده يې د مجهول العين معلومول او د هغه د روايت ردکول دي، په هغه صورت کې چې صحابي نه اوسي.
**مثالونه:**
الف: د اصحابو له جملې څخه عروة بن مُضَرّس دی چې پرته له شعبې نه بل چا له هغه څخه روايت نه وي کړئ او مسيب بن حزن چې پرته د ده له زوی څخه سعيد بل چا له ده څخه روايت نه دی کړئ.
ب: د تابعينو څخه أبو العشراء دی چې پرته له حماد بن سلمة نه بل چا له ده څخه راويت نه دی کړئ.
امام بخاري او مسلم له وُحْدانو څخه احاديث تخريج کړئ او که نه؟
حاکم په ( المدخل ) کې ذکر کړي چې شيخينو د عسې روايت په خپلو کتابونوکې نه تخريج کړئ. خو جمهور محدثين په دې نظر دي چې په بخاري او مسلم کې زيات شمېر احاديث له واحدانو څخه چې د اصحابو له جملې څخه دي، موجود دي.
له دې جملې څخه:

١- د ( المسيب ) حديث دی چې د ابوطالب د وفات په باره کې امام بخاري او مسلم تخريج کړي.
٢- د ( قيس بن ابو حازم ) حديث دی چې له ( مرداس الاسلمي ) نه يې داسې روايت کړئ: ( يذهب الصالحون الاول فالاول ). خو له مرداس څخه پرته

له قيس نه بل راوي روايت نه دی کړئ او دغه حديث امام بخاري تخريج کړئ دی.

په دغه برخه کې تر ټولو مشهور کتاب د ( المنفردات و الوحدان ) کتاب دی، چې امام مسلم تأليف کړئ دی.

**د هغو کسانو پېژندنه چې په مختلفو نومونو او صفتونو يادېږي:**

دا هغه راويان دي چې د يوه کس او يا د يوه ګروپ الخوا په مختلفو نومونو يا په مختلفو لقبونو او يا په کنيه اسمونو باندې ياد شوی دي.

د مثال په توګه: محمد بن السائب الکلبي )، چې ځينو د ابالنضر او بعضې نورو د (حماد بن السائب او بعضې نورو د ( ابوالسعيد ) په نوم ياد کړئ دی.

د دغه پېژندنې فايده دا ده چې د يوه شخص په نومونو کې التياس رانشي او داسې ګمان هم ونه شي چې دوی به زيات کسان وي.

**هغه کسان چې يوازې مفرد نوم، لقب او مفرد اسم کنيه ولري:**

له مفرداتو څخه هدف دا دی چې يو صحابي او يا رواي او يا د علماوو څخه يو عالم مستقل اسم کنيه او يا مستقل لقب ولري چې نور راويان او عالمان داسې اسم کنيه او لقب ونه لري.

دغه مفردات غالباً غريب او نادر نومونه دي چې په هغه باندې تلفظ کول يوه اندازه مشکل وي. د مفرداتو د پېژندنې فايده په مفردو نومونو کې له تصحيف او تحريف څخه مخنيوی دی.

**مثالونه:**

الف: په اصحابو کې: ( اَحمد بن مُجْحيَان او سُفْيَانَ يا عُلَـــَّان ).

ب: غير له اصحابو څخه: ( اوسط به عمرو او ضْريب بن نُقَيْر بن سُمير ).

# مسلسل حدیث

تعریف: مسلسل په لغت کې اسم مفعول دی، له ( السلسلة ) څخه اخیستل شوی، معنایې د دوو شیانو تر مینځ اتصال او پیوستون دی. لدې خاطره په عربي ژبه ځنځیر ته وایی.
د روایت په لحاظ دغه ډول حدیث ته ځکه مسلسل ویل کیږي چې د اجزاؤ او حلقوتو تر مینځ د اتصال او تماثل په خاطر له ځنځیر سره مشابهت لري.
په اصطلاح کې مسلسل د سند د رجالو د تتابع او توافق څخه عبارت دی، چې دغه تتابع او توافق به کله د راویانو پر صفت او یا حالت باندې وي اوکله به د روایت پر صفت او حالت باندې.
د راویانو صفات د هغوی د اقوالو او افعالوڅخه عبارت دي.
د روایت صفات، هغه صفات دي چې د راویانو په صیغو، الفاظو، وخت او په مکان پورې ارتباط اوتړاو ولري.
د علوم الحدیث علماوو د مسلسل تعریف په لاندې ډول کړئ دی:
المسلسل: هوما اتفق الرواة فی صیغ الاداء اوغیر هامن الحالات. یعنې مسلسل هغه حدیث ته وایی چې راویان یې د اداء کولو په صیغو او نورو حالاتو کې سره متفق وي.
د مثال په توګه: سمعت فلاناً، قال سمعت فلاناً، او یا حدثنا فلان او یا په نورو صیغو کې متفق وي.
او یا په قولي حالاتو کې سره متفق وي. مثلاً: ( د خلنا علی فلان فاطعمنا تمرا... ).
یا په فعلي او قولي دواړو حالاتو کې متفق وي. مثلاً: ( حدثنی فلان و هو آخذ بالحیته قال: آمنت بالقدر....).

د پورتني تعريف نه معلوميږي چې مسلسل هغه حديث دی چې د اسناد راويان يې په لاندې ډول سره متفق وي:

۱– په يو صفت کې سره يو شانته وي.

۲– په يوه حالت کې يو شانته وي.

۳– د راويت په حالت کې سره يو شانته وي.

په لنډه توګه ويلی شو چې مسلسل حديث په درې ډوله دی:

۱– د راويانو په حالاتو کې مسلسل.

۲– د راويانو په صفاتو کې مسلسل.

۳– د راويت په صفاتو کې مسلسل.

دغه پورتني اقسام په جلا جلا توګه شرح کوو.

الف: د راويانو په حالاتو مسلسل:

کېدی شي چې د راويانو حالات يوازې اقوال او يا يوازې افعال او يا اقوال او افعال دواړه وې.

۱– د راويانو په قولي حالاتو کې مسلسل:

د مثال په توګه د معاذ بن جبل حديث دی چې نبي کريم[ص] ورته ويلي دي: (يا معاذ انی أحبک فقل فی دبر کل صلاة: اللهم اَعِنّي، علی ذکرک و شکرک و حسن عبادتک).

حضرت معاذ به جبل هرراوي ته دغه قول (انا احبک فقل) په تسلسل سره ويلي دي.

۲– د راويانو په فعلی حالاتو کې مسلسل:

د مثال په توګه د ابوهريرة[رض] حديث دی چې وايي:

(شَبَّک بيدی ابو القاسم[ص] و قال: خلق الله الارض يوم السبت). يعنې ابوهريرة[رض] وويل چې رسول الله[ص] قول راکړ (تشبيک) او داسې يې وويل چې الله تعالیٰ ځمکه د شنبې په ورځ پيدا کړې ده.

هر چا چې له ابوهريرة څخه دغه حديث روايت کړی، هغه ورته د تشبيک فعل په مسلسل ډول انجام کړی دی.

۳- د راويانو په قولي او فعلي حالاتو کې مسلسل:

د مثال په توګه د انس^رض^ حديث دی چې ويلې يې دي:

قال رسول الله^ص^: لايجد العبد حلاوة الايمان حتى يؤمن بالقدر خيره و شره حلوه و مُرِّ و قبض رسول الله^ص^ على لحيته وقال: آمنت بالقدر خيره وشره حلوه و مُرِّه.

هر راوي چې د انس^رض^ څخه دغه حديث روايت کړی، هغه ورته د ژيرې په قبضه کولو او په دغه قول: (آمنت بالقدر خيره و شره حلوه و مره) تسلسل کړی دی.

ب: د راويانو په صفاتو کې مسلسل:

د راوي صفات به يا قولي وي او يا فعلي.

۱- د راوي په قول صفاتو کې مسلسل:

د مثال په توګه د (الصف) د سورې د قرائت په هکله مسلسل حديث، چې د هر يوه راوي په قول يې: (فقرأ ها فلان هكذا) تسلسل موندلی دی. او عراقي ويلی دي چې د راويانو قولي صفات او حالات سره نږدې او يوشانته دي.

۲- د راوي په فعلي صفاتو کې مسلسل حديث: لکه د راويانو د نومونو متفق والی. د مثال په توګه (اَلْمُحَمَّدِين) چې په نومونو کې سره تسلسل لري. او يا په صفاتو کې تسلسل د مثال په توګه تسلسل په فقاهت او يا حفظ کې، يا اتفاق او تسلسل په نسبت کې، لکه الدمشقيين يا المصريين.

ج: د روايت په صفاتوکې مسلسل حديث:

د روايت صفات به يا په صيغو پورې مربوط وي او يا به د روايت په وخت او يا مکان پورې مربوط وي، چې په لاندې ډول توضيح کېږي:

۱- په صيغو کې مسلسل حديث:

د مثال په توګه هر يو راوي د حديث روايت د (سمعت) په صيغه او يا د (اخبرنا) په صيغه وکړي.

۲– د روایت د زمانې په لحاظ مسلسل حدیث:

مثلاً د حدیث ټول راویان د روایت په وخت کې سره متفق وي، مثلاً د اختر په ورځ یې روایت کړئ وي.

۳– د روایت د مکان په لحاظ مسلسل حدیث:

د مثال په توګه په ملتزم شریف کې د دعا د اجابت مسلسل حدیث. هغه صیغه چې د حدیث په روایت کې استعمالېږي مختلفې مرتبې لري، چې په لاندې ډول یې توضیح کوو:

| د روایت د اداء کولو صیغې | د روایت د اداء کولو د صیغو مرتبې |
|---|---|
| لمړی مرتبه | سمعت او حدثنی |
| دوهم مرتبه | اخبرنی او قرائت علیه |
| دریمه مرتبه | قرأ علیه و انا اسمع |
| څلورمه مرتبه | انبأنی |
| پنځمه مرتبه | ناولنی |
| شپږمه مرتبه | شافهنی (ای بالاجازة) |
| اومه مرتبه | کتب اِلَیَّ (ای بالاجازة) |
| اتمه مرتبه | عن او د هغه په څیر نورې صیغې چې د سماع او یا د اجازې او یا د عدم سماع او یا د عدم اجازې احتمال لري. مثلاً قال او ذکر دوه لمړي لفظونه یعنې سمعت او حدثنی چې په لمړی مرتبه کې دي، هغه خوک یې د استعمال صلاحیت لري چې په خپله یې د شیخ عبارت اوریدلی وي. |

تمرینونه

۱– حدیث د سند د انتهاء په لحاظ څو قسمه دی؟

۲– قدسي حدیث کوم ډول حدیث دی او فرق يې د قرآن سره څه دی؟

۳– قدسې حدیث او نبوي حدیث يو له بل نه څه فرق لري؟

۴– مرفوع حدیث تعریف کړئ؟ حکم او مثال يې شرح کړئ.

۵– مرفوع حدیث په څو قسمه دی؟ هر يو يې شرح کړئ.

۶– صریح فعلي مرفوع حدیث څرنګه حدیث دی؟ په کوم حالت کې دغه نوم ورباندې اینبودل کيږي؟

۷– موقوف حدیث تعریف کړئ؟

۸– هغه قرينې چې د حدیث په مرفوعوالي دلالت کولی شي کومې دي؟

۹– مقطوع حدیث تعریف کړئ؟ او حکم يې څه دی؟

۱۰– مخضرمین تعریف کړئ؟ کوم روایت ته مخضرمین ویل کېدی شي؟

۱۱– د اسناد علو او نزول څه فایده لري؟ او په څه ډول پېژندل کېدی شي؟

۱۲– نسب علوّ په څو قسمه دی؟

۱۳– مساوات او مصافحه تعریف کړئ؟

۱۴– نزول په څو قسمه دی؟ د اسناد علو غوره دی او یا د هغه نزول؟

۱۵– أقران اومدمج تعریف او په مثال کې يې شرح کړئ؟

۱۶– د دغه سند (اقران او مدمج) پېژندنه څه فایده لري؟

۱۷– له اصاغرو څخه د اکابرو روایت تعریف کړئ؟

۱۸– له اصاغرو څخه د اکابرو روایت په څو قسمه دی؟ د هر یوه نوم واخلئ.

۱۹– له اصاغرو څخه د اکابرو روایت تعریف کړئ؟

۲۰– سابق او لاحق څه ډول روایت دی، هر يو يې تعریف کړئ؟

۲۱– مهمل تعریف کړئ، او څه ډول روایت ته مهمل ویل کېږي؟

۲۲– مهمل د مبهم سره څه فرق لري؟ هغه واضیح کړئ؟

**۲۳- مسلسل تعریف کړئ؟**

**۲۴- مسلسل په څو ډوله دی، د هر یوه د پاره مثال بیان کړئ؟**

**۲۵- د روایت د اداء کولو د صیغو مرتبې څو او کومې دي؟**

## اتم فصل

# راوي او د هغه د قبول شرطونه

ځرنګه چې د رسول الله^ص حدیث مونږ ته د راویانو په واسطه را رسېږي، نو د صحیح او غیر صحیح حدیث د پېژندنې اساسي نقط د راویانو دقیقه پیژندنه ایجابوي په دغه خاطر د علوم الحدیث عالمانو او پوهانو د حدیث راویانو ته زیاته توجه کړې، د هغوی د روایت د قبول په خاطر یې ډېر دقیق او محکم شرطونه وضع کړي دي، دغه کار د دوی په دقیق فکر او محکم دریز دلالت کوي.

کوم شرطونه چې د علوم الحدیث عالمانو او پوهانو د راوي او د هغه د روایت د قبول په خاطر وضع کړی، د نړۍ په هیڅ ملت کې حتیٰ په اوسني عصر کې چې دخبرونو په نشرولو کې په دقت او اصولیت مشهور دي، لیدل شوی نه دي.

ډېر هغه خبرونه چې د نشراتي ارګانونو لخوا نشر کېږي د هغو د قبول په خاطر دا ډول شرطونه نه دي وضع شوی. کله داسې هم واقع کېږي چې رسمي منابع په هغه خبرونو چې د خمعي رسانیو لخوت خپریږي باور نلري، کله داسې واقع کېږي چې یو خبر نشر کېږي او وروسته له کمې مودې ځخه لیدل کیږي چې نشر شوی خبر رد شوی دی.

**د راوي د قبول شرطونه:**

د علوم الحدیث او اسلامي فقهې امامانو او پوهانو د راوي د قبول په خاطر دوه شرطونه چې ډېر حتمي او ضروري دي، وضع کړي دي:

۱- عدالت: یعنې راوي باید عادل شخص وي، یعنې مسلمان، بالغ او عاقل کس، او د فسق د ټولو عواملو او اسبابو ځخه پاک وي.

۲- ضبط: د ضبط څخه اساسي هدف دا دی چې راوي به د ثقاتو څخه مخالف نه وي، حفظ يې کم نه وي، زياته غلطي ونه لري، غافل نه وي او زيات وهم ونه لري.

**په راوي کې عدالت په څه ډول تثبيت کيدی شي؟**

الف: د مُعدلينو د اعتراف په واسطه چې دغه راوي عادل دی.

ب: په عدالت سره د شهرت په واسطه.

هر هغه څوک چې عدالت يې د علم او فضيلت د خاوندانو په مينځ کې نشر شوی وي او هر څوک يې د يوه عادل شخص په توګه وپيژني د ده د عدالت د تثبيت د پاره کفايت کوي. وروسته لدې نه د هغه د عدالت د تثبيت په خاطر د معدلينو اعتراف ته ضرورت ته ليدل کېږي. لکه د حديث مشهور امامان د بېلګې په توګه سفيانين او امام او راعي او داسې نور.

**د راوي ضبط څرنګه تثبيت کېدی شي؟**

هر کله چې د راوي روايت د ثقه او د باور وړ راويانو د روايت سره موافقت ولري همدغه موافقت د هغه د ضبط د تثبيت د پاره کافي بلل کېږي.

که د يوه راوي روايت په زياته برخه کې د ثقه راويانو د روايت سره موافقت ولري، دا ډول راوي هم د ضبط خاوند بلل کېږي، او دهغه روايت کمه برخه چې د ثقه راويانو سره مخالفه وي دهغه ضبط ته کوم ضرر نه رسوي. خو که چېرته د راوي د روايت زياته برخه د ثقه راويانو د روايت سره په مخالفت کې واقع وي، په دغه صورت کې د راوي ضبط مختل کېږي او راويت يې د قبول وړ نه بلل کېږي.

**پرته د سبب د بيانولو څخه، جرحه او تعديل د قبول وړ دی که نه؟**

الف:صحيح او مشهور قول دا دی چې تعديل پرته د سبب د بيانولو څخه د قبول وړ کېدی شي، علت يې دا دی چې د تعديل اسباب ډېر زيات دي او حصر يې مشکل دی. دا ځکه چې معدل محتاج کېږي چې ووايي:

راوي دغسې کار نه دی کړئ، د داسې کار او عمل مرتکب شوی نه دی او یا دا چې وواییې: داسې عمل یې کاوه، او داسې نور.

ب: د جرحې په هکله باید ووایو چې: جرحه پرته د هغې د تفسیر مشکل نه دی. بل دا چې خلک د جرحې په سببونو کې سره مختلف دي، کله په یوه کس باندې جرحه په داسې کار واردېږي چې هغه کار به جرحه کونکي نه وي. ابن صلاح وایي چې: په فقهې او اصول فقهې دا یو ظاهر قول دی. همدارنګه حافظ خطیب ذکر کړئ چې دا قول د امامانو، حافظانو او د حدیث د نقادانو مذهب دی. لکه امام بخاري، امام مسلم او داسې نور. په همدې خاطر امام بخاري د هغه کسانو قول (روایت) قبول کړئ دی چې د نورو لخوا په جرحه باندې متهم شوي دي. لکه اکرمه، عمرو بن مرزوق او امام مسلم د سوید بن سعید روایت قبول کړئ، سره له دې چې یو شمېر کسانو د پورتنیو راویانو په مورد کې طعن ویلي او مشهور کړي دي.

د حدیث د امامانو دغه سلوک دلالت کوي چې جرحه پرته د هغې د سبب د تفسیر کولو څخه په اثبات نه رسېږي.

په جرحه کونکي او معدل دواړو کې شرط دا دی چې دوی به د علم، تقوی، صدق او امانا داری خاوندان وي، د تعصب څخه ځان وژغوري، د تزکیې او تجریح په اسبابو یوه وي. همو جرحه او تعدیل یوازې د اسبابو په هکله پوره معلومات ولري.

**جرحه او تعدیل یوازې د یوه کس په واسطه په اثبات رسېږي او که نه؟**

په دغه مورد کې صحیح قول دا دی چې جرحه او تعدیل د یوه کس په واسطه هم ثابتېږي خو ځینو نورو ویلي دي چې د جرحې او تعدیل د ثبوت د پاره دوو کسانو ته ضرورت دی چې وجود ولري.

کله چې یو راوي د بل چا لخوا جرحه شي او د جرحې د اسباب یې هم بیان کړئ وي، بیا همدغه راوي د بل کس لخوا تعدیل شي په دې مورد کې د اعتماد وړ قول دا دی چې جرحه په تعدیل باندې مقدمه ده.

حافظ ابن حجر ويلي دي چې د علماوو دا قول چې جرحه پرته له تفسير څخه د قبول وړ نه ده، دا د هغه راوي په مورد کې دی چې په توثيق او جرحه کې يې اختلاف وجود ولري. خو هغه راوي چې مجهول وي او د حديث د امامانو څخه يوازې يو قول يې په مورد کې موجود وي چې دغه راوي متروک او يه ضعيف دی او يا داسې بل قول. خو بل شئ يې په مورد کې معلوم نه وي په دغه صورت کې د جرحه کونکي قول د قبول وړ دی او په تفسير يې مکلف نه دی.

## د تزکيې او تجريح مرتبې

سخاوي د الفيي په شرح کې او شيخ اکرم سندي په خپل کتاب (امعان النظر) کې چې د شرح نخبة الفکر شرح ده جرحې او تعديل الفاظو ته شپږ مرتبې ټاکلی دي، چې په لاندې ډول يې بيانوو:

١- هغه وصف دی چې په مبالغه باندې دلالت وکوي او يا د (افعال التفضيل) په صيغه ذکر شوی وي لکه: (فلان اوثق الناس) او يا (فلان اثبت الناس) او يا (اليه المنتهى فى الضبط) او يا (لا اعراف له نظيراً) يا د دې په څېر نور الفاظ چې په لوړه مرتبه کې واقع وي.

٢- د (فلان ايسئل عنه) عبارت دی، يعنې فلاني کس تر سوال لاندې نشي راتلی او يا د هغه په څېر نور عبارتونه.

٣- توکيد په هغه صفت چې په توثيق دلالت وکړي. لکه: (ثقه ثقه) او يا (ثبت حجة) او يا (ثقه ضابط) يا داسې نور.

دغسې اقوال ابن عيينه زيات نقل کړئ دی او داسې وايي:
حدثنا عمرو بن دينار وكان ثقه،ثقه،ثقه،ثقه.... ترڅو چې نه مرتبې يې تکرار کړ.

۴- عبارت له هغه صيغې څخه ده چې پرته له تأكيد څخه په توثيق دلالت وكړي. لكه (ثقه) او يا (ثبت) او يا (حجة) او داسې نورې صيغې. خو حجت كيدل له ثبت كېدو څخه قوي دى.

۵- د (فلان صدوق) او يا (مأمون) او يا (ليس به بأس) او يا (لابأس به عند غير ابن معين) كلمې دي.

بدر بن جماعة په خپل مختصر كې ويلي دي چې: ابن معين ويلي دي: كله چې د راوي په مورد كې وويل شي: لابأس به اويا ليس به بأس) دغسې راوي ثقه بلل كېږي. او دغه قول په خپله د ده په مورد كې خبر وركوي. په همدې شان د ابن صلاح په مقدمه كې هم ذكر شوئ دى.

٦- هغه مرتبه ده چې تجريح ته د ورنېږدې كيدو حالت كې وي او د تزكيې وروستنۍ مرتبه ده لكه: (فلان ليس ببعيد عن الصواب) او يا (شيخ) او يا (يعتبربه) او يا (فلان شيخ وسط) او يا (فلان روى عنه الناس) او يا (صالح الحديث) او يا (يكتب حديثه) او يا (ارجو أن لا بأس به) او داسې نور.

**د تېرو شپږو مرتبو د راويانو حكم:**

د څلورو لمړيو مرتبو د راويانو حكم دا دى چې هغه د قبول وړ دى او د وروستنيو مرتبو د راويانو روايت د قبول وړ نه دى او عمل ورباندې نه كېږي، خو بيا هم حديث او خبر يې ياداشت او نوشته كيږي.

د شپږمې مرتبې د روايت حكم د هغې څخه د مخه مرتبې نه را ښكته او ټيټ دى، خو ځيني محدثين د هغه مرتبې حديث يوازې د اعتبار په خاطر ليكي تر هغه چې د راويانو په هكله د دوى موقف څرګند او روښانه شي، نه په دې خاطر چې د راويانو د ضبط څخه يې خبر وركړئ وي.

**د جرحې مرتبې:**

جرحه د تزكيې په شان شپږ مرتبې لري چې په لاندې توګه بيانېږي:

۱- لمړی او ډېره بده مرتبه د جرحې دا ده چې په مبالغه باندې دلالت وکړي يعنې په داسې لفظ چې (أفعَلُ) په وزه وي د جرحې نه تعبير وکړي. لکه: (فلان اکذب الناس) يا (اليه المنتهى فى الكذب) او يا (هو ركن الكذب او معدنه) په عبارتو سره او يا داسې نورې کلمې.

۲- دوهمه مرتبه د لمړی مرتبې څخه راښکته او ټيټه ده اگر چې د مبالغې په کلمو استعمال شوي وي. لکه: (فلان د جال) او يا (كذاب) او يا (وضّاع) اگر چې دا ډول اوزان د مبالغې د پاره استعمالېږي، خو په درجه کې د لمړی مرتبې څخه ټيټ او راښکته دی.

۳- درېمه مرتبه دا ده چې وويل شي: (فلان متهم بالكذب، او بالوضع او يسرق الحديث، او ساقط، او متروک، او هالک، او ذهب الحديث، او ترکوه، او لا يعتبربه، او ليس بثقة) او داسې نور.

۴- څلورمه مرتبه دا ده چې وويل شي: (فلان رُدَّ حديثه، او مردود الحديث، او ضعيف جداً، او طرحوه، او لايکتب حديثه، او لاتحل الرواية عنه، او ليس بشيءٍ عند غير ابن معين). سخاوي د الفيي په شرحه کې ويلي دي چې: (ابن قطان وايي، کله چې ابن معين د يوه راوي په مورد کې (ليس بشيءٍ) ووايي دهغه هدف دا دی چې د دغه راوي احاديث لږ دي).

۵- پنځمه مرتبه دا ده چې وويل شي: (فلان لا يحتج به، اوضَعَّفُوْه، او مضطرب الحديث، او ضعيف، او له ما ينكر، او له مناكير، او منكر الحديث) پرته ام له امام بخاري څخه.

حافظ ذهبي په خپل ميزان کې وايي: (ان البخاري قال: کل من قلت فيه منکر الحديث لاتحل الرواية عنه) يعنې امام بخاري ويلی دي چې د هغه کس په هکله مې چې د منکر الحديث قول کړئ دی له هغه څخه روايت کول جواز نه لري.

۶- شپږمه مرتبه تر ټولو ساده مرتبه ده. د مثال په توګه د راوي په مورد کې وويل شي: فلان فيه مقال، او ادنىٰ مقال، او ينکرمرةً، او يعرف اخرى، او

ليس بذاک، او ليس بالقوی، او ليس بالمتين، او ليس بحجة، او ليس بعمدة، او ليس بالحافظ، او فيه شيءٌ، او فيه جهالة، او سيئ الحفظ، اولين الحديث، او فيه لين. له همدې جملې څخه شمېرل کېږي چې د راوي په هکله داسې وويل شي: فلان تکلموا فيه، او فلان فيه نظر، او سکتوا عنه.

حافظ عراقي د الفيي په شرحه کې ويلی دي چې: امام بخاري د (فلان فيه نظر، او فلان سکتواعنه) دغه دوه عبارتونه د هغه کس په مورد کې استعمال کړئ دی چې خپل حديث يې ترک کړئ وي.

د دغه جرحې حکم:

سخاوي د الفيي په شرحه کې ليکلي دي چې د څلورو لمړيو مرتبو حکم دا دی چې د دغه کسانو په روايت باندې دستدلال جواز نه لري، د استشهاد او اعتبار وړ نه بلل کېږي. خو د پنځمې او شپږمې مرتبې د راويانو روايت او حديث د اعتبار وړکېدی شي.

# په جرحه او تعدیل پورې
# اړوند کتابونه

په حدیث باندې د صحت او یا د ضعف حکم په ځینو شیانو باندې بنأ دی، لدې جملې څخه د حدیث د راویانو عدالت او ضبط دی او یا د هغوی په عدالت او ضبط باندې د طعن واردول دي. نو په همدې منظور یو شمېر پوهانو او عالمانو ځینې داسې کتابونه تألیف کړل چې په هغو کې د احادیثو د راویانو عدالت او ضبط بیان شوی دی کوم د موثوقو او د باور وړ امامانو څخه نقل شوی دی، دغه لیکنه او عملیه د تعدیل په نوم نومول شوی یې ده. په همدې ډول په دغه کتابونو کې د هغه راویانو په هکله بحث او بیان شوی دی چې د هغوی عدالت او یا ضبط د طعن سره مخامخ شوی دی،او یا د هغوی حفظ ضعیف او طعن ورباندې وارد شوی دی، دغه بحثونه د هغه امامانو لخوا شوی دی چې د هر ډول تعصب تر تأثیر لاندې نه دی راغلی. دغه عملیه د (جرحې) په نوم یادېږي.

دا ډول کتابونه د جرحې او تعدیل د کتابونو په نوم یادېږي. دا ډول کتابونه ډېر اقسام لري، له دې جملې څخه ځینې داسې کتابونه دی چې یوازې د ثقه راویانو په هکله یې بحث کړئ او ځینې نور داسې کتابونه دی جې د ضعیفو اوجرحه شویو راویانو په هکله بحثونه لري، او ځینې یې داسې دي چې د راویانو دواړه برخې یې تر بحث لاندې نیولی دي.

له بله پلوه په دغه کتابونو کې داسې کتابونه شته دی چې په هغو کې د راویانو په هکله په عامه توګه بحث شوی پرته لدې چې د حدیثو د یوه او یا څو کتابونو راویانو تر بحث لاندې ونیول شي. ځینې کتابونو د یوه د حدیثو د یوه خاص کتاب او یا د څو معینو کتابو راویان تر بحث لاندې نیولي او معرفي کړي دي.

د جرحې او تعديل عالمانو د دغه شان کتابونو په تألیف سره ډېر مهم او مؤثر کار تر سره کړئ دی چې د دغه کار په ترڅ کې يې د حديث د راويانو کره کول او معرفي او په هغوی پورې د جرحې او تعديل اړوند مسئلې يې په ډېره ښه توګه بيان کړي دي.

په دغه کتابونوکې هغه کسان هم معرفي شوي دي کوم چې راويانو لدوی څخه احاديث اخيستی دی، او دا چې دوی کوم ځای ته سفرونه کړي، په کوم ځای کې يې د کوم شيخ سره ملاقات او ليدنه کتنه کړې ده. په همدې شان د راويانو د ژوند زمانې يې تعيين کړې دي.

دغه لوی کارونه چې د احاديثو د راويانو د معرفي په هکله په تېرو وختونوکې سره ته رسېدلی دي او په لويو، لويو کتابونو بحثونه ورباندې شوی دي ډېر پرمخ تللي ملتونه تر نن پورې نه دي توانېدلي چې د احاديثو د رجالو د معرفي کولو په هکله داسې کار سر ته ورسوي.

اوس لدې کتابونو څخه يو شمېر مهم کتابونه معرفي کوو:

١- التاريخ الكبير. د امام بخاري تأليف دی چې په هغه کې ثقه اوضعيف راويان معرفي او ذکر شوی دي.

٢- الجرح و التعديل. چې د ابن ابی حاتم تأليف دی د مخکې کتاب په شان ثقه او ضعيف راويان معرفي کړی دي.

٣- الثقافت. د ابن حبان تأليف دی، يوازې ثقه راويان معرفي کړی دي.

٤- الكمال فی اسماء الرجال. د عبدالغني المقدسي کتاب دی، عام بحثونه لري مګر بحثونه يې د شپږو صحيح کتابو په دجالو پورې اړوند دي.

٥- ميزن الاعتدال. د امام الذهبي کتاب دی، چې په ضعفا او متروکو راويانو پورې اړوند بحثونه لري. يعنې هر هغه څوک چې جرحه ورباندې وارده شوې وي، اګر چې جرحه يې قبوله شوې هم نه وي.

٦- تهذيب التهذيب، چې د ابن حجر عقلاني تأليف دی.

## د خپل شاګرد د روایت څخه د شیخ الحدیث انکار

**د شیخ الحدیث انکار:**

دا دغسې حالت دی چې شیخ د خپل شاګرد د روایت څخه چې هغه ته یې منسوبوي، انکار وکړي.

**د داسې روایت شوی حدیث حکم:**

که چېرته شیخ د دغسې روایت څخه په قطعت او یقین سره منکر شي حکم یې دا دی چې دغه روایت د قبول وړ نه دی او قابل د رد دی.

د مثال په توګه شیخ ووایي: ما دغسې حدیث ورته ویلی نه دي. او داسې ووایي چې: په ما باندې یې دروا غ ویلی.

دغه رد دوی دواړه په عدالت کې د خلل باعث نه ګرځي، دا ځکه چې دوی (راوي او مروي عنه) په طعن کې یو پر بل باندې بهتري نه لري.

که چېرته د شیخ انکار د تردد په شان وي او داسې ووایي: چې ( په یاد مې نه دي پاتې) او یا ووایي: (زه نه پوهېږم) او داسې نور. په دې حالت کې روایت شوی حدیث، شیخ په نسیان او د شاګرد په یاد، حمل کېږي. دا ځکه چې ثابتونکی یقیني او جازم روایت، پر هغه روایت باندې چې نفي کونکی او متردد وي، مقدم دی.

دارقطني په دې مورد کې کتاب لري چې د (من حدث ونسی) په نوم مسمیٰ دی.

د مثال په توګه: امام ابو داود او ترمذي له سهیل بن ابي صالح څخه، هغه له خپل پلارنه او هغه له ابوهریرة نه د شاهد او یمین په قصه کې مرفوع حدیث روایت کړی دی. خو عبدالعزیز بن محمد الدراوردي ویلی چې: حدثني په ربیعة بن ابي عبدالرحمن عن سهیل، فلقیت سهیلاً فسألته عنه فلم یعرفه، ققلت حدثني ربیعة عنک کذا. فصار سهیل بعد ذلک یقول: حدثني عبدالعزیز عن ربیعة عني أني حدثة عن ابی هریرة رض مرفوعاً بکذا.

تمرينونه:

۱- حديث د سند د آخر په لحاظ په څو ډوله دی، او مرفوع حديث په څو قسمه دی، هر يو د مثال په ضمن کې توضيح کړئ.

۲- دغه لاندې اصطلاح ګانې تعريف کړئ:

صحابي او تابعي، او واضح کړی چې مخضرمين د اصحابو له جملې څخه اوکه د تابعينو د جملې څخه دي؟

۳- اقران، مدبج، د اصاغرو څخه د اکابرو روايت، او د هغه عکس، سابق او لاحق، او مهمل تعريف کړئ او د هغو د پېژندنې فايدې واضح کړئ.

۴- عالي او نازل څرنګه روايتونه دي او په څو ډوله دي؟

۵- د هغه راوي حکم چې شيخ يې له هغه نه د ده د روايت نه منکر شي، څه دی؟ واضح کړئ چې شيخ انکار د شيخ په عدالت کې عيب بلل کېږي او يا د راوي په عدالت کې؟

٦- مسلسل تعريف او حکم يې بيان کړئ. واضح کړئ چې متفق او مفترق، مؤتلف او مختلف الاسماء کوم دي؟ د هغو د پېژندنې فايدې څه دي؟

۷- د جرحه کونکی او معدل شرط څه دي؟ د جرحې او تعديل د تعارض حکم څه دی؟

# نهم فصل

# د حدیث د راویانو د نومونو

# او د هغوی د کنیه اسمونو پېژندنه

یو له ضروریاتو څخه د هغه راویانو د نومونو پېژندنه ده چې کنیه اسمونه هم لري. بل د هغه راویانو پېژندنه هم ضروري ده چې یوازې نوم لري. دا ځکه چې راوي کله په نوم او کله په کنیه باندې یادېږي، که څوک د هغه په هکله معلومات و نه لري کېدی شي چې یو شخص، دوه شخصه تصور کړي، په داسې حال کې چې هغه به یو شخص وي. دغه شان راویان په لاندې انواعو وېشل شوی دي.:

۱- هغه راوي دی چې یوازې په خپل نوم مشهور شوی وي او یا بالعکس په کنیه یې شهرت تر لاسه کړئ وي لکه: طلحة ابن عبیدالله، عبدالرحمن بن عوف، حسن بن علي ټولو کنیه ابو محمد دی.

یا ابي ادریس الخولاني چې نوم یې عائد الله دی، او ابي اسحق البیعي چې نوم یې عمرو دی.

۲- هغه څوک چې کنیه یې نوم ګرځېدلی وي، لکه: أبی بلال الاشعری عن شریک او ابی حصین دمهمله حاء په فتحه عن ابی حاتم الرازی، چې دواړه (ابی بلال او ابی حصین) کنیه، او د هغوی نومونه دي.

۳- هغه څوک چې په نوم کې یې اختلاف موجود وي، لکه ابوهریرة چې د ده او د پلار په نوم کې یې اختلاف دی، چې آن تر ډېر شوقولونو پورې رسېدلی دی. خو مشهور قول دا دی چې نوم یې عبدالرحمن بن صخر دی.

۴- هغه راوي دی چې په کنیه کې یې اختلاف وي. لکه: سامة بن زید چې د هغه په کنیه کې اختلاف دی، ځینې وایی چې کنیه یې: ابوخارجة، ځینې وایی چې ابو محمد او ځینې وایی چې ابوعبدالله دی.

۵– هغه راوي دی چې زيات کنيه ولري. لکه: ابن جريح چې دوه کنيه نومونه لري، هغه: ابو خالد او ابو وليد دي.

٦– هغه راوي دی چې کنيه يې د ده د پلار د نوم سره يو شیٔ وي، او بالعکس وي. لکه: ابي مسلم الاغر بن مسلم المدني چې د ابو هريرة نه يې روايت کړئ دی. او يا ابي اسحاق الطالقاني ابن اسحاق او يا اسحاق بن ابي اسحاق السبيعي.

٧– هغه راوي دی چې د پلار نوم يې د ده د شيخ د نوم سره يو وي. لکه: الربيع بن انس چې د انس^رض^ نه يې روايت کړئ دی، چې پلار يې انس بکري او شيخ يې انس بن مالک^رض^ د نبي کريم^ص^ خادم دی.

٨– هغه راوي دی چې د شاګرد نوم يې د ده د شيخ د نوم سره يو وي لکه امام بخاري چې لده څخه امام مسام صاحب د مسلم کتاب روايت کړئ دی. او امام بخاري له مسلم بن ابراهيم الفراهيدي الازدي څخه روايت کړئ دی. خوکله چې يو شمېر کسان دغه روايت: (حدثنا مسلم عن البخارى عن مسلم) واوري داسې ګمان کوي چې دغه اسناد مقلوب دي او يا په هغه تکرار راغلئ دی. په داسې حال کې چې واقعيت بل شیٔ دی، هغه دا چې لمړی مسلم د امام بخاري شاګرد او دوهم مسلم د امام بخاري شيخ دی.

٩– هغه رواي دی چې نوم يې د شيخ او د شيخ الشيح د نوم سره يو وي. لکه: عمران عن عمران عن عمران، چې لمړی عمران، عمران قصير، دوهم عمران ابو رجاء العطاري او دريم يې ابن حصين دی، او مشهور صحابي بلل کېږي.

١٠– هغه راوي دی چې د ده نوم، د پلار نوم يې او د نيکه نوم يې سره يو وي. لکه: الحسن بن الحسن بن الحسن بن على بن ابى طالب^رض^.

۱۱– هغه راوي دی چې د ده کنیه او د زوجې کنیه یې سره یو وي. لکه: ابی أیوب وام ایوب چې دواړه صحابي دي.

په همدې شان هغه نومونه چې له کنیه څخه مجرد او یوازې وي او هغه کنیه چې له نوم څخه مجرد او یوازې وي او هغه مفرد نومونه، مفرد کنیه او مفرد لقبونه چې یوازې یو تن ورباندې مسمیٰ شوي وي د دهغه ټولو پېژندنه زیاته مهمه او ضروري بلل کېږي.

د مفردو نومونو له جملې څخه: احمد بن عجیان او سندر چې د زنباع الجذامي آزاد شده دی.

د مفردو کنیه وو څخه: ابوالعشراء چې نوم یې اسامه دی او ابو العبیدین چې نوم یې معاویه بن سبرة دی او د ابن مسعود[رض] له دوستانو څخه دی.

د مفردو القابو له جملې څخه: سفینه د رسول الله آزاد شده دی او نوم یې عمیر، مهران او یا صالح ذکر شوئ دی.

د نومونو او کنیه پېژندنه چې زیاته ضروري ده په همدغه شان د لقبونو، نسبونو پېژندنه هم زیات ارزښت لري او ضروري بلل شوی یې ده.

کېدی شي چې لقب د یوه راوي په اسم سره صورت موندلئ وي. لکه: سفینه چې د رسول الله[ص] خادم دی او کله کېدی شي چې لقب د کنیه په لفظ وي. لکه: ابو تراب چې حضرت علي کرم الله وجهه لقب دی.

د راوي نسبت کله په عیب، کله په صنعت او کله په حرفه سره کېږي. لکه: الاعرج، الخیاط او البزار.

کېدی شي چې د یوه سړي نسبت کومې قبیلې ته وشي چې د یوه پلار اولاده وي. لکه: القرشي او یا الدوسي... او داسې نور.

په همدغه شان وطن ته هم نسبت کېدی شي چې د انسانانو د هستوګنې ځای بلل کېږي. مثلاً: یوه ښار یا یوې قریې او یا یوې کوڅې ته لکه: البغدادي، الضیعي، قطیعي، دارالقطني، قطیعه او دارقطن چې په بغداد کې دوه ځایونه دي.

کله کېدی شي چې يو سړی غير له پلار نه بل چا ته منسوب شي. لکه: المقداد بن الأسود، چې اسود بن عبديغوث الزهري ته منسوب شوئ دی په داسې حال کې چې المقداد د اسود فرزندي دی او د هغه په کورکې اوسېده او په اصل کې امقداد بن عمرو بن ثعلبه الکندي دی.

کله د راوي نسبت مور ته هم کېږي. لکه: بلال بن حمامة، چې پلار يې رباح دی او اسماعيل بن عليه چې پلار يې ابراهيم بن مقسم الاسدي ولاء دی.

کله د راوي نسبت داسې پوه شي ته کېږي چې اصلاً په ذهن کې هم خطور نه کوي. لکه: خالد الحذاء، چې د موچيانو سره يې ناسته او ولاړه درلوده.

کله د رواي نسبت د لقب په توګه استعمالېږي. لکه: خالد بن مخلدالقطواني الکوفي. په دغه لقب ځکه ياد شوئ دی چې منسوب قطوان ته دی او قطوان هغه چا ته ويل کېږي چې پښې يې اوږدې او قدمونه يې سره نږدې وي.

د القابو او نسبونو د اسبابو پېژندنه يو اساسي او مهم شئ شمېرل کېږي، دا ځکه چې په ځينې حالتونو که يو څوک د ظاهرالحال په خلاف په يوه وصف ملقب کېږي او يا ورته منسوب کېږي. لکه: معاويه بن عبدالکريم الضال چې ضال د ګمراه په معنیٰ دی، خو دلته دغه شخص د مکې لاره غلطه کړې وه، نو په همدغه علت دی يې د (الضال) په نوم ملقب کړ، او يا عبدالله بن محمدالضعيف چې ضعيف ته منسوب شوی، او دغه سړئ د ضعيف جسم خاوند، خو د علم او پوهې په لحاظ ضعيف نه و.

حافظ عبدالغني بن سعيد الازدي د دغو دوو کسانو په هکله وايي: دوه لوی کسان دي چې دوه بد لقبونه ورسره يوځای شوی دي.

په همدې توګه الحسن بن يزيد القوي. د قوي وصف په دې خاطر ورکړ شوئ چې دی په عبارت کې قوي و. او ابوسعيد عقبة بن عمرالبدري، اګر چې د بدر په غزوه کې حاضر نه و، خو کور يې په بدر کې و، ځکه دغه ځای ته منسوب شوی دی.

بل مطلب چې پېژندنه یې د القابو او انسابو په موضوع پورې اړه لري هغه د (ولاء) موضوع ده چې په شرح کولو یې پیل کوو.

## د ولاء اقسام

**ولاء په درې قسمه ده:**

۱- ولاء العتاقه: دا ډول ولاء ډېره موجوده ده، د احادیثو زیات شمېر راویان داسې قبیلې ته منسوب شوی چې د هغه قبیلې لخوا آزاد شوی دي. لکه: اللیث بن سعد المصري الفهمي. د فهم قبیلې ته په دې خاطر منسوب شوی چې د فهم د قبیلې لخوا آزاد شوی دی.

۲- ولاء په اسلام کې: که یو څوک د یوه مسلمان شخص په واسطه مسلمان شوی وي، د هغه قبیلې ته منسوب شوئ دی. لکه: محمد بن اسماعیل البخاري الجعفي، چې نیکه یې مغیره دیمان بن اخنس الجعفي په واسطه مسلمان شوئ، نو هغه ته منسوب شوئ دی.

۳- د قرارداد ولاء: دغه ولاء ته (ولاءبالحلف) هم وایی چې د کمک او نصرت د قرارداد په واسطه مینځ ته راځي. لکه: امام مالک بن انس الاصبحي التیمی، دغه ولاء د حلف ده ځکه چې قوم یې د تیم قریش موالي دی چې د حلف او قرارداد په واسطه مینځ ته راغلی ده.

د یادونې وړ ده چې د (موالي) لفظ یو مشترک لفظ دی چې ډېرې معناګانې لري. مثلاً: اعلی مولی یعنې مُعْتِق د تاء په کسرې سره چې د آزادونکي په معنیٰ دی، بل د مُحَالف په معنیٰ هم استعمالېږي یعنې هغه څوک چې یو شخص یې مسلمان کړئ وي.

اسفل مولی یعنی هغه څوک دی چې آزاد شوئ وي او د محالف په معنیٰ هم استعمالیږي. (محالف) لام یې مکسور دی یعنې هغه څوک چې د بل شخص په واسطه مسلمان شوئ وي.

د موالي کلمه په خاصو مواردو کې استعمالیږي.

د موالي د پېژندنې د فایدو څخه یوه فایده دا ده چې د هغه ګمان څخه مخنیوی وشي چې متعدد د یوه په توګه او یو د متعدد په توګه ونه پېژندل شي. په همدغه شان د خویندو او ورونو په پېژندنه هم دغه فایده مرتبه ده چې که څوک د بل چا سره د پلار په نوم کې یو شی وي امکان شته چې په دواړو باندې فکر وشي چې دوی به ورونه وي ځکه چې په پلار کې سره یو شان دي. د مثال په توګه: عبدالله بن دینار او عمرو بن دینار چې دواړه له یوې طبقې څخه دي، خو دوی ورونه نه دي اګر چې د پلرونو نومونه یې یو دي.

## د حدیث تحمل او د هغه اداء

د حدیث تحمل: د حدیث تحمل له شیخ څخه د حدیث اخیستل او روایت کول دي، خو په دې شرط چې روایت کونکی د فهم او تمیز خاوند وي.
د حدیث اداء: بل چا ته د حدیث ویل او بیانول دي کوم چې تحمل کړئ یې دی.
د هغه چا چې روایت یې دلیل کېدی شي هغه باید عادل او د ضبط خاوند وي.

## د تحمل طریقې او د اداء صیغې

۱- سماع: سماع د حدیث اورېدل دي له شیخ الحدیث څخه همدارنګه املاء کول د حدیث دي د شیخ الحدیث د حفظ څخه او یا د شیخ له کتاب څخه د حدیث ویل دي. چې دغه طریقه د تحمل د طریقې لوړه درجه بلل کېږي.

د حدیث په اداء کولو کې داسې ویل کېږي: سمعت او یا سمعنا فلاناً، حدثنی او یا حدثنا فلان، اخبرنی او یا اخبرنا، انبأنی او یا نبأنی او یا أنبأنا او نبأنا.
لمړی لفظ په ډېر واضح شکل په سماع دلالت کوي.

۲- قرائت: شیخ الحدیث ته د حدیث لوستل او قرائت کول دي. ځینې پوهان دغه طریقه په (عرض) مسمی کړې ده. عرض یعنې شیخ الحدیث ته د حدیث پیش کول او وړاندې کول دي. یعنې قرائت کونکی چې کوم شئ قرائت کوي، په حقیقت کې یې شیخ ته وړاندې کوي.

کېدی شي چې د حدیث طلب کونکی خپل شیخ ته د حفظ څخه حدیث قرائت کړي او یا یې د خپل کتاب څخه ووایی او یا یې بل څوک شیخ ته قرائت کړي او دی یې واوري.

په همدې شان کېدی شي چې شيخ حافظ د هغه څه چې ورته قرائت کېږي او یا خو د هغه حافظ نه مګر اصل يې له ځان سره ساتلی وي او یا یوه بل ثقه شخص د ځان سره ساتلی وي.

په اداء کې داسې ویل کېږي: (قرائت) او یا قُرِئ علی فلان و انا اسمع.

همدا رنګه کېدی شي چې په مخکینیو کلمو او صیغو يې تعبیر کړئ خو په دې شرط چې په قرائت يې مقید کړئ. مثلاً داسې وایی: حدثنی فلان قراءةً علیه.

پیش کول (عرض) له سماع سره چې له شیخ نه يې اورېدلی وي، مساوي دي او يا له هغه نه په مرتبه کې ښکته او يا لوړ بلل کېږي؟

په دې هکله څو قوله موجود دي، خو راجح قول دا دی چې سماع له عرض نه په مرتبه کې لوړه ده، دلیل يې د پیغمبر د سلوک نه متابعت کول دي چې قرآن به يې اصحابو ته قرائت کاوه، او سنت به يې دوی ته ورزده کاوه.

٣- اجازه: اجازه عبارت ده له اذن ښخه د حدیث په روایت کولو او یا د هغه په کتابت او لیکلو.

اجازه دغه لاندې صورتونه لري:

الف: لمړی صورت دا دی چې یوه معین شخص ته د معین شئ د روایت کولو اذن وشي مثلاً داسې وویل شي: (اجزتک أن نزوعنی صحیح مسلم). یعنې تا ته اجازه ده چې له ما نه صحیح مسلم روایت کړې.

ب: یوه معین شخص ته د غیر معین شئ د روایت کولو اجازه ورکول دي. مثلاً شیخ ووایی: اجزت لک روایة مسموعاتی.

ج: یوه غیر معین شخص ته د معین شئ د روایت کولو اجازه ده. مثلاً داسې ووایی: اجزت امن ادرکنی، روایة صحیح البخاری.

د: یوه غیر معین شخص ته اجازه ورکول دي، چې غیر معین شئ روایت کړیز مثلاً داسې وویل شي: اجزت لأهل زمانی روایة مسموعاتی.

هـــ: معدوم ته اجازه کول دي تر څو د موجود متابعت وکړي. لکه: اجزت لفلان و من یولد بعد ذلک بکذا.

۴– مناوله: مناوله د ورکولو په معنیٰ او دوه ډوله ده:

هغه مناوله ده چې د اجازې سره یو ځای وي، دا ډول مناوله د اجازې لویه او مهمه نوعه بلل کېږي، او شکل یې دا دی چې شیخ خپل شاګرد ته اصل حدیث او یا د مقابلې فرعي په روایت کولو اجازه وکړي او ورته ووایی: هذا روایتی عن فلان فاروه عنی. یعنې د فلاني شخص مې دغه روایت دی او ته یې له ما څخه روایت کړه.

د منوالي شرط: د حدیث اصلي نسخه باید له شاګرد سره دعاریت یا د هبې او یا د تملیک په توګه موجوده وي تر څو وکولئ شي چې له هغې نه نقل وکړي.

بله هغه مناوله ده چې اجازه ورسره نه وي. مثلاً د حدیث اصل او یا یې قائم مقام هغه ته ورکړي او یوازې ورته ووایی: هذا اسماعی او روایتی عن فلان.

**د جمهورو علماوو له نظره دغسې مناوله د اعتبار وړ نه ده د اجازې او یا د مناولې د اداء کولو طریقه:**

اجازې او یا مناوله په دغه شان اداء کېږي چې راوي ووایی: حدثنی فلان اجازة او مناولة وکذا اخبرنی اجازة او مناولة، او داسې نور.

۵– مکاتبه: مکاتبه دا ده چې شیخ په خپل خط حاضر او یا غائب شخص ته او یا د ده په امر سره هغه څه چې اورېدلی وي، ولیکي.

**مکاتبه هم په دوه ډوله ده:**

۱– هغه مکاتبه ده چې اجازه هم ورسره وي. دا ډول مکاتبه په صحت او قوت کې د هغه مناولې سره برابره ده چې اجازه ورسره وي.

۲– هغه مکاتبه ده چې اجازه ورسره نه وي. د دغه ډول مکاتبې حکم د هغه مناولې د حکم په شان دی چې پرته له اجازې څخه وي.

**د مکاتبې د اداء کولو طریقه:**

د مکاتبې د اداء کولو طریقه دا ده چې راوي ووايي: حدثنی فلان مکاتبة، او یا ووايي: کتب الی فلان، او یا داسې نور عبارتونه.

٦- اعلام: اعلام دا دی چې شیخ الحدیث ووايي: ان هذالکتاب من مسموعاتی عن فلان.

٧- وصیت: وصیت دا دی چې شیخ الحدیث مرګ ته د نېږدي کېدو او یا د سفر په حال کې خپل کتاب وصیت کړي او داسې ووايي: اُوصی الی فلان، او یا داسې نورې کلمې ووايي.

٨- وجادت: وجادت دې ته وايي چې یو څوک داسې حدیث پیدا کړي چې د یوه شیخ په خط او کتابت لیکل شوئ وي چې دی یې پیژني او د هغه په شان په بل عبارت.

هغه مروي چې د وجادت په واسطه روایت شوئ وي منقطع له جملې څخه شمېرل کېږي.

د اعلام، وصیت او وجادت په روایتونو کې د شیخ اجازه شرط ده.

## د حدیث کتابت، ضبط او تصنیف

**د حدیث کتابت حکم:**

اصحاب کرام او تابعین(رض) د حدیث په کتابت او نوشته کولو کې مختلفې نظریې لري چې په لاندې ډول یې بیانوو:

**الف:** ځینې صحابه لکه ابن عمر، ابن مسعود او زید بن ثابت(رض) وایی چې د حدیث کتابت مکروه دی.

**ب:** ځینې نور لکه عبدالله بن عمرو، انس بن مالک، عمر بن عبدالعزیز او اکثر اصحاب د حدیث کتابت او لیکل جائز بولي.

**ج:** وروسته د حدیث په اجماع منعقده شوې ده. خو بیا هم اختلاف باقي پاتې دی. که چېرته احادیث و نه لیکل شي د له بینه تللو امکان یې زیاتېږي، خصوصاً په وروستنیو زمانو کې.

د احادیثو په کتابت کې د علماوو د اختلاف سبب دا دی چې په دې هکله د اباحت او نهی احادیث په تعارض کې دی. د مثال په توګه:

**له کتابت څخه نهی حدیث:** امام مسلم داسې روایت کړئ:

اَنَّ رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: لا تکتبوا عنی شیأً الا القرآن و من کتب عنی شیأً غیر القرآن فلیمحه.

**د حدیث د کتابت د اباحت حدیث:** چې امام بخاري او امام مسلم دواړو تخریج کړي دي: ان رسول الله(ص) قال: اکتب،ا الأبی شاهٍ.

د حدیث د کتابت د اباحت په هکله نور احایث هم شته دي له هغې جملې څخه یو دا دی چې عبدالله بن عمرو ته د حدیث د کتابت اجازه ورکړل شویې ده.

د حدیث د کتابت د اباحت او په هغه څخه د نهې، احادیثو تر مینځ جمعه:

علماوو دحدیث د کتابت د جواز او نهې احادیثو تر مینځ په لاندې طریقو جمع او توفیق کړئ دی: د کتابت اجازه هغه چا ته شوېې ده چې د نسیان احتمال یې زیات وي. او نهې که کتابت څخه د هغه چا د پاره ده چې له نسیان څخه په امن وي.

ځینې علما وایی چې د حدیث له کتابت څخه نهی په هغه وخت کې وه چې د اختلاط احتمال له بینه ولاړ، نو د حدیث د کتابت اجازه ورکړل شوه، او له کتابت څخه نهې منسوخه شوه.

## د حدیث لیکل او د هغه لیکونکی:

د حدیث کتابت او لیکل باید په واضح او جلي خط صورت ومومي او مشکلو کلمو ته شکل ورکړل شي، په ښه توګه یې نقطې کیښودل شي. د حدیث لیکونکي ته لازمه ده چې د حدیث د تحقیق او ضبط په خاطر د شکل او نقط ایښوداو له لحاظه همت وکړي تر څو له لفظي اشتباهګانو او کلمو د التباس څخه مخنیوی وشي. مشکلو کلمو ته په ښه توګه شکل ورګړي، بالخصوص د اعلامو نومونو ته پوره پاملرنه وکړي. ځکه د هغو صحت په ماقبل او مابعد نه معلومېږي.

د لیکونکي خط باید واضح، روښانه او د خط لیکنې د مشهورو قاعدو مطابق وي. لیکونکی باید خپلې خاصې اصطلاحګانې په رمز سره افاده نه کړي، خو که په رمزي توګه یې استعمال کړي په دغه صورت کې ټول خلک ترینه استفاده نه شي کولی او په هغو به ونه پوهېږي.

کله چې د حضرت محمد^ص نوم ذکر کېږي، درود او سلام د په پوره او مکمله توګه ولیکي او د تکرار لیکلو څخه د نه ستومانه کېږي او که په اصل کې یې څه کموالی موجود وي ځان دې په هغه نه مقید کوي. کله چې د الله نوم ذکر کېږي پرهغه د ثنا لیکل نه هېروي. لکه: (عَزَّ وَجَلّ). کله چې د اصحابو او علماوو نوم ذکر کېږي په اصحابو د (رض الله عنهم)، او په علماوو د (رحمة الله علیهم) ولیکي.

یوازې په درود او یا یوازې په سلام لیکو اختصار کول مکره دي. د درود او سلام اختصار کول یوازې په (ص) او یا په (صلعم) مکروه دي. د حدیث په لیکونکي

لازمه ده چې د ضرورت په وخت کې هغه په مکمله توګه (صلی الله علیه وسلم) ولیکي.

**د اصلي نسخې سره مقابله او د هغه څرنګوالی:**

د حدیث په لیکونکي لازمه ده چې خپله نوشته د اصلي نسخې سره چې له شیخ څخه یې تر لاسه کړې ده مقابله او مقایسه کړي. اګر چې اصلي نسخه یې د اجازې په طریقه تر لاسه کړې وي.

**د مقابلې څرنګوالی او کیفیت:**

د حدیث لیکونکی او شیخ باید هر یو خپل کتاب د ځان سره ولري او د دواړو متن دې واوري او که چېرته نو بل ثقه شخص په بل وخت کې د حدیث د لیکونکي نوشته د قرائت او یا وروسته تر هغه مقابله کړي، دا هم کافي بلل کېږي، او که د هغه مقابله د هغه فرعي سره چې د اصل سره یې مقابله ک شوې ده، صورت وموم‍ي د مقابلې دا شکل هم کفایت کوي.

**د حدیث سماع:**

له مشائخو څخه د حدیث اخیستل د حدیث سماع بلل کېږي. خو شرط دا دی چې د حدیث طلب کونکی د شیخ الحدیث د لفظ د اوریدو او قرائت په وخت کې بیداره او هغه ته متوجه وي، او په کوم بل شَي باندې چې د مسموع د اخلال سبب وګرځي لکه خبرې کول، قرائت او یا کتابت مصروف نه وي.

**عرض الحدیث (د حدیث پیش کول):**

د حدیث عرض کول او پیش کول عبارت له هغه حالت څخه دي چې د حدیث طلب کونکی د حدیث د مقابلې په وخت د خپل شیخ سره مخامخ شي، برابره ده چې د شیخ سره خپل اصلي کتاب موجود وي او یا یې د خپلې حافظې په مرسته وڅېري او یا هغه د بل ثقه سره مقابله او مقایسه کړي، او یا یې شاګرد د شیخ د اصلي نسخې سره مقابله کړي، او یا یې د هغه فرعي سره مقابله کړي چې مخ کې د مخه د شیخ د اصلي نسخې سره مقابله شوې وي.

**دحديث اسماع:**

په حديث باندې صحبت کول عبارت له اسماع څخه ده. خو شرط يې دا دی چې شيخ د اسماع او تحديث په وخت کې بيداره وي په بل کوم شيءٔ باندې چې د اسماع د اخلال سبب وګرځي، مشغول نه وي. بل دا چې د حديث اداء بايد له اصل څخه وي چې اوريدلی يې دی. او يا له هغه فرعي څخه يې اداء کړي چې د اصل سره مقابله شوې وي، او که دغه کار مشکل و، بيا د هغه په اجازه سره جبيره کړي.

**د حديث د لټولو او طلب د پاره سفر:**

د حديث د طلب کولو په خاطر سفر کول عبارت له دې څخه دی چې شخص خپل وطن پرېږدي او هغه متون او اسانيد تر لاسه کړي چې د خپل وطن د راويانو څخه يې نه دي تر لاسه کړي. د حديث په طلب کولو کې له متن څخه زياته توجه او پاملرنه سند ته کېږي.

صالح سلفو د احاديثو د جمعه کولو په خاطر زياته توجه کړې ده او دغه لاره کې يې خپل زيات ارزښت لرونکی وخت صرف کړی چې د داسې حالتونو تحمل کول عقل ته هم د منلو وړ نه دی.

راويانو زيات احاديث د ګڼ شمېر شيوخو څخه روايت کړئ، د دغه مطلب په خاطر يې نېږدې او لېرو منطقو ته سفرونه کړي او په دغه لاره کې يې زيات تکليفونه تحمل کړي او خپل ژوند يې په اطمينان سره تر سره کړئ دی.

خطيب بغدادي د (الرحلة فی طلب الحديث) په نوم کتاب ليکلی او په هغه کې يې د اصحابو، تابعينو او له هغوی څخه وروسته د هغه کسانو چې د احاديثو د طلب او جمع کولو په خاطر يې سفرونه کړي او زيات تکليفونه يې ګاللي، د هغوی ټولو حالات او اخبار راجمع کړي چې اوريدل يې هر انسان په حيرت کې اچوي، هغه څوک چې هيله ولري تر څو دغسې قصې واوري او ځان پرې خبر کړي، نو ياد شوی کتاب د مطالعه کاندي تر څو د دوی د تشويق او همت د تقويې باعث وګرځې او دغسې مقاصد تر لاسه کړي.

**په حدیث کې د تألیف او تصنیف انواع:**

څوک چې په حدیثو او یا نورو علوموکې د تصنیف توان ولري لازمه ده چې دغه مهمه وظیفه سرته ورسوي، مفترق احادیث را ټول کړي، مشکل یې توضیح او غیر مرتب احادیث ترتیب کاندي د غیر مفهرس احادیثو فهرست ترتیب کړي او طلابوته د ښې استفادې ساده او لنډه لاره آواره کړي، او نه ښایي چې خپل کتاب مخ کې له تهذیب او ضبط څخه خپور کړي، خپل تصنیف داسې عیار کړي نفعه یې زیاته او عامه وي.

د علوم الحدیث لویو علماوو په دغه علم کې په مختلفو شکلونو او متنوعو انواعو، تألیفونه کړي چې د هغو انواع او اقسام په لاندې توګه ذکر کوو:

الف: جوامع: جامع هغه کتاب ته ویل کېږي چې په هغه کې مؤلف ټول بابونه او برخې چې په عقایدو، عباداتو، معاملاتو، سیر، مناقب، ترغیب، ترهیب، فتني او د قیامت د ورځې خبرونو پورې تړاو لري را ټول او جمع کړی وي. لکه: د (امام بخاري صحیح جامع).

ب: مسانید: مسند هغه کتاب ته ویل کېږي چې په هغه کې د هر صحابي مرویات په ځانګړي توګه پرته لدې چې په حدیث کې د بحث موضوع په نظر کې ونیول شي راټول او جمع شوی وي. لکه: د (امام احمد بن حنبل مسند).

ج: سنن: هغه کتابونه دي چې د فقه د ابوابو په ترتیب تصنیف او تألیف شوئ وي. دا ډول کتابونه د فقهاوو د پاره د احکامو په استنباط کې ډېره ښه مرجع بلل کېږي.

د جامع کتابونو سره یې فرق دا دی چې په سننو کې هغه مطالب چې په عقایدو اوسیرت پورې اړه لري او د فقهې احکامو احادیث پکې راجمع شوی دي. لکه: د (ابو داود سنن).

د: معاجم: معجم هغه کتاب دی چې احادیث یې د شیوخو په نومونو ترتیب ا د هجاء د حروفو په ترتیب راټول شوی او جمع شوی وي. لکه: (المعاجم الثلاثة) چې معجم الکبیر، معجم الاوسط او معجم الصغیر کتابونه دي.

هـــ: العلل: د علل کتابونه هغه دي چې په هغو کې معلول احادیث راجمع شوی او د علتونو اسباب یې هم بیان شوی وي. لکه: د (ابن ابی حاتم العلل) او د (الدارالقطنی العلل).

و: الاجزاء: جزء هغه کوچنی او وړوکی کتاب دی چې په هغه کې د یوه راوي مرویات او یا هغه احادیث چې په یوه موضوع پورې مربوط په تحلیلي طریقه سره جمع شوی وي. لکه: په لمانځه کې (جزء رفع الیدین) چې د امام بخاري تألیف دی.

ز: الاطراف: دا هغه کتاب دی چې مؤلف په هغه کې د هر حدیث یو طرف ذکر کوي چې د حدیث په نوره برخه دلالت وکوي بیا د هر متن اسناد په شامله او یا په ځینې نورو کتابونو پورې په مقیده توګه ذکر کړئ وي. لکه: د (تحفة الاشراف لمعرفة الاطراف) کتاب.

ح: المستدرکات: مستدرک هغه کتاب ته وایی چې مؤلف داسې احادیث پکې تألیف او جمع کړي چې د بل کتاب په شرایطو برابر وي خو له هغه نه پاتې شوي وي. لکه: ( المستدرک علی الصححین) د ابي عبدالله الحاکم تألیف.

**د حدیث د روایت طریقه او شکل:**

د حدیث د روایت د شکل څخه هدف د هغه کیفیت او آدابو بیانول دي چې حدیث ورباندې روایت شوئ دی، او لازمه ده چې دغه آداب او اعمال د حدیث په روایت کې رعایت شي.

په دغه مورد کې ځینې اصطلاحګانې د مخه بیان شوي، خو لازمه ده چې د علماوو د نظریو څخه په دغه مشخص مورد کې یادونه وشي:

١- آیا جواز لري چې یو راوي د خپل کتاب نه یو څه روایت کړي، په داسې حال کې هغه ټول یې په یاد نه وي پاتې؟

په دغه مورد کې علماء درې نظریې لري: افراطي یا متشدد، تفریطي یا متساهل او متوسط یا معتدل.

الف: متشددين: دوی وايي: هغه احاديث د حجيت او استدلال وړ دي چې راوي يې يوازې د خپل حفظ نه نقل کړئ وي. دغه نظر له امام مالک، امام ابوحنيفه او ابوبکر صيدلاني نه چې شافعي مدهب دی نقل شوئ دی.
ب: متساهلين: هغه کسان دي چې له هغه نسخو څخه يې روايت کړئ کومې چې د خپل اصل سره مقابله شوي يې هم نه دي. له دې جملې څخه ابن لهيعه دی.
ج: معتدلين: د دوی نظر د جمهورو علماوو نظر دی، هغوی وايي: کله چې راوي په تحمل او مقابله کې کوم شرطونه چې مخ کې يادونه ورڅخه شويې ده د حديث په روايت کې رعايت کړی وي، روايت له کتاب نه جائز دی اګر که کتاب ورڅخه غائب شوی هم وي، خو شرط دا دی چې غالب ګمان د هغه صحت او سلامت له تغيير نه تأکيد کاندي، بالخصوص په هغه مورد کې چې تغيير پکې مخفي پاتې وي.
**د ضرير يعنې د ړانده کس د روايت حکم:**
کله چې ړوند کس حديث واوري خو ونشي کولئ چې هغه حفظ کړي مګر د هغه د ضبط، حفاظت او په کتاب کې د ليکلو په خاطر د يوه ثقه شخص نه استعانت او مرسته وغواړي د کتاب د قرائت په وخت کې له احتياط څخه کار هم واخيستل شي داسې چې په غالب ګمان د تغيير څخه محفوظ وي. اکثر علماء د دغه شخص روايت جائز بولي او د هغه بينا عامي شخص په شان يې بولي چې حديث حفظ کولی نشي.
**په معنی سره د حديث روايت او شرطونه يې:**
علماوو په معنی سره د حديث په روايت کې اختلاف کړئ، ځينې يې ممنوع او ځينې نور يې جائز بولي چې په لاندې توګه يې توضيح کوو:
الف: د حديث، فقه او اصول فقه يو شمېر عالمان له هغوی څخه ابن سيرين او ابوبکر رازي، په معنیٰ سره د حديث روايت جائز نه بولي.
ب: جمهور سلف د حديث، فقه او اصول فقه متأخر عالمان چې د څلورو مذهبو امامان هم پکې دي، په معنیٰ سره د حديث روايت جائز بولي، خو په دې شرط چې

رواي د حديث په صحيح معنیٰ باندې يقين ولري او په ښه توګه يې اداء کړي.

هغه عالمان چې په معنیٰ سره د حديث روايت ته جواز ورکوي دغه لاندې شرطونه يې هم وضع کړی دي:

١- راوي بايد د حديث په الفاظو او د هغه په مقاصدو پوره پوه وي.

٢- په هغه څه چې د الفاظو معاني هغه په بر کې نيسي ښه پوه وي.

دا ټول د هغه احاديثو په مورد کې دي چې تصنيف شوی نه دي، خو هغه احاديث چې په کتابونو کې تصنيف شوي دي د هغو روايت په معنیٰ سره جواز نه لري او د هغه الفاظو تغيير هم جواز نه لري کوم چې په حديث کې ذکر شوی دي. دا ځکه چې د روايت بالمعني جواز د ضرورت په خاطر دی يعنې په هغه وخت کې چې د راوي څخه د حديث د کلمو نه کومه کلمه غائبه شوی يې وي. خوکله چې احاديث په کتابونو کې تثبيت شوی وي د روايت بالمعني د پاره ضرورت نه ليدل کېږي.

په همدې ډول په هغه راوي چې حديث بالمعني روايت کوي لازمه ده چې وروسته د حديث له روايت نه داسې ووايي: (او کما قال) او يا (او نحوه) او يا (او شبهه).

لحن په حديث کې:

لحن په حديث کې عبارت دی لدېنه چې د حديث په قرائت کې خطأ او اشتباه وشي.

د لحن لوی عوامل او اسباب دا دي:

الف: دصرف، نحو او لغت په علومو ناپوهي. د احاديثو په طالب لازمه ده چې د صرف او نحو علوم ښه زده کړي تر څو د لحن او تصحيف نه وژغورل شي.

خطيب بغدادي د حماد بن سلمه قول نقلوي او داسې وايي: (مثل الذين يطلب الحديث و لايعرف النحو مثل الحمار عليه مخلاة لاشعير فيها) يعنې د هغه کس مثال چې حديث لټوي او په نحو پوه نه وي د هغه حمار (مرکب) په شان دی چې پر شا يې له اربشو نه خالي توبره بار وي.

ب: د کتابو او ورقو څخه د حديث اخيستل دي پرته لدې چې د احاديثو د شيوخو څخه يې زده کړي.

مخ کې يادونه وشوه چې له شيوخو څخه د حديث زده کړه او تحمل مختلفې طريقې لري  چې يوه يې له بلې څخه قوي ده او تر ټولو قوي طريقه له شيخ څخه د هغه د لفظ اورېدل (سماع) دی او يا شيخ ته د حديث قرائت کول دي.

لدې خاطره لازمه ده، هر څوک چې د حديث په علم مصروف وي د رسول الله صلی الله عليه وسلم حديث د معرفت او تحقيق له خاوندانو څخه زده کړي تر څو د خطأ او تصحيف نه په امان کې شي.

د حديث طالب او لټونکي ته مناسبه نه ده چې د احاديثو کتابو او ورقو ته قصداً مراجعه وکړي او حديث ترې واخلي او روايت يې کړي او شيوخ له ياده وباسي. په داسې حالت کې خطأ، اشتباهګانې او تصحيف لا زياتېږي. له همدې کبله متقدمينو علماوو ويلي: (لا تأخذ القرآن من مصحفی ولا الحديث من صحفی) يعنې قرآن له مصحفي او حديث له صحفي نه مه اخله.

مصحفي هغه چا ته ويل کېږي چې قرآن له مصحف نه يادوي شيوخو او د قرائت عالمانو ته مراجعه نه کوي.

صحفي: هغه څوک دی چې احاديث له اوراقو څخه جمع کوي، د حديث شيوخو ته مراجعه نه کوي.

غريب حديث:

تعريف: غريب په لغت کې هغه چا ته ويل کېږي چې له اقاربونه يې لېرې وي. په دې ځای کې هغه الفاظ دي چې معنا يې خفي وي.

د قاموس ليکونکي ويلی: غَرُبَ د کَرُمَ په شان د غَمُضَ ا خَفِيَ په معنیٰ دی.

په اصطلاح کې: د حديث غريب هغه غامض لفظ دی چې د حديث په متن کې واقع وي او د استعمال د قلت په خاطر له فهم نه لېرې وي.

د غريب الحديث اهميت او مشکل: د غريب الحديث پېژندنه ډېر مهم فن دی او په هغه نه پوهېدل د اهل حديث د پاره ښه نه بلل کېږي. خو په هغه کې فکر کول هم مشکل دی، څوک چې وغواړي چې ههغ وپېژني بايد له زيات فکر او دقت نه کار

واخلي او تقوی د قضاوت د پاره اساسي وګرځوي او د الله تعالی د رسول کلام یوازې په ګمان تعبیر نه کړي.
صالح سلفو په دې مورد کې زیات دقت کړئ دی.
د داسې حالت ښه تفسیر دا دی چې په بل روایت کې بیان شوئ وي. د عمران بن حصین د حدیث په شان چې د مریض د لمانځه په هکله داسې وایي:
صَلِّ قائماً فان لم تستطع فقاعداً، فان لم تستطع فعلی جنب، د (علی جنب) کلمه د حضرت علی کرم الله وجهه حدیث تفسیر کړئ ده چې لفظ یې داسې دی: (علی جنبه الأیمن مستقبل القبلة بوجهه) سنن دارالقطني.
په دې برخه کې مشهور کتابونه:
١- غریب الحدیث. چې د ابي عبیدالقاسم بن سلام تألیف دی.
٢- التهایة فی غریب الحدیث والأثر. چې په دې برخه کې ډېر ښه کتاب دی.
٣- الدرالنشیر. د امام سوطي تألیف او د (النهایة) خلاصه ده.
٤- الفائق. د زمخشري تألیف.